رومان

# زویه احتیاط

لیکوال: واحد نظری

بسم الله الرحمن الرحيم

هر څوک که زر واري ګناهکاره هم وي، دوه زره او پنځه سوه دليله د خپلي بيګناهی لپاره لري.

د کتاب نوم: زويه احتياط
ليکوال: عبدالواحد نظری

ډیزاین: ولید احمد جیلان
لومړی چاپ ۱۳۹۰
تیراژ: ۱۰۰۰ ټوک

## پر "زویه احتیاط" یوڅوخبري

طنزعربي لغت دئ چي معنائې ريشخندول، مسخره کول، ډرۍ وهل اوکړل دي (فرهنګ فرزان ـ ۲ ټوک). په ځينو قاموسو کي ئې طنز ته "په نازاوکنايه خبري کول" هم کښلي دي (غياث). په پارسي اوپښتوکي ئې هم دطنزلغت منلی دئ اوماته نه معلومېږي چي دطنز ويی دنوو لغاتونو دجوړوونکوله بريده څرنګه اوولي په امان پاته سوی دئ؟ په طنزي ليکنوکي ليکوال دټولنيزو مناسباتو هغه ناوړه اړخ په هنري ژبه بيانوي چي عادي ليدونکو اوکتونکوته ناوړه نه ايسي.دطنزليکونکي اول کمال دادئ چي دغه ناوړه اړخ تشخيصوي اووينې يې، دوهم کمال ئې بيادادئ چي دطنزپه هنري ژبه ئې انتقادوي.

په هنري ادبياتوکي دطنزکلمه کله کله دهجو اوکميډۍ سره ورته ښوول کېږي.مګردامفاهيم توپيرڅله لري. دطنز اوهجو توپيرپه دې کي دئ چي هجوصريحه اوڅرګنده غندنه ده. په طنزکي هومره صراحت نه وي لکه په هجوکي

چي وي. په کميډي کي بيازياتره دخنداعنصرمطرح وي خوپه طنزکي دخنداپرځنګ ددانتقاد وړشخص، مقام ياطبقې مسخره کول هم په پام کي دي. ګويا طنزټولنيز اصلاحات په خندوونکې بڼه بيانوي. طنزي ادبيات دنثراونظم دواړي برخي لري. په دواړوکي دطنزنګار مراد دانسانانو،دټولنو،دسياس واکمنانو،داجتماعي موسسو پرناوړو خواووباندي ټوکي کېږي. ټوکي دطنزي ادبياتو هدف نه دئ، بلکي هدف ته درسېدلويوه وسيله ده.

تر کومه ځايه، چي ماته د ادب د دغي برخي د پښتو او پارسي شاعرانو او ليکوالو د ژوندد حالاتو او زمانې په باب د څېړني امکانات برابر سوي دي، د دوی ټولو په برخو کي د عباس اقبال مرحوم څېړنه او استنباط راته رشتيا ښکاري . ځکه به نو د ده د استنباط ديوې برخي ترجمه په لږ څه بدلون سره له خپلي يوې ليکني څخه دلته هم راوړم. دی وايي:

په هغه ټولنه کي، چي غړې ئې له زدکړي بې برخي او د اخلاقي ودي له نعمته بې نصيبه وي ، د ظلم و فتنو و فقر و بيوزلۍ لړۍ روانه وي، نود ټولني د ادارې او چارو واګي د يو څو تنو داسي مقتدرو او خپلسرو چارواکو په لاس کي ولوېږي، چي د مال و پيسو له ټولولو او د نفساني لذتونوله پوره کولو پرته بل کوم مقصد نلري . دغه ډله خپلو هدفوته د رسېدو په لار کي دهيڅ راز اخلاقي او

انساني پرنسيبونو پابند نه وي . کله چي اقتدار ته ورسېږي او د ترلاس لاندي کسانو د سر و مال و ننگ وناموس اختيار ومومي، بيا نو هر هغه څوک له منځه وړي او تحقيروي يې، چي د واکمنو له چلند سره مخالفت کوي او خلک و اخلاقي فضايلو ته رابولي، په نتيجه کي د فضل و تقوا څښتنان يا گوښه کېږي، يا د سر او ځان له بېړي يا د گوله مړي، د پيدا کولو په هيله د واکمنو لار و روده پسې پالي. په دې ډول پر اخلاقياتو او فضايلو باندي خط را کش سي.

عالمان،قاضيان، عسکر و حاکم و ساتونکي د دې پر ځای، چي خلک سمي لاري ته راوبولي، ښو کارونوته هڅوونکي او له بدو څخه ژغورونکي سي، ددې برخلاف هغوی د آمرانو و پاچهانو لاره غوره کړي.... په دې پسې نه گرزي، چي څوک بد پر وايي که ښه... د دوی په عقيده سمه لار هغه ده، چي انسان د مادي او نفساني لذتونو مزله ته ورسوي.... څرگنده خبره ده، چي په دغه راز حالاتو کي به نو د هغو کسانو حال څه وي؟ چي په دغو فجايعو او ناروااوو ککړسوی نه وي .دوی به دد غو حالاتو په ليدلو و کتلو څومره خواشيني کېږي او څومره به ورته خښمېږي. په عمومي توگه د دغو کسانو خواشيني او عکس العمل په دوه رازه څرگند ېږي. يا د پخوانيو غوره حالاتو په ارمان اوښکي تويوي او يا د خپلو هم عصرو پر ناپوهۍاو

حماقت باندي ملنډي وهي او د هغوی ټولو کړو وړو ته د ریشخند او استهزاء په سترګه ګوري. کله چي دغه کسان د اعیانو و اشرافو په حرکاتو و سکناتو ډرۍ وهي او پر خاندي ، دا خندا او ملنډي ئې خوشي د وخت تېرولو او ساتېري په مقصد نه وي، بلکي په هغه کي د انتقام غوښتني او غچ اخیستني خورا سخت و شدید میلان نغښتي وي.(وګ: کلیات عبید زاکانی ـ د سریزي (ص،ش) مخونه،تهران ـ ۱۳۲۱ش)

جګدیش چندرودهاون هم په "منټو نامه" کي، چي په اردو ژبه د مشهور نقاد او طنزنګار سعادت حسن منټو (۱۹۱۲-۱۹۵۵ع) د ژوند د حالتو او آثارو یوه مجموعه ده، د طنز و مزاح په باب تقریباً همدغه شان نظر لري. دی لیکي: ترجمه "... طنزنګارپه داسي یوه ټولنه کي خپل ټولنیز مسؤلیتونه د خپل فن په واسطه په ډېره ښه توګه سر ته رسوي ، چي هورې د واکمنو چلند ظالمانه وي، د استبداد اوظلم دوره مسلطه وي، ژبي ګونګي کړه سوي وي، پر ذهنونو باندي قلفونه لګول سوي وي او د سیده تنقید کولو زمینه موجوده نه وي..... له طنز سره د مزاح چاشني ضرور ده. که په هغه کي د مزاح عنصر شامل نه وي، د مطلقي هجوي او روک ښکنځلو سطحي ته را ټیټیږي.... مزاح بېله طنزه جوړېدای سي، خو طنزبې له مزاحه بې معنا شی

دئ.... " (وګ: جګدیش چندر رود هاون ـ منتهو نامه ـ ۳۵۷ ، ۳۵۸ مخونه ـ ډهلي)

په لیکلي پښتو ادب کي د طنز سابقه ډېره پخوانۍ نه ده. خو په اولس کي د ټولنیزو او فامیلي مناسباتو د کړني او غندني له پاره ئې د کارېدني سابقه یو څه لرغونې ده. اولسي ټوکماران د ټولنیزو ناخوالو ډېر ظریف منقدین دي. د کندهار په محافظه کاره ټولنه کي ما پېنځوس شپېته کاله وړاندي په ښځمنو کي په طنزي ژبه د کورنیو اړیکو د نا انډولۍ د ډراماټیکو ننداروو تماشه کړې ده (وګ: د لیکونکي هغه مقاله چي "پښتو هزل ته د تخنوني په نامه نوې مېلمنه" نومېږي او زما په انټرنیټي سایټ کي پرته ده.) د طنز ژبه چي هر څومره اولسي ژبه وي، هغومره ئې اغېزه زیاته وي.

د دې حاضر رومان لیکوال ښاغلی نظري صاحب ډېر خواږه طنزونه لیکي او دا اثر ئې هم د نورو لیکنو په شان ډېر خوږ او زیاته برخه ئې په مهاجرت کي د افغانانو د ژوند ربښتینی انعکاس دئ. وایي "په اور هر څوک سوځي، څوک حال وایي، څوک ئې نه وایي". نظري صاحب د دې لیکنو له لاري د هغو کسانو ناړې هم ورتېرې کړې دي، چي حال نه وایي، خو زړه ئې خوړل کېږي. مایوبل ځای هم لیکلي دي چي مهاجرت او له خپل کور، کلي، وطنه راوتل خوراغښتلی او دروند چلنج دئ. د هویت له لاسه ورکول

فاجعه ده. نظري صاحب ددغي فاجعې تصویرد طنزپه ژبه کښلی دئ اوخوراښه ئې کښلی دئ.څوک چي ئې لولي، دزړه سرئې په خبرېږي. دکمالداره لیکوال ښېګڼه هم په همدې کي وي چي دلوستونکي پرګوزرګ لاس کښېږدي. دنظري صاحب دلیکني پیغام عالي دئ. دمنظرو اوصحنو تصویرو ترسیم ئې خوراښکلی اوربښتینی دئ. ژبه ئې ماته ډېره خوږه وایسېدله. داصطلاحاتواوواراشوخوائې بډایه ده. دلهجوي ځانګړتیاوو خوندي کول ئې پرپښتو اوپښتنو باندي یواحسان دئ. افاده ئې غښتلې ده. دحقایقوپه بیان کي ئې جرئت دستاینې دئ. ټولي مکالمې او ډیالوګونه ئې خوندور دي.. ځیني یادوني دلیکنې شکلي خواته ئې ګوته نیول کېدای سي اوهغه داچي دیاګانوپه مراعاتولواودځینوکلماتوپه سم کښلوکي د اصلاح په خاطر ورسره شریکي سوي دي.

دانوماته نه رامعلومېږي چي دابه دده خپله سلیقه وي که د ټایپیسټ پړه.

ماپخپلوقلمي فعالیتونوکي کله کله په ژبنیومسایلوکي ګوتي وهلي دي.دې کارپرجنجالوهم اړولی یم اوتحسینونه مي هم پرګټلی دئ. شخصاً ئې ماته یوتاوان راپېښ کړی دئ اوهغه داچي په ژبنیوخبروکي ئې دځان ښکېلولوپه اعتیاد اخته کړی یم. دازوی مړي ژبنۍ خبري لکه سګرېټ اوقهوه دچاعادت سي.پرېښوولای ئې نه سي.دنظري

صاحب په دې حاضره ليکنه کي هم زمادپخواني اعتياد
خمارراپورته سو. ده دخپلي مورنۍ لهجې خوراډېري
خوندوري اوپه ځينو ځايوکي نادري وراشې اوکلمات
کارکړي دي.زه هم له ده سره پرلهجوي ګډون سربېره، ددغه
رازاولسي ژبې دکلماتو اواصطلاحاتوليکل يوه ژبنۍ
اړتيابولم. اړتيائې ځکه بولم چي دغه رازلغتونه اووراشې
اوس ياپه طبيعي مړينه محکومي دي، يائې دمرګ له پاره
ځينو لنډاندوپه شعوري ډول لېځي راغبنتي دي.ماچي
دپښتو دټولو لهجودلغاتو اووراشودخوندي کولو شعارله
ځولسيزو راهيسي دخپل ادبي رسالت يوه مهمه برخه
ګرځولې ده اوپه دې لارکي مي له بده مرغه،لږملګري
پيداکړي دي، نومي د خپلي مبارزې برى په دې کي
موندلى دئ چي همدغه لغتونه او اصطلاحات په
ليکنوکي دکارولوله لاري ژوندي وساتم اوترنوروئې
وروړسوم. داولسي ژبې دخوندي کولو ترټولو ښه ځاى
اولسي نکلونه اوهنري، طنزي ليکني دي. ماچي په اوس
وختونوکي دالف ليلة وليلة پښتوژباړي ته دارواښاد
نومیالي صاحب دراپيل کړي کار دبشپړتياله اسيته
ملاترلې ده، يوسبب ئې دادئ چي په دغه پراخه اورشوکي
د اولسي کلماتو اووراشودخوندي کولو ډېر امکانات
وينم. دنظري صاحب ليکني هم دخپل دغه نصب العين له
پاره مرستندويي بول. مګرڅرنګه چي ماپردغه اورشو

باندي ترده يو څو کميسه بالازاړه کړي دي، نوئې دې لاندي ټکوته په اول گام کي پخپله دليکوال اوورپسې ددې مجموعې دلوستو نکو پام رااړوم.

۱ ـ هغه لغتونه او اصطلاحات چي ما په اولس کي بل راز اوربدلي دي:

ـ په ۳۴ مخ کي "خدای مي دي غاړه نه بندوي". په اولسي محاوره کي "غاړي بندېدل" عام دئ، نه "غاړه بندېدل".

ـ په ۴۷ مخ کي "سندړه" دمجردپه معنا راغلی دئ. په لويديځه لهجه کي دغه شان سړي ته "جره" وايي. ما دځينو پښتنوله خولې څخه سنده لغت دخوښيني دمېړه (باجه) په معنااوربدلی دئ.

ـ په ۲۳مخ او۱۰۱ مخ کي "نه يوړه اونه راوړه" اصطلاح ماد " نه وړي نه راوړي" يا "نه وړه نه راوړه" په شکل اوربدلې ده چي مرادورڅخه ديوې نامناسبي خبري کول ياغوښتني څرگندول دي.

ـ په۸۲مخ کي "ښايي پتره سم" عبارت کي "پتره" راته کابلی تلفظ ايسي. موږئې "پتری" وايو. پتريگر، پتري والا، ټک وپتری ئې نوراړوند لغتونه دي.

ـ په ۹۱ مخ کي د "اسرافيل تولکه" که د "اسرافيل شپېلۍ" ياد "سور شپېلۍ" وای، ښه به وای.

ـ په ۱۰۱مخ او ۱۹۰ مخ کي " غيرت په توررا غی " که "غيرت پرښوررا غی " وای، محاورې ته به نږدې وای.
ـ په ۱۰۵ مخ کي "ايجيگي " لغت ماد "ايزگي " په شکل اوربدلی دئ. په ايزگي لوستل يورازقرائت دئ. که څه هم د(ج) او(ز) ابدال خوپه ژبه کي نورمثالونه هم لري. مگرماپخپله لهجه کي نه دئ اوربدلی.
ـ په ۱۱۰مخ کي "ساکودانه "چي يورازطبي ماده ده،ما "سابودانه " اوربدلې ده.
ـ په ۱۲۲مخ کي "ترقرآن شريف تېرسوم " اصطلاح ما "ترقرآن شريف ووتم " اوربدلې ده. مسافرترسفرمخکي ترقرآن شريف وځي، "پرقرآن شريف تېرېدل " اصطلاح هم سته، خوهغه يو چاته دقسم ورکولو په معنا کارېږي.
ـ په ۱۸۸مخ کي "ټکان مي وخوړ " په اولسي ژبه کي "تکان مي وخوړ " دئ. زماپه خيال دلته د(ت) پرځای (ټ) هغه شان ځای سوې ده لکه په "ټوپک " کي چي دهرراز ژبني منطق پرخلاف راغلې ده.
۲ ـ هغه ترکيبونه چي دنوروژبوتراغېزې لاندي پښتوته رانتوتلي دي:
ـ په ۱۷ مخ کي " مخ يي گونجي راوړي دي " . سم شکل ئې " مخ ئې گونجي کړي دي ".
ـ په ۲۲ مخ کي "زړه مي دروند دروند غورځېدی ". سم شکل ئې " زړه مي په دربي غورځېدی ".

ـ په ۳۲ مخ کي "ته دي درد په کراری و خوره ". سم ئې " ته حوصله وکړه "، یا " پرځان ئې مه ډېروه ".

ـ په ۶۲مخ کي "دغره وراوتوره ورفرق نسي کولای" عبارت د "شمشیرزن وکوستیزن " ترجمه ښکاري. موږدې ته ورته اصطلاح داسي لروچي " کورت اونقل په یوه بیه دي ".

ـ په ۱۲۲ مخ کي " ونسوای کولای خپلي اوښکي مهارکړم ". سم ئې " بې اختیاره مي اوښکي راتوی سوې ".

ـ په ۱۲۶مخ کي "دعمومي باغ پرپله ". ددې پرځای پخپله " باغ عمومي" سم وو. داخوخاص نوم دئ. لکه شاه دوشمشېره چي پخپله راوړل سوی دئ. باغ عمومي هم بایدهمداسي ولیکل سي.

ـ په ۱۳۵ مخ کي " دموټرتم ځای راته په گوته کړ ". سم ئې "دموټرتمځای راوښوو ". له دغه "په گوته کولو " څخه باید دنصوح توبه وکاږو.

ـ په ۱۴۲مخ کي "ترهغوچي دشعیب خان قهره سړیږي ". سم ئې " ترهغو چي دشعیب خان قهرسړېږي ".

ـ په ۱۵۲مخ کي " دزیارت په ورځ .... ". سم ئې د "پنجشنبې په ورځ ..... "

۳ ـ هغه تلفظونه اوقاعدې چي په لهجه کي سته، مگرسمېده غواړي:

ـ "یودانه " (۲مخ). سم ئې "یوه دانه "

ـ ډوډ ياني (۲مخ). که څه هم پرقاعده برابردئ مګر "ډوډۍ "ئې فصيح اوروانه جمع ده چي هم دمفردله پاره هم راځي.

ـ ".... ننداره مي کول " (۲۵مخ). سم ئې "ننداره مي کوله ".

ـ "احساسات په جوش راغله " (۱۷۷مخ). سم ئې "... پرجوش راغلل ".

۴ ـ د(ځ) حذفول او ايسته کول:

ـ "زړه مي پرځان وسو " (۱۴مخ). سم ئې "زړه مي پرځان وسوځېد "

۵ ـ " په پښنوليس ودرېدم "(۱۷مخ)، "ګرنه " (۱۳۱مخ)، "کله زنګ " (۲۱۰ مخ) ئې راته نوي دي اومانه دي اوربدلي.

دايوڅويادوني مي دخپل اعتياددتسکينېدلوپه خاطرو ليکلې . ښاغلی نظري صاحب دمبارکۍ مستحق دئ. خدای دې پرقلم اوهمت نورهم برکت کښېږدي.

محمد معصوم هوتک
آشاوا ـ انټاريوـ کاناډا
دکب څورلسمه۱۳۹۱ش

پـه نامـه د هغـه خـدای مـې دا بيـان دئ
چې يو نوم ئې په نومونو کې سبحان دئ
***
لا به ډېر ګلونه واسي په دا باغ کې
د بهار دغوړېدلو يو آغاز دئ

د طنز رمان ورشو د ښاغلي عبدالواحد نظري د رمان په ليکلو سره پر غوړېدو ده.
لکه څنګه چې موضوع د طنز ده نو غواړم د طنز (**Irony**) يا **Humor** په اړه څه وو ايم؛ هغه دا چې آيا د انسان لپاره دا امتياز نه دئ، چې په يوه لغاز او نيمه خوله خندا څوک د کورنيو غير رسمي، ټولنيزو رسمي، پردي کلتور او دوديز خنډونو او بنديزونو څخه خلاص کړي.
په دغه هڅه نو طنز ويونکي د يوې شېبې لپاره له ژونده ليري کيږي، څو ژوند د يو ننداره چي يا تماشاګر په توګه ويني او د خندوونکو ټولنيزو معاملو او غير عادلانه نظامونو د چارو په وړاندي د لغاز او طنز په ژبه خپل مخالفت وښيي او رياکار نقابونه د خندا په ژبه او هنرمندو

لاسونو د هغوی له مخې ليري کړي، ځکه نو د فرويد ، له نظره طنز د ټولنيز جاج (قضاوت) په وړاندې د سرکښۍ او نه اطاعت هنري ژبه ده او په دې اړه يوه ښېلګه وړاندې کوي او وايي: چې د شنبې په ورځ يې يو محکوم د زيندۍ او دار ته د خېژولو لپاره بېوه او هغه چيغه کړه، واه واه څو ښه اوه نۍ (هفته) چې شنبه يې دا ډول پيل کيږي. دا خپله د اعتراض رېغ و ، خو د لغاز په ژبه.
طنز د دې سبب کيږي، چې د هغه درد او عذاب په وړاندې چې پر موږ تپل کيږي، د ژبې او عمل له لارې خپل هنري توان په ډکه خوله خندا و آزمويو ځکه نو ډېر ارزښت هم لري او طنز په ځانګړي ډول دا وړتيا هم لري چې په عين وخت کې مو هم وخندوي او هم وژړوي او ولولې مو را وپاروي ځکه نو طنز د يو سرکښ انسان کړه دي.
خو طنز په خپل ذات کې د ليدو پټه او سمبوليکه کره کتنه او د مغز و کار او د ژبې تړون دئ او هغه ځواک هم دئ، چې يوه چاره يا ډېري چارې له طبيعي حالته راباسي، بېل رنګ ورکوي، ځانګړتياوي يې را پېژني او د هغه په وړاندې خپل اعتراض د خندا په ژبه وړاندې کوي.
آنتونن آرتو بيا طنز د انسانانو د موجودو غرېزو د آزادولو وسيله ګڼي. خو په هر ډول طنز جاري او عادي ژوند ته د انتقاد په سترګه ګوري او د غير منتظره چال چلند له لارې

خپل قضاوت له عادي قضاوته رابېلوي او له دننه څخه هغه ته بل رول او د واقعیت رنګ ورکوي.
خو عیني طنز (Objective Humor یا Irony) چي د آلمان لوی فیلسوف هیګل وړاندي کړی، هغه کېدای سي ویناوال (شفاهي) یا د سېنما او Acton او یا ان د مجسمو او انځورګری له لاري وړاندي سي. برتون د هیګل له خولې وایي: له ګوابنونو ډک وخت کي چي موږ ژوند کوو، دا ډول طنز (عیني طنز) دفاعي دریځ غوره کړی دئ او زیاتوي، طنز د دغه ډول غیر عادي نظام په وړاندي چي ښايي هر ګړی فرد د هغه قرباني سي د دفاع په ډول را څرګندیږي.
آني لوبرن (Anni e l e Brun) وایي: عیني طنز د هیګل له نظره د بهرنۍ نړۍ سره د اړیکو په اړه د بریالي ذهنیت څرګندول دي خو دا یو ډول بریالیتوب دئ، چي غواړي بشپړ و اوسي.
ځیني عیني طنز له تور طنز سره ګډوي، خو تور طنز (Black Humor) د دودیزو نظریاتو او روانو چارو په وړاندي د یو سرکښ عام سړي له کرکي ډکه او د زړه له تله د سپکاوي او ښکنځلو سره ګډه خندا ده، چي ډېر هنري ارزښت نه لري او نه هنري اصول مراعاتوي.

په هر ډول طنز د ناوړه سرنوشت (برخليک ) په وړاندي د اعتراض ځرګندول دي د خندا په هنري ژبه، چي خامخا فاجعه رامنځ ته کوي.
ټولو هغو خلکو چي د دې ټولو سپکاويو په وړاندي يې سرکښی کړي دي، په ډول د ډولو د واکمنانو، ټولني او د سرنوشت جبر لاندي کړي چي (ساد ) د ژوند ډېره برخه په بند (زندان) کي تېره کړه "ګراب" د الکولو او "بورل" د فقر له لاسه مړه سول، "سوبفت" مخکي له دې چي مړ سي لس کاله په دماغي ناروغی اخته وو، "بودلر" د ژبي له لاسه مړ سو، "نېچه" لېونی سو او "واشه" ځان وواژه.
په دې نړۍ کي په زرهاوو خلک چي د دا ډول سرنوشت سره لاس او ګرېوان ول مړه سول خو د هغو هيڅ اثر پاته نه دئ، يوازي هغه څوک په معنوي توګه ژوندي دي، چي د اعتراض چيغه يې کړې ده او د هنرمندانه اعتراض څخه برخمنول.
خو د ښاغلی واحد نظري د طنز رومان اتل هم کله د "واشه" غوندي د ځان وژني تکل کوي او په دواړو لاسو ځان خپه (زندۍ) کوي، کله له څو هم (څويم) منزله ځان را اچوي او کله بيا د ځنګله په لټه د رومان د پيښنو سره ګام پر ګام روان او طنزونه سره پټلسوي (کوشيروي).

مخکي له دې چې د ښاغلي واحد نظري طنزي رومان ته سر ور ښکاره کړو ښه به وي، د دې لارې د څو سرلاريو يادونه وسي.

د طنز رومان سرلاري اناتول فرانس (Anatole France) نوميږي، چې اصلي نوم يې ژاک اناتول تيبو ( Jacque Anatole Thibault ) دئ او له ۱۸۴۴ م کال څخه يې تر ۱۹۲۴ م کال پورې ژوند کاوه. دغه رومان ليکونکی، ډرامه ليکوال، شاعر، کره کتونکی او د لنډو داستانونو ليکوال په پاريس کې زيږېدلی او په دغه ښار کې يې زده کړې کړې دي خو شهرت يې په ۱۸۸۱ م کال د سيلفستر بونارد جنايات (The crime of Sylvester Bonnard) په خپرېدو سره پيل سو چې په هغه کې يو زوړ لرغون پوه يوه يتيمه نجلۍ، چې د ده د ځوانۍ د وخت معشوقې ته ورته ده له ښوونځي تښتوي، دی په دغه جرم محاکمه کيږي خو برائت اخلي ځکه دی د دغه نجلۍ سرپرست او نيکه دئ. بل اثر يې تايس (Thais) دئ، چې هغه کې ځوان راهب پافنوتيوس (Paphnutius) پر يوې بدکاري ښځې مين کيږي، چې هغه عيسوي دين ته رابولي خو دی پخپله دوږخي، شهواني او بدکاره کيږي. بل اثر يې د يهود ا ښارنوال (Procurator of Judaea) دی؛ په هغه کې پونيتوس پيلاتوس (Ponitius Pilate) (کوم چې عيسی محاکمه او محکوموي) د هغه د تاريخي هېرېدني

رول د لغاز په ژبه وايي، او هم دا ډول يې د "معاصر تاريخ" څلور د طنز رومانونه چې په څلورو سره رومانو کې د توطئې او دسيسې تومنه سته او ليکوال پر ښاغلي برژه، خپل وياند، کشيشانو، سرتيرو، سلطنت غوښتونکو او دسيسه کارو ښځو د لغاز او طنز په ژبه ټوکې کوي او په بل اثر ارباب الانواع تږى دئ (The Gads are Athrist) کې د فرانسې د انقلاب په بهير او د ترور او وحشت په حکومت کې د بې عاطفې انسان انځور د طنز په ژبه وړاندې کوي او داسې نور آثار.

فرانس په خپله ليکنه کې کلاسيک دود مراعاتوي، نثر يې له شرنګه ډک، په زړه پوري، ژوندى او له لغازه ډک دئ او ډېرى کره کتونکي دي د خپل وخت لوى ليکوال او د فرانسې د نثر پاچا ګڼي.

دا ډول د طنز رومان بل سرلارى ليکوال اندري پاول ګيوم ژيد (Andre Paul Guillaum Gide) (۱۸۶۹-۱۹۵۱) دئ، چې د طنز رومان ليکلو تر څنګ، کره کتونکى، ډرامه ليکوال هم دئ، چې په (۱۸۹۳ م) کال الجزاير ته ولاړ هلته په نري رنځ (سل) اخته سو، تر جوړېدو وروسته په ۱۸۹۵ م کال بير ته فرانسې ته راغى او د خپلې خاله (ترور) لور مادلې رونده (Madelein Rondeaux) سره يې واده وکړ.

د هغه شهرت په دريو کتابونو هر يو پلمې (Pretext)، نوي پلمې (New Pretext)، پيښې (Incidences) او

رمانونو کې دې او هغه د اخلاقي او ديني سختګيرينو (بنديزونو) په وړاندې د طنز ژبه کارولې ده.

بل اثر يې بد اخلاقه (The Immoralist) دئ، چې تر ډېره حده د ده ژوند ليک او د ده د فکري او فردي آزادۍ دفاع ده.

بل اثر يې سکه جوړوونکی يا جعلي معامله ګر (The Counterfeiters) دئ، چې دا د ده شاهکار بلل کيږي او د هغو خلکو په وړاندې چې سمه اخلاقي ښوونه نه کوي او يا اخلاقي حکمونه تحريفوي اعتراض دئ او په دغه رمان کې يو ځوک له خپل کلي او کوره تښتي او فکر کوي چې حرامي دئ.

ژيد کله چې له ۱۹۳۵ م کال څخه تر ۱۹۳۶ م کال پورې شوروي اتحاد وليد له کمونيزم څخه يې مخ واړاوه او په دې اړه يې دوه کتابونه وليکل يو کتاب يې له شوروي راستنېدل (Return of the USSR) په ۱۹۳۶ می کې او بل يې له شوروي څخه د راستنېدو مستدرکات (Afrenthought on the USSR) دئ.

ژيد په ۱۹۴۷ م کال کې د نوبل جايزه وګټله. دی په ليکوالۍ کې د ځانګړي سبک خاوند دئ او ځوان فرانسوی ليکوال له هغه څخه ډېر اغېزمن دئ.

خو د پښتو ژبې داستاني ادب که فوکلوري (شفاهي) دئ او که ليکلی (تحريري) يوه برخه يې د نړيوال داستاني ادب

له ژانرونو څخه تومنه اخیستې او بله برخه یې د افغاني ټولني د پېښو او فکره اغېزمنه ده، خو د ښاغلي نظري د طنز رمان د دواړو تر منځ یو پُل دئ، چې فورم یا بڼه یې نړیوال ادبي ژانر ته ورته خو خټه یې افغاني ده.

اوس که د ښاغلي واحد نظري د طنز رمان ته راسو ګورو: ښاغلی نظري سره له دې، چې مسلک او پوه یې په سینماتوګرافي او تمثیلي هنر کي ده او د دې لاري اکادیمیک شخصیت دئ خو د مسلک له مخي د سناریو، ډیالوګ او ډرامو سره آشنا سړی دئ، ځکه یې نو داستاني ادب او په تېره بیا طنز ته هم مخه کړې او اوس د وخت رنګونو او نیرنګو، زموږ د دغه هنرمند د زړه رباب داسي وترنګاوه چې نغمه ترې راووته او ډېر توري ترې را وڅڅېده، دا توري په حرکت راغله او لویه قافله یې جوړه کړه د ژوند له ګړنګو ولوېده، مزل یې وواهه او د ښاغلي عبدالواحد نظري د "زویه احتیاط" په نوم د طنز د رمان تر منزله یې ځان را ورساوه او د ده د هنري تندي تر څنګ یې د ده د داستاني ذوق تنده هم ورماته کړه او د ده د دا خدایي ذوق سره مو د رحمان بابا شعر هغه بیت ذهن تداعي کیږي، چې وايي:

چې مي مینه خدای پرتا باندي پیدا کړه
ترکه ما په هغه ورځ خپله رضا کړه

د دوی په دغه طنز رمان کې د خپل اولس د ټولنیزو دردونو او په تېره بیا په پردېس چاپېریال کې د بېوسیو او بېکسیو، زړه چاودو حالاتو، ناوړو او نادودو یو ړنغ او د دوی د محسوساتو او ادراکاتو نقش پروت دئ. ډېری مواد یې له خپل نژدې چاپېریال او پردېس ژوند څخه را اخیستي او پر داسې پېښو یې غبېز راګرځولې، چې له روان ژوند سره تړاو لري.

په پلاټ یا طرحه کې یې بېلې بېلې پېښې سره اوډلې دي، کرکټرونه یا پرسوناژونه یې تر ډېره مایوس، زړه ماتي او یا د چل ول لوبې سر ته رسوي، د وخت او ځای ډول یې د جغرافیایي او کلتوري غوښتنو او توپیرونو سره په نظر کې نیولې، د پرله پسې پېښو کړۍ یې په نري سپڼسې سره پېیل سوې، ځیني برخې یې اوجونه، سپنسونه او تضادونه لري، چې په پای کې لوستونکي د هغه پر پایله او اغېز فکر کوي او یا له درانه خوبه راویښېږي.

دا طنز رمان د ژبې له مخې لږ په محاوروي خوږو خوږ او د کندهارۍ پښتو د وینګ ځیني توري یې خوندي کړي دي لکه ساټ و باټ، انګیا او داسې نور خو د نورو پښتنو د پوهېدنګ لپاره یې د هغو لغتونه او وراشې را اخیستي لکه له خوبه را وخوځېدم، (وپاڅېدم)، کښېکښود او

داسي نور او هم يې "نه" نه يوازې د نفي پر ځای ان (ه) او (څخه) پر ځای ډېر کارولی دئ.
خو کله چې څوک يو ځای کې اوسي تر يو ځايه د هغه خوی او بوی ترلاسه کوي او په دې اړه يو متل دئ او وايي: "چې اوسې په خوی به د هغو سې" نو په دغه طنز رمان کې هم هغه څوک چې په جرمني ټولنه کې پیدا سوی او یا کوچنی لوی سوی یو څه د هغو خوی اخیستی ان لويان هم د ځان ښووني لپاره او یا دا چې وطني سواد يې لږ وي خپلې وراشې او اصطلاحات او لغتونه، نه دي ورته معلوم د هغې ټولني وراشې او لغتونه کاروي او یا هم خپل کلتور او دود بشپړ هېروي او د هستوګنې ټولنې کلتور، دود او ژبه خپلوي لکه د ښاغلي نظري په طنز رمان کې چې د دوی د پرسوتاژ له خولې وايي: ډوشايزه فیټه کو (ته چټله چاغه غوا)، کاکا دس فيوز ايني شايزه ايست دس (دا څه چټيات دي)، فوس (پښه)، کپوټ (خراب) يا کله کپوټ (ماغزه خراب)، ګوډ (ښه) او داسي نور؛ خو د نوموړي طنز رمان ليکوال ښاغلي عبدالواحد نظري چې خپله هم کوچنی په کابل کې لوی سوی او ډېر ژوند يې هلته کړی څه کابلۍ وراشې او اصطلاحات په دغه ليکنه کې کاروي، چې هغه يې ټکي په ټکي يا تحت الفظي راژباړلي لکه: د دوستانو په اطلاع رسولی وای (به اطلاع دوستان رسانيده بود) مقصد يې دئ، چې له ژونده يې پور ادا کړی وای او يا

ساده د مرګ کندي ته لوېدلی وای یا اوس به ستاسو په منځ کې نه وای...، زړه مي دروند دروند غورځېدی، (زړه مي په دربي و)، جای نما (مصله)، خاکباد (دوړي) او داسي نور چي ښايي تر چاپ او خپرېدو پوري اصلاح سي.

زما په اند پر داستاني ادب او په تېره بیا د ښاغلي عبدالواحد نظري پر طنز رمان باندي ځکه ډېره لیکنه نه کوم او هره خوا یې نه څېړم، چي پایله یې څرګندیږي او دا کار د لوستونکو د لوستلو (تلوسه) وژني.

دا چي لیکوال د خپل داستاني ادب تر څنګ د نړیوال داستاني ادب او طنز د ځانګړتیاوو او جوړښتونو سره آشنا دئ، ځکه یې ډېري برخي د واقعې پېښو څخه را زېږېدلی او ځیني یې خیالي دي.

د فن او تکنیک او هم موضوعاتو له اړخه له دواړو تجربو څخه کار اخلي او خپله ژبه، ژواک او کړه وړه ورسره ساتي خو تر (Pl ot) یا طرحي؛ د خپل مسلک له مخي کرکټرونه او د واقعیت په اړه خپل نظر او د ژوند طرز ته ارزښت ورکوي او د خپل مایوس کرکټر احساس ته یې ډېره پاملرنه ده.

د ښاغلي نظري زیار په هنري او ادبي برخه کي ډېر د ستایلو وړ دئ، ځکه د نورو خبري یې هم د زړه په غوږ اورېدلي او خپله هم دا هیله لري، چي د ده خبري نور هم د زړه په غوږ واوري.

اوس تاسي رابولم، د ښاغلي عبدالواحد نظري د زړه خبرو ته، چي تاسي يې هم د زړه په غوږ واورئ او خوند ترې واخلئ.

و من الله التوفيق
ډاکټر طارق رشاد

# د مقدمې پرځای

ګرانو لوستونکو دااوس چې تاسو داټولګه خلاصه کړیدی او غواړی وګوری، چې څه لیکل سویدی؟! هغه څه چې مې دویلو لپاره درلودل، دکتاب محتوا جوړوي او ضرورت هم نسته او معمول هم نه دي، چي لیکوال پر خپله لیکنی تشریح او توضیح ورکړي. و هغه چاته چې دا ادرس سوی دی حتمن په پو هیږی. داچي دابه مو دتوجه وړ ګرځی یا ونګرځی جلا خبره ده. ددی طنزونو زیاته برخه پخوا په څو ټولګو کي خپاره سویدی، دوستانو لوستي دي او آن تر امریکاتر پنتا ګون پوري رسیدلي او ددرسي کتاب په توګه و هغو پوځیانوته چې افغانستان ته استول کیدل ګټه اخستل کیږی.

ددي طنزونو زیاته برخه دعیني مشاهداتو پر بنیاد، چې زما دکار اصل جوړوي، لیکل سویدی اوځینو دنظر خاوندانو له خوا دمهاجرت دهینداري نوم ورکول سویدی اوپه مستقیمه اوغیر مستقیمه توګه چې دطنز ماهیت دی د ژوند دیوي برخي څرګندوی دي. هغو چې دا ژوند تر سرتیرکړیدی خاطرات به یې لا په ذهن کي ژوندی وي.

ځو کاله مخکي دهغه میني له مخي چي دعزیز نسین ترکي طنز لیکونکي سره درلودل دده یو رو مان ترلاسه کړ، چي ده دخپلو طنزونو ځخه ترتیب کړی و اوما ډیر خوند ځینی اخستی و. دا مي په یاد وه، نه یې وخت و او نه زماطنزیه لیکنی په هغه پیمانه وي، چي دیوه رومان یا هر بل نوم چي ورته ورکوي کفاف وکړي او د محتوا له مخي دیوه داسي اثر په درد وخوري.

کلونه تیرسول او نن دادی دا خواست مي تر سره سو. او ددي لپاره مي همدا دافغان د دربدری سوژه انتخاب کړه او دطنزو دجملي ځخه داتیا په حدودو کي ددي سوژی په درد وخوړل. هغه مي داسي سره واوډل چي دیوي خوا داصلي سوژي محتوایي پیوندکامل کړي اودبلي خوا دنني تاریخي حواثو بیان دهغه دکرونولوژیک تسلسل سره، مچ وکړي.

تر هغه ځایه چي مقدوره وه مانومونه کرکټرونه، یولاس کړه او هغه طنزونه چي یوه برخه یې تصویرول او تغییریې وطنزي بیان ته صدمه رسول پرخپل حالت البته دخپل داخلي استقلال ځخه را ویوستل او دیوه اپیزود اوکړي په توګه مي، چي تربل اپیزود پوري پُل وګرځی استفاده وکړه. چي ددغسي یوه ژانر لپاره ضروري وه. نور موضوعات او سوژي، نه دي پکښي راغلي. او ددي راز لیکني ښکلا اوحلاوت به هم زما دنظره هم په همدي کي

وي. د «ي» ګانو په اړه باید دو نه ووایم چې زه خپله دوغنو «ي» ګانو ته معتقد نه یم زما په نظردا زموږ د پښتو ژبې زده کړه د ستونزو سره مخوي....

نو دایادونه په دي منظور وکړه،....ښایي، چې زموږ په طنزي ادبیاتو کي به داکار سابقه و نه لري او که ویې لري هم زما تر سترګو سوي به نه وي. داوه ددي جوړښت په هکله. دا چې تاسو به ددي کرښو په ویلو هم دی پایلي ته ورسیږی، نه پو هیږم. دا یوازي یوه هیله وه او بس.

د ښاغلی معصوم هوتک څخه دزړه له کومی مننه او قدردانی کوم ، چی په ډیره مینه او اخلاص یې داجوړښت ولوستی او خپلی حکیمانه اودوستانه مشوری یې را سره شریکي کړي. ما ددوی ژبنی او املائي مشوري په کتاب کي ترهغه ځایه چی ماته دقبول وړ وي سمي کړي،نو ځکه مي په کتاب کي را نه وړي.

اوهمداراز زما ګران دوست ښاغلي طارق رشاد څخه ، چي په ډیره دوستانه مینه یې خپل نظریات ددی اثر دلا بډاینې له پاره کښلي دي، مننه کوم او کورودانی ورته وایم.

په مینه

واحد نظری

د۲۰۱۲ کال دنومبر دمیاشتی ۲۷

# لومړی برخه

## پریږدم یې نه

که همدا څو کاناله تلویزیون نه وای اوس به بیاله وخته خپګان او نا امیدۍ د دوستانو په اطلاع رسولی وای. له تاسونه به یې څه پټوم یو واری می په دواړو لاسو خپل ستوني زندۍ کړ، بغ مي ووت ولي مړنه سوم. بله پلامي بیا دهایم (دکډ والو داوسیدو لیلیه) له دریم پوړه ځان کښته را وغورځاوه دا واري بیا دمرداریو په بیلر کي ولویدم...

یو واري هم تبرکو په نس کي دبو ټو سره څو واري را و غورځیده، خو هغه بیا دکور په خاطر وه، چی کور یې نه را کاوه، غوښته مو چي ځانونه عیبی کړو.

که بل هرڅوک هم زماپرځای وای اویوڅه لږغوندی غیرتګی یې هم درلودلای، ددغو دوو لارو څخه یې باید یوه هرومرو غوره کړي وای! یایې ځان دمنځه وړی وای اویا یې هم کومه چاره سنجولي وای...

...تخت او بخت موبرقرار اوسه مجاهدینو ! خدای دي ستاسو سیوری ددي هیواد دسره نه کموي. که تاسو نه وای،که دا عالي قدره رهبران نه وای، ته اوخدای ! ووایاست چي اوس به موږ دلته څه غوښتل؟ دهمدي سرو اوشنو له برکته، دهمدي ګرانو ټوپکیانو دسرله خیراته موږ نن په اروپا او امریکا کي قدم وهو او دهمدي خدای بخښلو اوپه حق رسیدلو له خیراته اوس په ژوند پوه سوو. که چیري دوی نه وای. تراوسه به مو په هغو ویجاړو کوڅوکي کي هډوکي خاوري سوي وای. اې خدایه ولي دي دې خلکو ته ژر قدرت نه ورکاوه؟ چه زموږ د ژوند ښي ورځي مو دلاسه نه وای وتلي اویو څو ورځي د وخته راغلي وای او دژوند څخه مولا ډیر خوند اخیستی وای...

لا هو له ....دا هغه دعا وه چی یوه وطندار ته ددی ځای ژوند ډیرخوند ورکړی و او همیشه به یې چی یو غړپ ترستونی تیر سو، په وار وار کوله ... اوس لیونی دی خوارکی...

لکه دتل غوندي مي سګرټ په خوله او دتلویزیون ریموت کنترول په لاس کي و او د هوسی غوندي له یوه پروګرام څخه بل پروګرام ته الوتم. سرمي دخماریانو غوندي یوي اوبلي خواته راڅخه تی اولکه ماهی چي تازه داوبو راوباسي خوله می خلاصه خلاصه کیدله. اړړمی

پرارږمی. ...چی سترګي می پرآشنا سوځیدلو هندی ثیرو ولګیدلي ...راته په زړه پوري سو...کوم فلم و... یوشهزادګی یې ښکاره کاوه چي د واده په شپه خپله ښکلي ناوي خوشي کوي او د کوره وزي..ځنګل ته ځي اوهلته تریوي غټي وني لاندي کښیني... نه یې ډوډی خوړله اونه یې اوبه څښلې اونه یې هم ځان تشاوه.... په فکرکی به ډوب و، سر په زړیدی....دخدای شپي او ورځي ورباندي تیریدلی...

یوه ورځ یې چي سر راپورته کړ، تک تور سوی و، هډوکي یې را وتلي وه....کرار کرار یې مخ روښانه کیدی او داټوله ځنګل ورسره روښانه سو.... شاو خوایې ګلان په غوړیدو سوه. جناوران او انسانان به دهر ځایه ورته راتلل احترام به یې ورته کاوه او ډوډیانی اوسوغاتونه به یې ورته را وړل....

خوله مي سره کش سوه، کش سوه، کش سوه و مي ویل، پیدا مي کړه، پیدا می کړه: زه هم ځنګله ته ځم. ځم چي له دنیا دخلکوڅخه سترګي پټي کړم. عبادت اوریاضت به کوم، ګوندي وي چي پرما هم روښنایي سي اولاره به پیدا کړم، چي څه وکړم؟ خام هوډ می په پخیدو سو...بله لارمي نه درلوده باید لکه هندی شهزاده خوب اوخوراک مي پرځان حرام کړی وای اوڅه سخت کارهم نه و. هغه چي

نازدانه و دپلار او مور یوه دانه و، دا کاریې وکړای سو،
زه خو بیله هغه یوشړل سوی بې وطنه آواره یم، ...

غوږی مي را پورته کړ چي جانو ته تیلیفون وکړم، اوس هر څه چی زنګ وهم څوک غوږی نه اخلي. جانو مي یوازینی ډیر نژدي انډیوال دی، ډیر پاک او ساده ځوان دی، ما ویل باید دخپل تصمیم څخه یې باخبره کړم، نه ویل کیږی کیدای سي ، که څه راپیښ سي، چي راخبر یي.

خو دجانو خوار وضع ترما لا بده ده...

... دغه پرون په ښاری ترن کي مخامخ لاس تر زني راته ناست و. دشنو او زرغونو تپو بي رنګه انځوریې پر ډبلو عینکو ژرژرتیریدي. جانو سترګي څو واري وره پولي. سترګي یې و بریښیدي، لکه یوڅه چي یې په زړه کي ورګرځیدلي وي. شاعرانه څهره یې غوره کړه، سریې یوڅه رانژدي کړ او په نیولي ږغ یې راته وویل:

ـلالا ! نه کیدل چي خدای په یوبل ځای کي... په یوبل نامه پیدا کړي وای؟

بیا په فکر کي لاهو سو...په خندا مي ځني وپوښتل:

ـ څنګه لکه چي د افغانیت څخه دي بد راغلي دي؟

دی بیله دي چي راته وګوري په هغه پخواني ږغ یې راغبرګه کړه:

ـ اوس دي افغانيت موږته څه راکړل..نه يې يوګوله راکړه چي په ماړه سو، نه يې کوم وياړ راکړ چي په و نازيږو، نه يې وطن راکړ چي پکښي و اوسو..وايم که چيري يوبل ځوک واى... يواروپايي، يوانګريز، فرانسوى يايو جرمنى... نوربه مو نوځه غم درلوداى..له دي پزي پري کيدونه به خلاص واى... يا کاشکي يو چينايي يا جاپانى واى. لنډلنډ قدونه به مو واى لنډي لنډي خبري به مو کولاي...

لکه يوشى چي ورپه يادسوي وي سترګي يې کوچنى سوي، په ځيرځير يې راته وکتل:

ـ لالا بيا به مو په دا لرګيو ډوډى ځنګه خوړلاى؟

بيله دي چي پوه سم چي څه غواړي ووايي، په خندا ورته وويل:

ـ خيردي يو ځو ورځي به موپرځان زحمت راوستى واى، زده کړي به مو واى....

ده څه ونه ويل. دنوک په سريې دميز په ګرولو پيل وکړ... ښايي همدا ګړى به يې ځان ديوه چينايي په بڼه ليدى چي دوريجو کاسه يې خوليته نيولي ده اوپه لرګيويې خوليته ننباسي... لږ وروسته يې، يو اوږد اسويلى تر خولي را ووت او چورتي يې را نه وپوښتل:

ـ لالا ! بيا هغه خپل د ډوډى خوراک موځنګه کيدى؟

ډوډی ته چي چارزانو یا پر دووکښیني، لاسونه ورته پري نه مینځي، دهغه ډوډی به څه خوند وي !؟... دا اروپایان مي خوښیږي پوه او آرام خلک دي...درواغ نه وایي، په چاکار نه لري... ولي داچي مسلمانان نه دي... نه ورک یې که...

بیا مي په خندا ورته وویل:

- ولي زړه دي نه غواړي چي یوپاکستانی اویا هندی وای... هغه دي مسلمان به هم وای او ډوډی به دي هم په لاسو...

پري یې نه ښوولم چي خپله خبره پای ته ورسوم:

- له بارانه ولاړسه، ناوي ته کښینه...دهغو بیوزلو تر موږ لا وضعه خرابه ده...چي څوک څه غواړي، نویوڅه دي وغواړي چي په غوښتلو و ارزي...کله دي په فکرکي درګرځیدلي دي...که امریکایان وای، غټ غټ په مو ویلای، پرخلکوبه موځان کنجولای، اوخلاص خلاص به تلای، دټولي دنیا باداران به وای... هرڅه موچي کولای له چا سره به داجرأت نه وای چي تر سترګو پورته راته وګوري....

ماته هم لکه په زړه پورې سوې چي وي، ځیني پوښتل:

- بده خبره نه ده ولي کوم امریکایان؟

ده ډیر بې توپیره راغبرګه کړه:

ـ بلا په پسي، تورپوستان دي وای خوامریکایان دي وای...

نه پوهیږم چي ولي مي دا خبره ترخولي راووته:

ـ ته پوهیږي چي اصلي امریکایان نسته، که سته هم، هغه سره پوستان دي، په فلموکي به دي لیدلي وي؟ نور ټوله مهاجر دي لکه زه اوته، له افریقا اواروپا څخه ورغلي دي...

ده سر وښوراوه لکه خوند چي یې نه وي ورکړی:

ـ نه سورپوست خونه غواړم چي و اوسم... په دي عمر کي نور نه غواړم چي په دښتو اوبیدیاووکي ژوند سبا کړم... او د آس د ځغلولو زغم هم راسره نسته....

ملامت هم نه و، ښایي همدا یوازیني تصور به و، چي له سرو پوستو څخه یې درلود... بیا په فکرکي ولاړ... خو ژربې سر را پورته کړ، په ځیرځیر یې راته وکتل، لکه له اختیاره چي یې وتلي وي. یوه چیغه غوندی یې تر خولي راووته:

ـ نو چي داسي ده، څوک و اوسو ؟....

....ټوله شپه په همدی چورتوکی راباندی تیره سوه. خوب نه راتی، چي څوک و اوسو. څو واری می شیطان په پوست را ننوتی چی راسه د دتبرکو سره ځان وجنګوه، خو بیا مي لاهوله کړه. ځکه یوه هفته کیده، چي ځیني خوابدی وم او

خبري مي نه ور سره کولي.... طالع ته ګوره، چی دا تبرکو هم راته بلا سوه، دا اوس هغه پخوانی تبرکو نه ده.

... نه مي هیریږی کله چي به له کوره را ووتو. نو دعادت له مخي به زه ترمخه او دا به هم راپسی وه. که چیري به مي کوم یو د اولادو نه ترلاس ونیوی، ښه ترښه، کنه نولاسونه به مي ترشاغوټه کړی وه. سربه مي کښته اچولی و. زه به مخته مخته تلم او دابه ترشا راپسي وه. که چیري به یې چادري په پښو کي بنده سوه اویا به هم ستړي سوه، نو به مي پټکه پر وکړه: بلاوهلي یې؟...پښي دي ماتي دي که څه بلا؟...ژر ژر راځه !

او دي به ترشا راپسی ځغستل....یاد دي یې په خیر وي، زما د ژوند طلایي ورځي مي را په یاد سوي... دشپی به چي له کاره راغلم، د جان آغا جانه په خیر راغلې ! په ویلو به مي له اوږو څخه د ورځی ټول بارکښته سو. نورشیان خو موږ نه وو خو لنډه ګړی به یي سر پراوږو راکښیښود...دي حرکت له ځانه سره هرڅه درلودل، تابه ویل چي داټوله دنیایې رابخښلي ده. کرتی به مي یې داوږو څخه واخېسته. بوټونه به یی له پښو راځخه ویستل. ترڅوچي به مالاس اومخ تازه کاوه، دسمال پرلاس به راته ولاړه وه. هوسانه خوراکونه به یي را پخول..

ولي اوس ساعتونه انتظار باسم، چې یوه ګوله ډوډوی مې مخې ته کښیښنوول سي. پرځای یې راته ویل کیږي:

ورسه ځانته یې پخه کړه، زه خودي مزدوره نه یم. یو سوسیالی ته یی اویوه هم زه. هغه پیسي چې تاته درکوي ماته یې هم را کوي.

اوس کله چې دکوره وزي. اول خوماله ځانه سره نه بیایي راته ویل کیږي چې کور جارو او پاک کړم اوکه کوم وخت مې له ځانه سره بو هم زي. دا ترمخه او زه ترشاور پسي یم. له دي خوایې دستکول ورسره اخلم او دبیرته راتګ په وخت کي دسودا ډکي کڅوړي په لاس کي راکړي...

اوس کله چې دکلیسابنځي ووینې خپلي ګوتي سره ومښي او ورته وایي:

افغانستان ډیربد دلته ډیرګوډ (ښه) ښځه او نر برابر، مساوي...

دا خو لا څه کوي ورک یې که، خپله لمن به نه پور ته کوم،... خو نه مې هیریږی یوه هفته دمخه چې د ډاکتر د کتنځي وخواته لکه پخوا روان وو، نابېره یولاس راغی اوپه زوره دکورتی دغاړي نه چاکش کړم، په دومره زور چې دزینو څخه لاندي راولغړیدم. پورته ګورم... داپخپله کډه مې یادوم، لاس ترملا ولاړه وه اورا باندي چیغه یې کړه:

ـ و دی خوړل. بیا هم مخ مخ ته ځه !
هیڅ مي باور نه راتی، چې څنګه کیدونکي ده. هم هغسي چي پر مځکه خلاص پروت وم، په ډیر قهر مي وویل:
دادي څه وکړل ؟ ولي دی ترکورتی کش کړم... نژدي وو، چي ملا مي ماته سي... لیونی سوې یې که څه بلا ؟
په داسي حال کي چي سترګي یې د سرترکاسو راوتلي وي او ګردی غلیظی سري شونډي یې خلاصي اوتړل کیدي.
په لوړ آواز په جواب کي راته وویل:
ـ لیونی سوی خو ته یې، بي ادبه. ړوند خو نه یې، نهویني چي د لته ښځي ترمخي رواني وي. نه نارینه !...
په سر کي مي شرنګهار سو. ومي ویل: خدایه خیر !
له مځکي چي راپورته سوم، کالي مي وڅنډل. شکر چي کوم ځای مي نه و مات سوی. خو ژبه مي ګونګی سوي وه.
په زړه کي می وویل: بیا به په کورکي د رسره ګورم.
دا ترمخه سوه او په لاس یې اشاره راته وکړه چي را ځه...
کله چي د ډاکتر په کتنځی ورننوتو اخطار یې راکړ:
ـ هرڅه چي در ته وایم هغه به ورته ژباړي !
په بنده بنده ژبه مي ورته وویل:
ـ هیڅ...لازمه نده چي...ستا خبري ورته.. وژباړم. زه پخپله پوهیږم چي څه ورته ووایم...
غرور مي اجازه نه راکول...

ولي دا لا نه آرامیده، بیا یې په پټکه راته وویل:

ـ ته په هیڅ څه هم نه پوهیږې ! او حق هم نه لري چي یوه کلمه هم تر خولي راوباسي... پوه سوي؟ اول خو ورته ووایه چي دا وایي زما د میړه کله کپوت(خراب)ده !

غوښته مي چي زه هم آواز ورباندي لوړ کړم. ولي آواز مي را ونه وتی. خوتندی می تریو کړ:

ـولي مي کله کپوت وي. جوړ تیار سړی یم. خیردی چي بي وطنه یم...

کله چي مي دبي وطنی کلمه ترخولی راووتله، زړه مي پرځان وسوځیداو دوي دري اوښکی می ترسترګو راوبهیدي. ولي ددې سخت زړه زما پرحال او اوښکو و نه سوځیداو په هغه پخوانی تون یې بیا راته تکرار کړل:

ـورته ووایه چي کله دي کپوت ده !

خوله مي نه جوړیده، ولی مي باید ځان لیونی او کله کپوت معرفي کړی وای. شرم و؟ ولي حریف لاس اخیستونکی نه و. بیا یې سترګي را باندي را وایستي. ددي په خاطر چي د ډاکټر ومخته یې رډ رډ راته کتل، دسترګویې وبیریدلم .په دی خاطر، چی بی آبه نسم راڅخه وویل سول.....

... دسهار خوا وه چي سترګي مي سره ورغلي وي...

...د تلیفون ږغ پورته سو ، دستي مي غوږی پورته کړه ،

جانو و. بیله دي چي ستړي مسي وکي په چتکي یې راته وویل: ژر بی بی سي ونیسه...
ومي پوښتی: ولي کوم په زړه پوري خبردی؟
ویل: هو ډیر جالب دی...
په نا باوري مي بیا ورغبرګه کړه:
ـ ځه زویه تا خو پرون هم وویل، چي ډیر جالب دي، جنګ
ـ منګ خو نه و !؟
جانو څه ونه ویل او غوږی یې کښیښبوده... ماهم دستي راډیو ونیوله... خبرونه په رښتیا هم ډیر په زړه پوري وو:
دیرش ـ څلویښت کسان وژل سوي اودوه، دري سوه نور ټپیان او برمته سوي وو...
پربریتومي لاس تیرکړ. نور خبرونه راته په زړه پوري نه وو. راډیومي مړه کړه...له ځایه پورته سوم چي ووزم. لاتر دروازي نه وم وتلی چي د چاړغ مي ترغوږو سو:
ـ خوشحاله سوي چي هیواد وال دي مړه او ټپیان سول؟
ژر مي مخ راوګر ځاوه، چي داڅوک و؟ په کوټه کي خو بیله ما او کوچني زویه، چي په زانګو کي پروت و، بل څوک نه و. لا په دغه فکرکي وم، چي بیا یې راباندي ږغ کړ.
نژدي راسه، مه بیریږه.
وارخطا سوم، چي داڅوک دی؟ په زړه کي راوګرځیدل، حتمي به له ګاونډي دکوره ږغ راغلی وي، ځکه چي ننني

ديوالونه هم هيڅ راز نه ساتي او ډير صادقانه، آن کښته آوازونه له يوي خواڅخه بلي خواته رسوي...، چي بيا راباندي رږغ سو:

ـ ولي وبيريدلي! ته خوډير زړه ور او با توره وي؟

بيره مي لازياته سوه. بل څه مي فکر ته رانغلل، لاس مي ژر وجيب ته کړ اوخپل اووه ټکه چاقومي را وايستی اوچټک مي خلاص کړ. دفاعي حالت مي غوره کړ. اوپه داسي حال کي چي په وارخطايي مي سترګي لکه دبم غوندي راسته اوچپه څنډي ځارلي او چاقومي له يوه لاسه بل لاس ته کاوه... چي بيا يې راباندي رږغ کړ:

ـ شاباس ډير حرفوي چاقو په لاسو کي کښته پورته کوي، ته خو دقلم سړی وي، څنګه سو چي چاقو کشي ته دي مخه وکړه؟ نژدي راسه!

يوه سوم چي حريف په زانګو کي يا ترزانګو ترشا راته غلی دی. رږغ له هغي خوا څخه راتی. که څه هم رږغ مي تر خولی نه راوتی، خو په ټول زور ماهم ورباندي رږغ کړه: څوک يې، ځان ښکاره کړه....

چاقو مي ښي لاس ته کی اوکرار په لړزيدلو قدمو د زانګو وخواته ورنژدي سوم او په يوه چټک حرکت مي په چپه لاس د زانګو پرده ليري کړه، چي چاقو يې په سينه کي ورښخ کړم. خو داچي ډير بيردلی وم هير مي وه چي په

زانګو کي مي کوچني زوی پروت دی، نژدي و چي دزوی ځيګر مي سوری سوری کړم.. زوی مي راته خندل، دواړه لاسونه يې پورته نيولي وه، ښايي غوښتل به يې، چي زما لاس له دي مخکي چي چاقويې په ځيګرکي ورښخ کړم، ټينګ ونيسي....

سترګي يې زما په سترګوکي ښخي کړي وي اوسر يې ښوراوه. پرماخولي راماتي وي...

... ګورم چي دی د دروازي په چوکاټ کی لکه شبح را ښکاره سو، ډير وبيريدلم، چي دا څوک دی ...ولی کله، چي را نژدي سو، چاقو مي ژر ګنډي ته کی. د هغه داوړدي او ځړيدلي غاړي څخه مي وپژندی. را په ياد سوه. چي هغه مي ډير ليدلی دی ، په زړه کی مي راګرځيدل، ولي ځايته می را نه وستی. سپينو محاسينو او هيبت يې سړی احترام او درناوی ته هڅاوه.

دا جرئت مي هم نه درلود ، چی پو ښتنه ځينی وکړم، چي ته مي چيري ليدلی يې؟ جوله يې ډيره اشنا وه فکر مي کاوه، چی يو عمر مي هغه ليدلی دی، ولی چيری؟

د راتلوسره يې په پښو ليس و دريدم او دی مي مختته کښينستی، داوښکو ډکو سترګو شاوخوا يې پړسيدلی وه، معلو ميده، چی ډير يې ژړلي دي، اوږدی غاړی يې هغه پخوانی شخي، چي په ياد مي وه، نه درلوده، مخ يې

ګونجی کړي وي او تاز ګي او شیرازي یې نه درلوده ، ټوله ځان یې ریږدیدی

او ښکی یې ترسترګو را روانی وي. او هر څو شیبې وروسته به یې اوږده غاړه وښوریده، سر یې نسوای ټینګولای. سری سترګی یې را پکښې ښخي کړي. ما په سترګو کي نسوای ورته کتای، لکه کومه ګناه چي مي کړی وي...یوازی یوه احمقانه موسکا می وکړه.... اوس هرڅه چي مي پرککره زور راوړم، چي دا څوک دی؟ احساس می کاوه چي ډیر را نژدي دی او نژدي هم و چي ځای ته یې را ولم، ولی پر ژبه مي نه جاري کیدی، اوس نو دخدای لوی دربارته څنګه په زړه کي زاری کوم، چي را په یاد مي سي، چي دسیني څخه یې یو بي زوره ږغ را ووتی:

ودي نه پیژندلم؟

جرئت می صلب سوی و چي ورته ووایم،یا

ومی ویل: ومی پیژاندلاست ، خو ډیرتغییر موکړی دی، اوس مي سترګي هم هغه پخوانی ځلا نه لري، هر شی کمرنګه وینم...

دمعنا لرونکي موسکا څخه یې پوه سوم، چي څه یې غو ښته راته ووایي....

بیا یې لړزاند او هیبت ناکه ږغ پورته سو او پري پري یې وویل:

ـ ما کم رنګ هم نه درلود له اوله همداسي خاورين وم،
لکه ويني چي مي. ښايي ته په حقه اوسي، ډير تغيير مي
کړيدی .... پو هيږي ، ولی؟ هيڅ چا هم رحم را باندي ونه
کړ، هر يوه پخپل وار زما تن ټپي کړ. ډير وخت وسو ،چی
بيماره يم.... ته زما د حاله نه يې خبر؟

فکر مي کاوه چی که ووايم نه، غټه ګناه به مي کړي وي
، ژر مي ورته وويل:

ـ خبر يم، بلی بلی د داسی ناپوهو اونا اهله خلکو څخه
دبل څه توقع نه کيږی... بيا چپ سوم...

ځانته مي قناعت ورکړ، چي رښتيا مي ورته وويل،
ځکه زړه می راته ويل، چی پيژنم يې او داهم واضح
معلوميده، چی ناجوړه دی....ولي ځوک دی؟

په داسی حال کي چي سر مي د شرمه کښته و، وويل:

ټوله مريضان يو،د ټولوستر ګي اوس سم نه وينی،
غوږونه کاڼه سويدي، اعصاب موضعيف دی، هرڅه مو ژر
هيريږی،.....

ده نور څه ونه ويل، را ته ويې کتل، سريې وښوراوه،
ستره تنه يې په حرکت راغله د وچو زنګنو دټکهار څخه
يې، د ورايه جوتيده، چی په څه مشکلاتو يې تنه
انتقالوي. همداسی چی اوږده غاړه يې ځړيده او اوښکي

يې لا رواني وي، مخ راڅخه واړاوه او د دروازي وخواته روان سو ... دځانه سره يې څه ويل ... چې سم نه په پوهيدم....

ـ ټولو مي په خنجر بدن ...ټپي...کړ، تا غوندي ټولو...هير ...کړم، ښايي چي شيدي به مې....

غو ښته مي، چي په سي ږغ کړم، ولی په کوم نامه، نوم مي يې پر ژبه رانغی....

دځانه مي پوښتل:

ـ دا څوک و؟ ولي راته راغی؟ څه يې غوښتل؟ ولي بيرته ځي؟ ښايی کومه هيله به يې درلوده ، نو ولي يې څه ونه ويل. په داسي حال کي، چي خوله مي همداسي خلاصه پاته وه ، د دروازي په چوکاټ کي مي ليدی، چي څنګه يې درنه تنه ليري کيدل او په تپه تياره کی حليدی تر څو ترسترګونهام سو....

نورنو خوب يو نه ورړم، هر څه چي مي پرماغزو فشار راوړ ، چي دا څوک و؟؟؟؟.... چي چا تر پزي کش کړم او راته وايي ولاړسه او حرکت وکړه. په بيړه راکښينستم که څه هم سترګي مي نه خلا صيدي، له بستره راپورته سوم.

دخدای فضل وسو که مي دشيطان منلي وای اوس به غسل را باندی ګرځيدلی وای، ځکه په نل کي يو څاڅکی او به نه وي، نا چاره وم تيمم مي وکړ.... دتبرکو او اولادو سره مي خدای په اماني هم ونکړه، دکوره په وتو سره مي،

ستړګي د دخپل وطن پر نغشه وموښتي، چې د دروازي ترشا زړيده... را په يادسول، ستړګي مي داوښکو ډکې سوی. يوګړی ورته و دریدم... سر می دتعظیم په توګه ورته کښته کړ....



# دوهم فصل

## وروستی ورځ

دکوره چي را ووتم، عجب يو احساس مي درلود. دهغه ورځی چی بیوطنه سوی وم  دا اول واري و چي پرځان باوري وم. ډاډه او په بیړه مي قدم ایښودی. زړه می په دربي غورځیدی ... خوشحاله وم،چی پرمابه هم لکه هندی شهزاده، روښنايي سي.... روان وم، خونه پو هیدم چي

کومي خواته، یوي څلورلاري ته ورسیدم ، و دریدم، چي اوس نو کومي خواته، زه باید ځنګل ته تللی وای، ځنګل کومی خواته دی....

آ خدایه ! لکه چي رضا دي نه ده، چي لاره را ښخه ورکه وي. اوس دچا ښخه پو ښتنه هم نه سم کولای، چي زه غواړم ځنګل ته ولاړسم، اونه پوهیږم، چي ځنګل ته څه وایي... ګورم چي جنازه ده ...دیوه بل سرخوړلي آواره مهاجر جنازه څوکسو پراوږو رااخستي وه... زه هم دنورو هردم شهیدو بي وطنو سره کرار، کرار بیله ارادی په جنازي پسي روان سوم....

څو قدمه لا نه وم تللی....ګورم ، چی دا خوزه یم ، چي اوږد په تابوت کي پروت یم او دا زما مړی دی، چي خلکو پراوږو را اخستی دی. نورچي راپسي راروان دي را باندي خاندي. ولي ماته دخپل مړي په لیدو ژړا راغله، ترسترګو مې اوښکې را توی سوي، زړه مي پرخپل ځان وسو.

ربښتیا هم څومره دردونکي ده چه څوک یوازي او بي وطنه مړشي ! ولي دستي مي عقل سرته راغې، وایم:

ـ بدبخته تر دي لابل ښه وخت دمرګ لپاره څه وخت دی؟ همدایې ښه ورځ ده، آبرومندانه یې په داسي ښایسته تابوت کې چي پلار دي لا په خوب کي نه و لیدلی ایښي یي، ښه دریشي یې دراغوستی ده، په ښه پاک عصری قبر

کی دی خاورو ته سپاري... زړه دي غواړي چې تردي لا نور هم کوچني سي او په شرمو وشرمیږي. نه دي کوم کار د وسه پوره دی او نه دي څوک پریږدي.... ومره ! ومره چې همدايي ښه وخت دی !

ولي ! نه ! دمرګ څخه دهرچا غوندي زما هم بد راځي. هیڅ څوک به پیدا نکړي چې پخپله رضا ښني اوږدي وغځوي اوعزرائیل ته ځان تسلیم کړي، که ډیر بیکاره او نوروته د اوږو بارهم وي خو همداچي ساه باسي خوشحاله وي.

رښتیا هم ده هرکله چه دچا پر ژبه دمرګ نوم جاري سي بله لار ځیني ورکه سي نو په مقاومت شروع وکړي او یا هم دعذر او زاريو لمن پرانیزي. که چیري موپام سوی وي ډیر داسي سویدي . ددي دپاره چه خپل ژوندی والی حتمي او ضروري وښیو دخپل ځان دتسلا او دنورو دغولولو دپاره دلیلونه راوړو اوهغه هم په لوړ اواز، پدي خاطر چې که چیري عزرایل دتصادف له مخي په دا نژ دو کوڅوکي تشریف ولري، وايي وري او ډبرین زړه یې در باندي وسوځي. زه هم همداسي وم، کله چي کوچنی وم چې چا به دمرګ او مړیني نوم را واخیست ویل به مي:

ته ودریږه وروره تراوسه مي لا څه خوړلي دي چه بیا مړسم. یو واري خو داخپل درس او مکتب خلاص کړم....

درس او مکتب چي خلاص سو بیا ، مي دلیل را وړ:
ته ودریږه چه یو واري ښځه وکړم دکوم خدمت مصدر وګرځم...
پس له هغه چې مې واده وکړ او د اولادو خاوند سوم، بیا مي بهاني کولي:
صبر،صبر چي اولادونه غټ سي که زه نه یم دازما اولادونو او ښځي ته به څوک ډوډی ورکوي.
ولي اوس چه اولادونه هم غټ سویدي او دښځي زړه هم را څخه صبر سویدي او مصرف یي هم بل څوک ورکوي...
اوهیڅ څوک ماته اړ هم نه دی او دا زه یم چي ونوروته محتاج یم او رنځ وړم ؛ ولي بیا مي هم زړه نه نه غواړي، چي مړسم او وایم:
مکوه چي یو واري مي خپل وطن ته پښه ور وره سیږي بیا که مړ هم سم باک نلري. ترڅویو واري بیا دا احساس را په برخه سي، چي زه هم انسان یم، وطن لرم ،غرور او عزت لرم او دلاسه تللي عزت مي د دوست او دښمن په سترګو کي بیا ووینم، هرو مرو به په هغه صورت کي مرګ هم په زړه پوري وي...
....زما تابوت یې موټر ته پورته کړ او زه دغسی ګنګس په سرو سترګو ولاړ وم، او دښایسته موټر ننداره مي کوله، چی زما تابوت یې ور پورته کړ....باران سو... جنازه په باران

کی زما د سترګو څه ليري سوه. نه پوهيدم، چي څه وکړم. يوازی په کميس کی وم، چتری هم نه درلوده. په ځغاسته می ځان دسرويس تم ځايته، چی د سړک ها خوا و ورساوه، چی لوند نه سم.... يو ګړی دغسی ولاړ وم، حيران پاته وم چی څه وکړم... ...

دموټړ په تم ځای کي، يو کو چني هلک چي پزه يې بهيده دښوونځی بکس يې په شا و، داسي فصيح او روان يې دبل هلک سره په جرمني خبري کولي، چي خوله مي خلا صه ورته پا ته سوه. بيله ارادي می تر خولي را ووتل:

ـ د مور شيدي دي سه. دا ته خو تر ما ښې خبري کوي...

دا اول وار و، چي اعتراف راڅخه وسو. کنه زما لپاره ددي منل ډير سخت کار و، چي ووايم بل څوک تر ما ښه پو هيږي. اوس پوه سوم، چي زه دده په نيمايې هم خبري نه سم کولای.

دغفلت له خوبه دي خدای څوک وساتي.

تل مي داسي فکرکا وه، چي تر نورو برتره يم. اخر پنځه زره کاله تاريخ مو درلود، دري واره مو انګريزانو ته ماته ور کړي ده، يو وار هم روسانو ته... خدای خبر نور مو څه څه کارونونه کړي دي. کروړ او رستم ....غوندي پهلوانان او باتوران مودر لودل : زه يم زمری په دي نړی له ما اتل

نسته.. دد غسي خلکو زامن باید زمریان وای، په هر څه پوه وای. او ترهرچا پوه وای. هیڅ چا ته مو تن نه ورکاوه.

ددي خبري په پوهیدو هم اسانه کار نه و، په نورو خونه یم خبر، خو زما خو پنځوس کاله په کار وه چي په دي پوه سوم، چي نه...دا زه نه یم چي تر نورو زیات پوهیږم، دا نوردي چي ترما پوهـ دي...

... ښاری سرویس راغی، همدا چي بس ته ور پورته سوم، ګورم، څو سترګی زما وخواته را واړول سوی ، غو ښته می چی مخته ولاړ سم چی یو ه تنکي ځوان یوه ښا یسته پیغله ټینګه په غیږ کي نیولي ده او نازک شونډان یې زبیښي، دسرویس په منځ کی یې لاره بنده کړی ده. په لیدو یې لکه سپین ستر ګی. تر ډیره مي سترګي دغسي بي حرکته پا ته سوي. دځانه سره وایم:

ـ نوش د نر بچیه افرین دي ستا په جرئت سي. جر ئت ته دي سلام دی، که دا کار په خوب کي لاماکړی وای ، دنیکه نوم به مي لا بد وای.... دُری خو لا څه کوی. ستاسو څخه به یې څه پتهوم یوه شعری جذبه راباندی راتله. په بل تم ځای کی دوی کښته سول، لاره خلاصه سوه، مخته ولاړم

دځټ دخوامي و پیژندی. مدیرصاحب تواب دهغو مهربانو خلکو څخه و چي خیریې وټولو ته رسیدی. خوله به یې

همیشه له خندا ډکه وه. خوږو خبرو یې تو له مجذوبول. زما د پلاره سره یې اشنایي درلوده. خوشحاله وم چې دلته له زموږ سره په یوه ښارکي ژوند کاوه.

دمدیرصاحب په لیدو دخوشحالی احساس راته پیدا سو، چې یو ځوکړی دده له عالمانه خبروڅخه خوند واخلم، په بیړه مي ځان ورنژدې کړ وځنګ ته یې کښینستم، سلام می ور واچاوه.

مدیرصاحب په مینه مخ را واړاوه : وعلیکم سلام، ته شه ل د کومه لکه صحرايي موږک غوندي را پیدا سوي؟

ورته ومی ویل: مدیرصاحب زه یم، جان آغا لکه چې ومو نه پیژندم؟

- ځنګه مي ونه پیژندلي، هغه اوښ مرغی پلار مي دی لا پیژندی...

حیران پاته وم چې مدیرصاحب ولی داسی چټیات ترخولی را باسی، یو څه جدي سوم:

- مدیرصاحب درناوی اواحترام موزیات لرم ولي وبخښی، تاسو...

مدیرصاحب زما خبره پري کړه:

- که بخښنه وغواړي که یې ونه غواړي ځنګه وکړم، ټټو جانه عادت سوی مي دی...

له اوښکو یې سترګي ډکي سوي، جولیته یې څیرسوم ، هغه پخوانی تازه اوشیرازه مدیرصاحب نه دی. باړخوګان یی رازړیدلی و، سترګویې توره سایه اچولی و. مدیر صاحب د پزی په دسمال خپلي سترګي پاکي کړي، وی ویل:

ـ لوده جانه ما وبخښه، ژبه می په اراده کی نده، عادت سوی مي دی. دا دسپی زامن، اولا دونه می دربښیم، داسی یې ژبي رو سویدي، که په کورکي یو اوبل په همدی نومونو یادنکړو، ډوډی خوند نه راکوي. ټوله ورځ مو دا چټیات تر خولی بادیږی. دا خولا څه کوي، نوی کسب اوکمال مو زده کړیدی....

که یوګړی نورهلته پاته سوی وای، ښایی نور به هم بي آبه سوی وای، زړه می غو ښتل چي دخپل تصمیم څخه یې خبرکړم، ولی همداچي سرویس ودریدی، بیله خدای په امانی دسرویس څخه کښته سوم.

.... یوه پارک ته ننوتم غوښته می چي یو رګ ووهم، که ګورم دپارک په یوه کنج کي، یوه ښځه ، چي ډیر غلیظ سینګار یې کړی و او لنډه سره لمن یې اغوستي وه، دخپل واګن موټر سره ولاړه وه،....څوکسه چي هر یوه یې یولاس دپطلانه په جیب ننیستلی و په لین کي ورته ولاړ وه.

خندا راغله چي تر ما خلک دیته ډیر اړ دي، هغه هم دغسي محترم او نکتايي لرونکي کسان...

د پارک څخه ژر را ووتم ، په ښار کی دخلکو تر منځ روان يم ، لکه معمول سر مي کښته اچولی دی دځانه سره بوخت يم، يو وخت چی مي سر را پورته کړ، ګورم چی بيا دخلکو دسترګو ښکار يم او يو په بل پسی سترګی زما وخواته را اوړي سترګی می ښه ومښلي ، رښتيا هم ټوله ماته کتل ، لاس می دستی دپطلون وخواته ولاړ، شکر ځنځير مي تړلی و. معمولاً کله چي دتشنابه راوزم، داچي کار می تر سره سوی وي، دستي بيا دخپل روزګار په فکر کی سم ، هير مي سی چی ځنځير پورته کړم. لاس می پرسر او مخ را تير کړ، چي که د ډوډی کومه ټوټه مي دخولي په کونجو که مښتي يی يا می په پزه کی کوم شی بند وی. دا سي شی می پيدا نکړه ، چی دعام او خاص نظر ځانته جلب کړي، دځانه سره وايم ، څه مهمه نه ده، ښايی زما تورو ويښتانو او سوځلی جولي به دخلکو توجه ځانته را اړولي وي، بيا وايم ! نه تور ويښته او تور مخي خو دلته کم نه دي. تور ږيره او را وتلی نس می هم په زړه پوري نه دی... نو دا خلک ولی راته ګوری؟

وينم چي دښار په مرکزي میدان کی ډیر خلک سره را ټول سویدي ډیر ه ګڼه ګوڼه ده. ځان می ژر ور ورساوه تر څو دخلکو په ګڼه ګوڼه کی دخلکو دسترګو ځان په امان کړم....

دلته ټولو ناری وهلي، ږغونه دومره لوړ او سره مښتی دی، چي هیڅ نه پو هیږم، چي څه وایی...ترڅو می تر سترګو دخلکو جولی فوکس سوی او ږغونه هم یو په بل پسی فلتر سوي او واضح تر غوږو سوه. په یوه کنج کی ودریدم، ټولو ناری وهلي:

ـ درواخلی او بیخبرو درواخلی چي عجب شی دی.

ګورم ،چي دلته هم دخلکو دسترګو څخه په امان نه یم ښایی ټولو دخرڅلاو لپاره څه درلودل ، او زه خالی لاس ولاړ وم ، ما هم په دی خاطر چي څوک څه ونه وایی، خپل ږغ پورته کړ:

درواخلی او بیخبرو درواخلی چي...

هر چا چي هر څه درلودل دخدای او راستی پر میدان یې اوډلی وه، داسی خلک هم وه چي ما غوندی یې هیڅ شی دخرڅلاو لپاره نه درلودل ، ولی چیغی او ناری یې وهلی :

ـ ددی جناب مال ښه دی ، دهغه بل بد خویه مال مه وړی پښیمانه به سی.....

زما تر څنګ بیا یو ډنګر سړی، چی لوړ قدیې در لود ولاړ و. ځان یې ښه په غوړو غوړ کړی و اوبدن یې د لمر تر وړانګو لاندی بریښیدی. پنډ شونډآن یې په چتکی خلاص او تړل کیدل ، دغاړی رګونه یې پړسیدلی وه او لکه زوړ ریکارډ ئې تکرارول :

ـ زما کلام شرین دی، پیغام می ډیر رنګین دی

ـ بازوګان مي دي د سربو ، نظر مي ډیر تیزبین دی....

آزادي وه ، قید وبس نه و. هرچا ، چی هرڅه زړه غوښتل ، دخپلی متاع په هکله ویل. د رږغ په لوړوالي هم کوم تعزیرات نه وه وضع سوی. هر چا چي به په هره پیمانه، رږغ لوړا وه، کولای ئي سوای، مهمه دا وه ، چی څنګه خریدار را جلب کړی او خلک پر ځان را ټول....

د بازار په منځ کی می ستر ګی پر سوزي ولګیدی ، چي دځان لپاره یې ارګاه او بارګاه جوړه کړی وه. دا مشهوره سوزي درته ښیم. چی په تلویزیون اومجلو کي یې لڅ عکسونه چاپ سوي وه . دی خدای وهلی بیا داسی په آب وتاب خپل زړیدلی او بد رنګه اندام باندی لاس تیرا وه او په نازاو نخرو یې ویل:

ـ درواخلی، پاسته دی، زړه وړونکي او تاوده....

ډیر راته په زړه پوری وه، ولی بیا می هم ځان راضي نسوای کړای ، غو ښته می چی دګڼه ګوڼی څخه را وزم ،

همدا چی دسوزی مخی ته را ورسیدم، ځان می ور نژدی کړ، په ډیر مهارت یې خپلي لکي او ګونجي ډکی کړي او په پوډرکاري کړي وي، چي تا به ویل اتلس کلنه نوی نزی انجلی ده. تندی می تریو سو او پر مځکه می توکړه.

سوزي متوجه سوه، تر غاړی یې ونیولم، خوله یې رانږدی کړه:

- ولی ارمونی په دا ټوله بازار کي دی یوازي زه په نظر بده درغلم، چی زما ومخ ته دي ناړی تو (تف) کړي؟

سوزي خپل دخولي کنجونه په خپله بارداره ژبه پاکي کړي او، زیاته یې کړه:

- زویه دا یوازی زه نه یم چی ځان می لاسکاری او پوډر کاری کړی دی دلته بازار دی او هر څوک دخرڅلاو له پاره راغلي دي، ټولو خپل مال لاسکاري و پُرکاري کړی دي، چي په آسا نی نه لیدل کیږي. دخپلي متاع بد هیڅ څوک نه وايي او نه یې هم ښکاره کوي، تو پیر دادی، چي زه بل څه نه لرم خپل تن خر څوم، چي په نظریوبل ډول درغی، هغه یوازی قلم لری، هغه خپل قلم خرڅوی ... او ته چي نه قلم لری او نه تن، ته بیا خپل حماقت خر څوی، دلته دکباړی بازار دی هر څوک باید خپل زوړ او تر وخت تیرشیان دنوی او ناب په بیه خرڅ کړی. سردي خلاص سو زویه ؟؟؟ اوس نو ورک سه...

## دریيمه برخه

## جانو

.... که مې سمدلاسه ترلاس نه وای کش کړی. موټر وهلی و. رنګ یې سپین الوتی و، پورتنی شونډه یې غورځیده د

ا دجانو عادت و چی لږ به یې اعصاب خراب سول اویا به یو څه زور وربانديي راغی نو بیا به یې پورتني شونډه په غورځیدو سوه. پوښتنه مي ځیني وکړه:

ـ د خیره لکه چي د ځان وژلونیت دي کړی دی؟

جانو څو واری پس پس وکړ. د وچوشوندو څخه یی آواز را ونه ووت. یو څوشیبې می صبر وکړ، چې پرخبرو راغی:

ـ پوښتنه مه کوه، داشرم اوس چیري له ځانه سره یوسم...خپل اولاد رابانديي شرمیږي !!!

ـ اعصاب دي آرام کړه. اوس خبره څه ده؟

بیله دینه چی زما خبره واوري دځانه سره اخته و:

شرم او رسوایي تر دي نه زیاتیږی، خپل اولاد مي اوس ما نه پیژني...

بیا مي خپله خبره تکرار کړه:

ـ ته سمه خبره وکړه. څه سوي دي؟

جانو راته شروع سو:

ـ نن یې زما دلور په خاطر و مکتب ته غوښتی وم. څو واري نورنه وم تللی. ما ویل که دا واری هم ورنسم. دا ښوونکی به یې وایي چي داڅنګه پلار دی، چی دخپل اولاد له ښوونې او روزني سره هیڅ علاقه نه لري؟... مکتب ته ور ننوتم چي دمکتب دآمر دفتر پیدا کړم. زړه مې ډیر هوس کاوه چي که اوس مي لورکۍ هم دلته وي، چي ویې

وينم. څرنګه چې دتفريح ساعت و ، ګڼه ګوڼه ډيره وه. اول مي ونه ليده. يوه شيبه وروسته مي چې نابېره سترګې پرې ولګيدي. رنګينه دخپلو همصنفيانو سره يوځه ليري ولاړه وه. ږغ مي ورباندي وکی. دي لنډ راته وکتل او ډير بې تفاوته يې خپلې دوي ګوتي لږ پورته کړي او وي ويل: های !

او بس، نوريې هيڅ اعتنا ونه کړه. حک حيران پاته سوم، چې لور مي ولي زما په ليدو خوښه نسوه؟ نه راغله او نه يې هم سلام واچوی. فکرمي وکړ چې هرومرويې نه يم پيژندلی ! بيا د ځانه پوښتم چې څنګه امکان لري، چې ومي نه پيژني؟ څوارلس کاله مي پخپله غيږه کي لويه کړيده. که ما ونه پيژني نوڅوک به وپيژني. کوم داسي تغير مي هم په ظاهري وضعه کي نه دی راغلی. د نورو ورځو په پرتله مي دادی ، ږيره هم چپه خريلي ده، ويښتان مي هم ږمنځ سويدي. په کالواوجوله کی مي که کوم بدشی ويني؟ دادی ته راته ووايه ! پاکه دريشي مي اغوستي ده. مخ او شونډي مي لکه د شرابيانو غوندي نه دي را زړيدلي. څلور ثابت اندامه لرم. بيا هرڅه چي نه وي دا زما اولاد دی، ولی بايد ما ونه پيژني؟ اوځان تيرکړي. يوعمر مي په عزت ژوند کړی دی. همدا د دوی په خاطر وو ، چې ان تردی ځايه

پوری تقدیر راکش کړو: چي په دوی څه ونه سي. د درس او تعلیمه پاته نسي...

ماته خندا راتله، جانو داسي په احساساتو خبري کولي، دخولي ناړي يې باديدلي.

نو دا چي مسخري مي ورسره درلودي نوپه ټوکومي ورته وويل:

ـ ستايې زړه چې منې يې که نه؟ قسم خورم، چې زه له ځانه شرميږم ! ته فکر کوي چي دڅا ظاهر ښه و نو څوک بايد په ونه شرميږي؟ په نکټايي څوک نه سړی کيږي! دکوم عزت او آبرو خبري کوي؟ هغه وختونه چې پخپل عزت او ابرونازيدلو، اوبو يوړه. فکر وکه چي اوس څوک يي؟ يو مهاجر داکوم صفت دی؟

ته دي درد په کراری وخوره. نژدي و، چي مور دي درباندي بوره سوی وای... اوس هم يو څوک تاته ضرورت لري اوپه دا دغمه شنه زړه کي دي حتمن زرغونه اميدونه لري.

جانو چپ و. نوريې شونډه نه غورځيده فکر مي کاوه چي زما دخبرو تراغيزلاندي راغلی دی، ولی جانو سر وښوراوه اوپه غلی اواز يې راته وويل:

ـ کوم اميد؟ يوازينی اميد مي همدا اولادونه وو....

اوس نو زما وار و، غوښتل مي، چی ژر خپل تاریخی تصمیم ور ته ووایم... پرون مي ډیر تلیفونونه درته وکړه، داسی یو تصمیم، مي....

جانو لکه چی نه اوریدل خپله دچایو پیاله یې پورته کړه. څو واري یې پوف کړه، بیله دي چي غوړپ ځینی وکړي مخ را واړاوه.

ـآخر به یې څنګه سي؟...

ومي پوښتی: دڅه شي آخر به څنګه سي؟

جانو نورهم جدي سو:

ګوره وروره له آسمانه نه یې راکښته سوی، ته هم ما غوندي یې. هغه درد چي زه لرم ته یې هم احساسوي ولي دخدای په پار کومه چاره نه سنجوی؟

جانو سم دلاسه راڅخه وپوښتل: کله چي آلمان ته راغلي څومنه وي؟

په خندا مي ورته وویل: دمن په حساب دي نه پوهیږم. خدای می دي غاړه نه بنده وي شپیته ـ دوه شپیته کیلو به وم... ولي؟

جانو اوچت له ځایه ولاړ سو، خپله لمن یې پورته کړه: ها ! دا دی وګوره چي له هری خوا څخه مو دبی غیرتی او مفت خوری غوښي راځړیدلي دي، هغه کارونه چي یو وخت یې په ویلو شرمیدلو، اوس په اخته یو اوعادت مو

ورسره کړی دی. درواغ مونه ویل، ویل مو چی درواغ دایمان زوال دی. اوس ټوله ورځ دروا غ وایو هره ورځ د صوفی ومخیته په اوږدو لیکوکي کږه غاړه ولاړیو اوهغه څه چي لرو، وایو نه یې لرو.کله چي بیا دساټو باټو وخت راسي، بیانو سترګي پټی کړو اوخوله خلاصه: څوک نه وو؟اوڅه مو نه کول؟

شپه او ورځ مو د ډاکټرانو په کتنځیو اویا د دوا په کپه کولو

تیریږي. په خدای دونه درد مونه درلود. پوهیږي چي علت یی څه دی؟ وختی بیدیږو او ناوخته راکښینو اوخوب هم نه لرو. خلاصی سترګي پراته یو، لمونځ اوعبادت خوڅه کوي؟

جانو لکه لیونی، یوواري شین د خندا سو : کیسه واوره چي پر پښتورګو دي درد سي...

دشپي خوب وینم چي یوڅوک مي ترغوږ کشوي او راته وایي ولاړسه لمونځ دي قضا کیږي. ومي نه پیژندی، چي څوک و، خو دغوږو کشول می دخدای بخښلی مورعادت و...ژر له خوبه را ولاړ سوم، دابه نو د ورځی لس بجي وي. په ټوله کورکي وګرځیدم، چی یو پاک کالي دلمانځه لپاره پیدا کړم، ولی په خوا شینی ټوله مشکوک وو... اودس مي تازه کړ، اوس جای نماز نسته. ګورم چي هغه درنګینی مور

د دروازي په خوله کې اچولی و. اوس بیا قبله را څخه ورکه ده... نیت می وکړ... الحمدو... می شروع کړه... اهدنا... ته چي ورسیدم نورمي هیر دي. بیا مي الحمدو... له سره را شروع کړه ولي په اهدنا...کی بند پاته وم. دریم که څلورم وار وو چي پرخوله

مي صراط المستقیم راغی... اول واری و ، چې اولادونو می. صفدر او رنګینی لیدل چي دپلار خوله یې ښوري، کښته پورته کیږي اوڅه نه وایي.... راباندی خندل یې... نژدی وو چي ګاونډیان را باندي خبرکړي !... ماته هم خندا راغلي وه ،چي اوس داڅه بلارا باندي نازله سویده. څنګه دهرشي څخه بیګانه سوو...

جانو بیا جدي بڼه غوره کړه یو سوړاسویلی یې وایست...

د رنګینی مور بیا اوس موډي سویده. دهغه څه، چي یې ډیر بد راتلل... په یاد مي نه دي چي کمه ورځ به یې تر خولي راته را وتلي وي، چي کالی مي زاړه دي اویا بوټونه راته واخله. ولي اوس هره ورځ په یوه پلمه نه، په یوه پلمه سودا کوي. نن (پیش درزکه ) لمن موډ دي اوسبا بیا (پس درزکه ) پخوا ، چي به مي ډیره مجبوره نکړه.

سرخي اوسپیده یې مخ ته نه نژدي کوله او اوس هره ورځ سره او شنه بوتلان دګرانو مغازو څخه را نیسي اوپرمخ یې مښي.

کوم د موري زوی ورته ویلای سي، چي دخدای له پاره لبسرین او دنوکانو رنګ که ضرور وي باید دمخ اوکالو له رنګه سره جوړ وي...شنه نوکان، تور نکریزي سوي لاسونه. نسواري لبسرین اوشاوازې (پس واز) سرمه یي جاکټ لمن . ته او خدای سره جوړیږی؟؟؟

له بده مرغه ټول کړه وړه مود تظاهر اوهم چشمی له مخی ترسره کیږي، هغه شی چه نه پري پوهیدو...

ارمان مي درلودی، چی زوی مي ددي خلکو له پوهی څخه ګټه یوسی ولي سګ وان سو. له هغه کاره، چي مو ننګ درلود. شپه او ورځ یې دخپلو ویښتانو سره جنګ وي. کله یوه خوا وخریي اوبله خوا اوږده پریږدي، کله بیا نیم شنه کړي او نیم سره...

رنګینه لورمي بیا دلنډو او تنګو کالو په اغوستلو او دترخو او بدو په ویلو کي جوړه نه لری... هغه ورځ یې په تلویزیون کی افغانستان ښکاره کاوه. زه نوڅه په مینه دخپل ویجاړ وطن خرابی اوسر اوپښی لوڅي لوغړن وطنوال وینم چی دیخوا ، ها خوا ځغلي. پخواني یادونه مي یوپه بل پسي په مغزوکي را ژوندي کیږي... چي په همدي شیبه کی یې خپلی اوږي پورته واچولې اوپه ما ته ژبه یې وایی:

ـ څنګه ډنګر ډنګر تور اوچټل فوس( پښی) یې هم لوڅ...

دڅپيړي اوچيغي وهلو جرئت خومي نه درلود له تانه به يې څه پټوم نوکرار مي له ځانه سره وويل:

ته دابوجهل لورڅه شي يي اوڅه شي وي؟ ته هم له همدي جنسه يي. ته بايد په خپلو خلکو او وطن و وياړې... چي بيا يې خوله خلاصه کړه:

ـ افغانستان ! شايزي (چټل، مردار).

ددي خبري په اوريدو مي نو نور زغم له لاسه ورکړ. پداسي حال کي چي له قهره ريږديدم، ورته وويل:

ـ ته شايزې... پلاردي شايزې... موردي...

دجانو خبره مي ور پري کړه :

جانو په دي خبرو ډير ښه پو هيږم، ته دي يو څه اعصاب ارام کړه...ما هم غو ښته چي يوه خبره در ته وکم، دا دی ښه سو چي سره ومو ليدل....

ولی دجانو ستر ګي سري وي، وضع يې ډيره خرا به وه، نور مي نو څه ونه ويل.

جانو چي لا واده نه و کړی يو وار دغسي تکليف ورته پيدا سوی و، خوب به يې ليدی ،چي له يوي زړي اپولو سره سفر کوي او بي رنګه اتش بازي يې روزګار او چورت خراب کړی و.

څرنګه چي جانو پر دا راز خرافاتو ډير باورهم درلود، فکر يې کوی، چي زړه اپولو د تابوت مانا ورکوي چي له

دي فاني دنيا څخه يې بلي دنيا ته دسفر وسيله ده او آتش بازي دپوچو پټاکيوسره، دده دبيکسي او بيوسي مانا ورکوي چي له ده سره يوځای ځي.

د ملګرتوب پراساس او ددي لپاره چي ډاډه يې کړم چي اپولو او آتش بازي حتمن دتابوت اومرګ مانا نه لري، خو اب نامه مي پيداکړه. ولي په خواشينی سره دجانو د وژونکوخوبونو تعبير په خوابنامه کي نه و. ځکه دخوابنامي چاپ پخوانی و او اپولو او آتش بازي، دوي بشپړې نوي اومعاصري پديدي. معلومدار، چي ذکريې هلته نه وو راغلی.

دجانو حالت ورځ په ورځ نورهم خرابيدی. ماچي نه غوښتل چي خپل ملګری پدي حال کيووينم اوپه دي خاطر چي ډاډه کړی مي وي، دملا په لټه سوم. ځکه زموږ په ويجاړ سوي هيواد کي دخوب تعبير يوازي دملايانو کار وو. ولي دجانو دبده بخته په ټول آلمان کي دافغان ملادرک نه وو... نه پوهيږم چي له اوله مي ولي فکرکار ونکړ. څرګنده وه چي څه ملايان، چي مو درلودل، لستوڼي يې را نغښتي و او په سياست او دتاج اوتخت دلاسته راوړلو په خاطر په راکټ بازيو اخته وو.

دجانو وضع ورځ په ورځ نوره هم خرابيدله، غوښتل مي چي ډاکترته يې بوزم، خو جانو رښتيا ويل:

زه خو دردنلرم چي ډاکتر ته ولاړسم زما لپاره يوڅوک پکار دی، چي خوبونه مي تعبيرکړي...

په پای کي اړسوم چي يوترکی ملا پيداکړم . دترجمان سره يو ځای و هغه جناب ته ورغلو.

ملا له جانو څخه وغوښتل، چي خپل خوب ووايي:

جانو وويل: خوب وينم، چي آتش بازي کوم.

ملاوويل: مرحبا !

دجانو څهره سره وغوړيده، ولي سم دلاسه يې بيرته آواز نری سو: اما پوهيږي ملاصاحب، زما آتش بازي له پوچو پټاقيو سره ده

چي هيڅ رنګک او اور نه لري...

ملاسر وښوراوه. هرومرويې په خپل مغزکي دپوچو پټاقيو تعبيرلټوی، بيايې له جانو څخه وپوښتل:

- يوازي همدادي؟

جانو وويل... نه... همدا راز په خوب وينم چي په يوي اپولو کي آسمان ته پورته کيږم.

ملابيا وويل: مرحبا...

جانو يې په خبره کي ورولويد: امادغه اپولو چي زه هره شپه پکښي ځم يوه غورازه او مبلاين خوره اپولو ده او کله کله تيل هم بندوي.

ملاصاحب په ډیر وضاحت دا مسئله، ډیره عالمانه تعبیر کړه:
ـ په مسلک کي به دي ډیر ژر پرمختګ وکړي او بریالي توب به دي په برخه سي.
بیا یې له جانو څخه وپوښتل: څه کار کوي؟
جانو جواب ورکړ:
ـ تشناب پاکي او داسي نور...
ملاسمدلاسه دموضوع حساسیت درک کړ. ددي لپاره چي خپله خبره یې ترمیم کړي وي او دجانو تشویش یې هم درک کړی و، وویل:
ـ البته مقصد مي ستا اصلي مسلک دی، زه یقین لرم چي دتشناب پاکي فاکولته دي نه ده ویلي او داچه اپولو زړه ده، دا په دي مانا ده چي دا پرمختک به یوڅه سست غوندي وي ضروردی، چي دوستان دي درسره مرسته وکړي...
ملاپس له یوه لنډ مکثه دآتش بازی خوب هم عالمانه تعبیر کړ:
ـ ډیر دي زړه غواړي چي غشی دي پرښبان ومښلي...
ویې پو ښتل: ښځه لري؟
جانو سملاسي جواب ورکړ: نه...
ملابیا ځیني وپوښتل، څوک دي خوښیږي؟

جانو وویل: هو.

ملاسمدلاسه په خوشحالي وویل: مرحبا... هرومرو پر نجلی هم ګران یې؟

جانو په نیولي ږغ وویل: نه !

ملابیا وویل: معلومدار، معلومداره، و دي لیدل. پوچې پټاقی دنجلی دلاسته راوستلو په خاطر هڅه ده، څرنګه چې تر اوسه یې نتیجه نده ورکړې او د انجلي زړه دې نه دی ترلاسه کړی. له همدې کبله دې پټاقی یوازي خاورې دوړوې اورنګ او اور نه لري...

ملا په پای کې جانو ته ډاډینه ورکړه، چې پس له دې به یې، پټاقي رنګ او اور پیدا کړي او انفجارات به یې هم پیاوړي سي. تعویذ یې هم ورته ولیکه.

دا په دې مانا ده چې جانو خپل مراد ته رسیدی.

همدا راز دا پولو په اړه یې هم ورته وویل: چې دیوه ښه او آبرومندانه کار په لټه کې سه، بیله شکه به تردې وروسته له یوې نوې اپولو سره بیله تیل بندولو سفر وکړي.

جانو خوشحاله و، چې بالاخره یې خوبونه تعبیر سول. پس له دې نه به د دې لعنتي اوسترې کونکو خوبو نه خلاص سي...

څو ورځې وروسته چې مې ولیده سترګې یې په ګوګل ننوتلې وې، سریې ریږدیدی، ډیرپریشانه ښکاریدی. زما

په لیدوېږ په غاړه کي لاس را واچوی اوپه لوړ آواز یې بغارې کړې:

ـ زه مرم، نه یوازي ، چي اپولومي نوي نه سوه، بلکي هره ګړی یې باید تیله هم کړم، نه یوازي پټاقیو مي رنګ او اور پیدا نه کړ. اوازونه یې نورهم لوړسول، او خاکباد یې هم زیات سو...

نورمي نو په دي حالت کي دخپل دوست دلیدوتوان نه درلود ، اړ سوم چي ډاکترته یي بوځم.... ډاکتر معاینات بشپړ کړل ولي هیڅ یې هم پیدا نه کړل.

دجانو د آرامولو لپاره یې غوښتل چي یو دوه قلمه داعصابو دوا ورته ولیکي. دتصادف له مخي یې وپوښتل:

ـ دکوم ځای یاست؟

جانو ورته وویل د افغانستان.

ډاکتر قلم پرمیز کښیښود اوپه خندا سو. خندایې نوره هم لوړیده.

زه او جانو د ډاکتر دي بي ځایه خندا ته حیران پاته وو.

ډاکتر همداسي، چي خندل، مخ وجانو ته واړاوه اوبیله مقدمي یې وویل:

ـ دسهار دخوا حتمن یوګیلاس تریخ یا خوږ چای څښي. دغرمي دخوا چي په کارکي يي، هرو مرو کوم ساندویچ خوري. او یوازي

دشپي دخوا چي پرکور يي په پوره اندازه ډوډی خورې او ځرنګه چي ورې هم وي، نو ډوډی ژر ژر بيله دي چي ښه وژويي تر ستوني تيروي...

جانو حيران پاته و ، چي ډاکتر ځنګه په داټولو پوه شو ، پداسي حال کي چي دډاکتر دخندا څخه خپه هم و، وويل: تاسو ځنګه پوه سو است؟

ډاکتر په داسي حال کي چي دخندا اوښکي يې پاکولي، وويل:

ـ ستاسوعادت را معلوم دی. که کوښښ وکړی، چي دشپي يوڅه سپکه ډوډی وخوري. او ښه يې و ژويي او وروسته تر ډوډی، په‌آزاده هواکي يو څوشيبي قدم ووهي، انشاالله په تضمين درته وايم، چي نور به دآتش بازيو او اپولو بازيو څخه خلاص سي....

...د جانو د وضع په ليدو مجبوره سوم چي جانو ترکوره ورسوم، خو کاشکي نه وای ورسره تللي، اوپښني مي ماتي سوي وای، ماغوښتل چي ترکوره يې ورسوم، چي خدای نا

خواسته موټر يې ونه وهي او يا چيری غوزار نسی او دخپل تصميمه می هم بايد خبر کړی وای اوکه بلد وي چي د ځنګله لاره را وښيي.

کله چي يې کورته ورننوتلو، زه يې دسالون وکوټې ته بوتلم، او پخپله چي يې هرومرومعذرت درلود، اجازه يې وغوښته چي ځوشيبې مايوازي پريږدي...

ماهم دده وتلوسره سم يوسګرټ ولګاوه. د الماری دسره څخه مي ایرنۍ راکښته کړه....

همدا چي دجانو له تشنابه راووت، ماهم اجازه وغوښتل چي زه هم ځان سپک کړم.

خدای خبرچي په څه چورت کي تللی وم. دهغه ستونزي له مخي چي راپيښه ده يوڅه زيات وخت په تشناب کي پاته سوم.

دچا رږغ مي تر غوږو سو، ښه چي مي غوږونه څلورکړه، د جانو رږغ و، چي په لوړ آواز يې له چاسره غالمغال و، بيامي ديوي ښځي رږغ ترغوږو سو چي ژړل يې او دي هم په لوړ آواز خبري کولې.

وارخطا سوم، چي څه پيښه ده، ژر مي کمربند وتړی اوله تشنابه را ووتلم، په رښتيا هم دجانو رږغ و، چي دخپلي ميرمني سره يې دسالون په کوټه کي غالمغال درلود. پښه مي ونيول، جانو په لوړ آواز ويل:

ـ که ځوک نه دي راغلي نو داسګرټ چاڅکولی دی؟ ژر ووايه ځوک راغلی و؟

میرمني یې هم چي د جانو غوندي په لوړ آواز خبري کولي، همداویل:

- تاخپل عقل دلاسه ورکړی دی، زه څه خبره یم چي دا سګرټ چا څکولي دی...

دلبر بیا ورغبرګه کړه:

- چي څوک نه دی راغلي نو دا سګرټ دچا دی...

خوارکی جانو، لکه چي هیرسوي یې وه، چي یوبل څوک هم له ده سره کورته را غلی دی. له دینه مخکي چي خبره نوره هم مرداره سي، باید ویلي مي وای، چي دا سګرټ زما دي.

په لوړ آواز مي وټوخل اوکوټي ته ور ننوتلم. میړه اوماندینه دواړه چپ سول. د دواړو مخونه لکه جغندر سره سوي وو.

مایې دمیرمني سره سترګي مسي وکړه. میرمن بیوزلي خویې نه وه خبره چي څوک یې کورته راغلی دی...

پرما له شرمه خولي راماتي وي. د جانو لکه روح چي یې قبض سوی وي هیښ پیښ پاته و....

د ډیره شرمه په چټکی یې له کوره را ووتم....

## څلورمه برخه

## ديسکويي نادر

... مخامخ را راوان و، يوه غټه ګلرنګه د چاکليټ قطی، چې سر يې خلاص و اولکه د مودبه ګارسون غوندي يې پرخپل چپه لاس ايښي وه. غټه ژړه راه داره کرتی، چې سريې ډير کوچنی ښکاره کاوه، چسپ تک سور پطلون، ګلداره شين نازک کميس چې ترلاندي يې ګل سرشويي انګيا ښکار يده. همدا چې سترګي يې پرما ولګيدي خرامان خرامان را نژدی سو، که څه هم خوله يې ډکه وه او نه يې سوای کولای خوله سمه خلاصه کړي، خو سترګي يې بريښيدلي، د خولي تارونه يې سره کش سول، غيږه يې راته پرانستله او په ډيره مينه يې په غيږکي ټينګ ونيولم. او په ډکه خوله يې پر دواړو خواو مچ کړم...

ومي نه پيژندي... خودده دبي کچه ميني په خاطر ماهم لاسونه پر راوګرځول او ومي پوښتی:

ـ سترګي مي روښانه، شکردی چې بيامو په ژوند سره وليدل...

نورمي څه ورته ويلي واى... داسي نه واى سوي چي زه يې
داولاد و پوښتنه وکړم او دى سنډه وې... خولکه کوک سوى
چي وم ترخولي مى ورته راووته:

ـ ښه ښه، اولادونه دي.... داخو عجيبه نيک تصادف دى؟
ده برګ برګ را ته وکتل، ژول سوي چاکليټ يې په ډير
مشکل يوي زامي ته تخته کړه او په نيمه خوله يې راته
وويل:
ـ لکه چي ودي نه پيژندلم؟
ژرمي په جواب کي ورته وويل:
څنګه مي ونه پيژندلي (ښنګ ښنګ مي وکړ ولي هيڅ
مکمل نوم مي ترخولي را ونه وت )
ده راته وويل: زه نادريم
په ډيره خوښي مي بيا په غيږ کي ونيوى... په داسي حال
کي چي پرمخ مي مچاوه، له ځانه سره مي فکر کاوه چي دا
کوم نادر دى، ورتهومي ويل:
ـ څنګه وکم وروره حافظه مي خرابه سوي ده، ته څه وخت
په خير راغلى يې؟
بيا يو څه چورتي غوندي سو په نيولي اواز يې راته وويل:
ـ لکه چي ودي نه پيژندلم؟ زه نادرخان يم... احمد نادر.
ددرواغو خندا مي وکړه: خود غسي ووايه زوروره...

بیامي په غیږکي ونیوی:

ـ ګوره چي حافظه څنګه ناځوانی کوی. دپلار او مور احوال دی لري؟

دنادرخان دا واري تندي تریوسو، سترګي یې له او ښکو ډکي سوي:

ـ دقبر څخه به څنګه احوال واخلم...ښه دي

ټک یې راباندی وکړ ژر می خبره تیره کړه، خوله او مخ مي سره ګونځي کړل او ورته و مي ویل:

ـ خدای دي جنتونه په برخه کړي... الحکم لاللّٰه،...

نادر دچاکلیټو قطی را مخته کړه او په نیولي اواز یې راته وویل:

ـ خیر دی مهمه نه ده، واخله چي عجب شی دي.

او ددي لنډي جملي په ویلویې بیاځو زری چاکلیت دخولي له کونجو څخه پر مخ او کالو را باد سول، ځان مي خبرنه کړ، په جواب کي مي ورته وویل:

ـ کوردي اباد چاکلیټ نه خورم، شکره می یو څه لوړه ده.

یوه مانا داره موسکا یې وکړه:

ـ واخله واخله، زوره وره نه دي وژني، هرڅه چي بیا دسید دوست له کوره راوزی خاوره یې خورده ده، دهر مرض لپاره دوا وي. مزه داره دي، هیڅ فرق نه کوي چي دوه دري کاله تر وخت تیر دي. زموږ غوندي خلکو ته دا

وخت بیله دي ارزش نه لري او په خبر هم نه یو، څه فرق لري، واخله...

ماته خندا راغله:

ـ نو چې وخت یې تیر دی خدای څه دربندي را وستي دي چې موټ موټ خولې ته اچوي؟

همداسي چې یې خوله ډکه وه، جواب راکړ:

څه چاره لرم، باید ویې خورم. لاس یې دبغل جیب ته کړ اویو کارت یې را ویستی، دادی ویې وایه:

ګرانه وروره ستا دژوند دپنځوسم پسرلي په منا سبت خپلي نیکي هیلي او مبارکی دزړه له کومي وړاندي کوم. هیله لرم چې ډیر کلونه همداسی راته جوړ او ژوندی اوسي

په دوستانه اخلاص ستا دوست، شبنم.

نادر جان بیا راته برګ سو:

ـ شرط کوم چې نه دي یم پیژندلی؟ زه نادریم، جان اغا... ستا صنفی...

ماپه داسي حال کي چې خوله مي ترغوړو خلاصه وه، وویل:

ـ سترګي مي ضعیفه سوي دي...وبخښه نادر جانه

بیا سره غاړه غړې سو...

ـ نادرجانه ښایي دا دوست به دي ما غوندي بی سواده وي، چې نه دی متوجه سوی، چې چاکلیټ تر وخت تیر سوي دي ، ولي ذوق یې دقدر وړ دی، رویال (شا هی)

سويسي چا كليټ يې درته غوره کړيدي، د شاهانو خوراک دی.

ده په دا سي حال کي چي چاکليت يې ژوول، ديوه ګړی لپاره يې خوله دحرکته ولويدل، يو راز يې راته وکتل، يو څه ژول سوی چاکليټ چي يې تر ستوني تيرکړل، خوله خلاصه کړه:

ـ دا کرتی مي چي د پاريس موډ دی، هم يو بل دير ګران دوست، تر تا دی به نه يي، ښايي په ياد به دي وي سراج جان، زما کليزيته راته ډالی کړي ده، ډيره ښکلي ده نه؟ قيمتي هم ده.

غو ښته مي ورته ووايم، چی ښايی ستا نمره به نه وه ورته معلومه، ولی وبيريدلم، چی بيا يی معنا داره ليد تکرار نسي.

...دا پطلون اوکميس بيا ميرمني راته اخستی دی چي سکسي اوکشکي سم...

هر څه مي چي ورته وويل چي دارنګونه زما سره نه ښايي، زنانه دي....

دا راته وايی:

ـ کم عقله ښځي او نر اوس فرق نه لري، دا خبره دي بل چيري تر خولي را ونه وزي، چي خلک درباندي خاندي،

دا رنګونه اوس موډ دي، ټوله همدا سي اغوندي، سړی با يد سکسي وي...

اولادو نه بيا لس واره کرتی او پطلون راځخه با سي چي دا نه در سره ايسي، په موډ برا بر نه ده، بله يې بيرته را اغوندی، چي دا ددي دريشي سره ښه ايسي. ماته هم خوند راکوي، لکه فيل مرغ رډ رډ ور ته ګورم، دوی يې راځخه کاږي او رااغوندي. چي ديسکويي اوسم. ډير مدرن دي، نه؟

لږ چرتي غوندی سوم، خبره تر هغه جدي وه چي ما فکر کاوه. نادرجان لا دچاکليټو دخوراک ځخه لاس نه و اخيستی،

دا واری يی وچ چاکليټ پر زامه مښتی وه او هر څه چي يې خوله خلاصه او تړل ، چی د اوری ځخه يې جلا کړي، ونسوه. دنا چاری له مخي يې خپله دشهادت ګوته، په خوله ننيسته....او همدا چي په چاکليټو لړلي ګوته يې بيرته را ويسته، دمعمول برخلاف ددي پر ځای چي د ځټلو لپاره بيرته په خوله ننباسي دخپلی ژړي کرتی پر ارته غاړه ومښل، ماته يې وکتل، چی خاندم، ستر
ګک يې راته وواهه:

ـ ری ونه وهی اوس شکر دی، الماری مي ډکه ده....

ترپایه پوري چي مخه ښه موسره کوله دی راته رېغیدی او زه په فکر کی وم، لکه چي په رښتیامي حافظه خرابه سوي وه که څه بلا؟؟ همدا چی ځینی جلا سوم لا څو قدمه نه وم لیري سوی، چی را په یاد سول...

اووو دا مینځل سوی نادر و. او خدایه پخوا چی دي، لیدلی وای، ډیر شیک پوشه و، خدای ښه قد اوقواره هم ور کړي وه، ښه ذوق یې هم درلود. کالي به یې تل اتو سوي او پر بوټونو به یې ګرد نه کښینستی. له همدی کبله وو چي مورږ، دمینځل سوي نوم پرایښی وو، دمینځل سوي سره مي دمکتب او ځوانی تیره کړي وه . دلته مو هم څو واره سره لیدلی وه، کورته راغلی و، بیرته راوګرځیدم. بیا می په غیږ کی ونیوی. زما مینځل سوی نادر مي

بیا په دواړو خواوو مچ کړ.

نادر خپلي شونډي په نصواري ژبه پاکي کړي، یوه زهر ناکه مسکا یې وکړه او رانه ویې پوښتل:

ـ ستا کلیزه څه وخت ده چی، یو ، دوه یې تاته هم ډالی کړم. ته تر چا کم یي، باید سکسي او سي...

.... ناوخته سو ، هر څه مي چي فکر وکړ، چي اوس دچا څخه دځنګله پوښتنه وکړم، پیسي مي هم نه درلودي،

یوازی په یوه کمیس کې را وتلی وم، تلیفون مې هم نه و را سره.

دلته نژدې د یو افغان دکان دی، ډیر اخلاص منداو مهربانه دی ، زړه مې سو چې ورسم، یوه پیاله چای هم ورسره و څښم. د ځنګله ادرس هم ځینی واخلم.... را په یاد سول، وروستی وار چې ورغلی وم...

.... همدا چې د چایو ورستی غوړپ مې ترستوني تیرسو له ځایه راپورته سوم. پنځوسی مې له جیبه راویستی، ومې پوښتل: څوسوې؟

ده داسې یوبل ډول راته وکتل، لکه چې کوم جرم مې کړی وي:

ـ تاسو ماته خجالت راکوی !

سمدستي مې ورته وویل:

ـ خدای دې نه کوي، چې خجالت به درکوم، سودا مې واخیسته، پیسې خویې باید درکړم، کنه؟

ده بیا هم په هغه پخوانی تون راته وویل:

ـ هیله کوم، ستا بلادې واخلې دایو څو پاکټه سپیرکی... هیڅ ارزښت نه لري.

له دوستي نه په ډک تون ماهم ورغبرګه کړه:

ـ مفت خو دې نه دې راوړي، تاهم پیسې پر ورکړې دي...

پرې یې نه ښولم چې خپله خبره ترپایه ورسوم:

ـ پرتاسو نه ده ورکه، تاسو پرموږ حق لرئ، تاسو زموږ ویاړ یاست...

په زړه کې نوښتګه خوشحاله سوم، چې کور دې آباد وي دادی تراوسه لا داسې خلک پیدا کیږي، چې دویاړ خبرې کوي او قدر دې کوي.

ما هم یو څه غاړه تازه کړه، وویل:

ـ کور آباد، بچی لوی. همدا چې ودې ویل ماته راورسیدل که پیسې یې وانخلې نو بیرته یې ایږدم.

دکاندار سر وښوراوه: یاره ډیر زورور یاست

د دخل څو غوټې یې کښیکښودې... بیا یې راته وویل:

ـ راځه تردې خبرو تیرسه، بیا بل وار به یې راکړې...

ما په داسې حال کې چې خپل وروستی پنځوس ګون مې پرمیز ورته ایښی و، په ټینګار ورته وویل:

ـ نه هیڅ امکان نلري، هرڅوچې کیږي، خپلې پیسې ځینې وګرځوی...

ده په داسې حال کې چې سریې همداسې کښته اچولی و، وویل:

ـ تاسو بیا شپیته راکړې.

د شپیتو په اوریدو مې د پښو غړې وتښتیدل، چې اوس څه ورته ووایم. داخویې لا زما لحاظ کړی و. ما فکرنه کاوه

چي ترشل ديرشو دي خبره واورړي. پنځوسی مي دميز پرسر بي قدره پروت و او دامي ورستی پیسي وي، په همدي خاطر مي هم، لاس نیولي سودا وکړه. او دي ښاغلي چي چاى راکړي وي او زما قدر يې کړی و، ددي جرئت رانه سلب کړ، چي ځيني وپوښتم، چي ولي؟

پس له کلونو يوقدردان پيدا سو، که مي خوله خلاصه کړي واى، هغه يو قدردان به مي هم له لاسه تللی واى. ډيره ممکنه وه چي داخبره نوروته هم رسيدلي واى. له دي ټولو ست اوسلاح سره مي ورته ويلاى هم نسواى، چي دامي ورستي پنځوس ګون دی او بس.

د زوي خوله مي خلاصه پاته وه، تر دي ترمخه چي دکان ته راننوزو، ورته ويلي وه، چي همدا يوپنځوسی لرم، چي کوم ګران اواضافي شی راڅه ونه غواړي، چي دکاندار ته کم رانسوو... زوی مي همدا سي راته کتل، زه حيران پاته وم چي څه وکړم. که مي کتل چي زوی مي کرار خپل لاس زما دپطلون

په جيب ننيستي. هيڅ وخت يې دا سي نه وه کړي..لاس مي وجيب ته کړ چي خپل دپزي دسمال را وباسم اوخپل خولي پاکي کړم، چي لاس مي پريوه کاغذ ولګيدي. را ومي ايستی که ګورم، لسی.... ژر مي لسی له پنځوسی سره ملګری کړ....

د دکانه چي را ووتم، نو زوی مي رانه وپوښتل: ولي يې پيسي نه غوښتي؟

په جواب کي مي ورته وويل:

لکه څنګه چي مي پخواهم درته ويلي و، دا مي آشنا و، زه يې پيژندلم...

ـ نو ولي يې بيا واخستلي؟

ـ دا په دي خاطر چي زه ورته ټينګ سوم، کنه نو نه يې اخېستلي...

زوی مي نورڅه ونه ويل... ولي زه چي يې پوروړی وم او زما عزت يې ساتلي و.

ځان مي ټيټ او پرمخ مي مچ کړاو ورته و مي ويل:

زويه يو دي پوروړی...

## پنځمه برخه

## دا، دی، دوی

کله چې کورته ورسیدم په کور کې نور څوک نه وه، تبرکو یوازې په آشپز خانه کې وه، هیڅ یې ځان خبرهم نه کړ، چې چیری وم، څه وخت را غلم.

.... لورکی مي دښوونځی څخه را ورسیده، لاپې بکس له اوږو نه و کښته کړی چي مخامخ را ته ودریده. ښه یې تر نظر تیرکړم، په ماته ژبه یې راته وویل:

بابا زه باید تارنګ کړم !

حیران پا ته سوم چي ولي ما باید رنګ کړي، حتمن زما الوتي جولي په تشویش کي اچولي ده. و مي پوښتل:

- لور جاني ولي باید ما رنګ کړي؟ ته خو پو هیږي چي زما د رنګه څخه ډیر بد راځي.

دي ځیر ځیر راته وکتل او په جدي تون یې راته وویل:

- زه با ید تا رنګ کړم، ځکه چي ښوونکي راته ویلي دي. خبره خرابه وه حتمن ښوونکي یې هم زما الوتی رنګ په تشویش کي اچولي وه.

بیا مي وپوښتل:

-ښوونکي دي وویل چي حتمن ما رنګ کړي؟

دي بیا په ځیر راته وکتل:

- ته افغان یې؟

وار خطا سوم چي دي هم لکه چي زما په افغانیت کي شک پیدا کړی دی. نو دستي مي ورته وویل:

- هو افغان یم...

دا خوشحاله سوه، نو چي افغان یي باید تا رنګ کړم، په دي چي ښوونکي راته وویل چي یو افغان رنګ کړم...

سر مي وښورا وه:
ـ ښه حتمن بايد افغان وي.
پوهيدم هره بلا چي نازليږي اول پر افغان نا زليږي. په زړه کي مي ډير بد شيان را تير سوه، چي دي ښوونکي څه مقصد درلود چي افغان يې د رنګ کولو لپاره انتخاب کړ ی، ښايي خبره به نه وه چي موږ په کافي اندازه رنګ سوي يو.
سر مي دتا ئيد په ډول وښور اوه:
ـ لوري نو چي دا سي ده نو، مور دي هم افغانه ده ولي هغه نه رنګوي، هم خرما هم ثواب او پر رنګ هم مينه ده، ولاړه سه مور دي رنګ کړه.
لور مي ښه وويل او روانه سوه دپخلنځي خواته... ولي دستي بيرته را غله:
ـ مور مي وا يي چي ور سه پلار دي رسم کړه چي غټ تور مخ لري. او ورته ووايه، غو ښی او ډوډی را وړړی، چي دخاله زوی دی دکورنی سره راځی...
تازه اوس مي سرخلاص سو، چي داغواړي زما رسم وکاږي. نو ورته بوخ سوم. دي يوه چوکی را ته را وړه او دکوټي په منځ کي يې راته کښيښوله او ترلاس يې ونيولم، پر چوکی يې کښينولم او خپله مخا مخ را ته کښينستل. په

دوو ګو تو يې پنسل په خپل ښي لاس کي ونيوه او را ته ويې ويل:

ــ هوښ کوه چي ښور ونه خوري.

او بوخته سوه. په ډ ير مهارت به يې يوه ستر ګه وتړل او ژبه يې تر غاښو لاندي کړه... ډ ير را ته په زړه پوري وه، چي پوه سم، چي لور مي ما څنګه ويني.

ډ ير انتظار مي ويوست تر څو چي رسم مي تکميل سو.

... زويه ژر کوه، چي ميلمانه لرو زه بايد سودا را وړم

کله چي مي کاغذ ځيني وا خست واقعن يې ډ ير ښکلی رسم کړی وم:

غټه خوله، اوږده تيز تيز غاښونه، کږه غاړه، سراو غوږونه ډ يرکو چني، غټ مخ....

له همدی غټ مخ، کوچنی سر او تيزو غا ښو سره د سودا په نيت را ووتم، کورته نژدی د يوه ګُردی دکان وو، خو هيڅ می نه خو ښيدی، دده مور د تبرکو سره خور لڼه وه او کله کله چی به يې زړه وغو ښتی را تله: يوه ورځ يې کيسه راته کول:

.... دمخ شنه خالونه مي زويه دهغه وخت يادګاردی، چي زه لا دکور نجلی وم. دغه مو دکور کلي رواج وو. ټولو نجونو پرتندی. زني يا بارخوګانو باندي شنه خالونه

خالکوبي کول. زمونږ سینګار همدا و. د اوس غوندې مو دشونډو سره کول. د وروځو نری کول او دباڼوګانو کشول نه وه زده، دلته مو ولیدل. مونږ به نو، چې ډیرځه وکړل په دي اوبل اخترکي به مولاس اوپښی نکریځی کړل. پس له واده می بیا کله کله مخ تاره وه.

دونه توره اوسوځیدلې چې اوس ستاسو په نظر درځم نه وم. غنم رنګه وم. داچی ولی دومره توره سوم. درته وایمه... داچی دځو کلو یم په یاد می نه دی. خدای می دی غاړه نه بندوی کله چې مصطفی کمال پاشا مړسو. زه غټه نجلۍ وم. دپلاره سره می بزې پوولې...

اوس د ا وړین ځادر ترسرتاووم. دنوروغوندي لوځ سرنسم

ګرځیدای. اول خوګناه لري اوبیا زماپه سپینو نکریځو سوو ویښتانوکې د ږمنځولو توان هم نسته. دا ګلداره کمرچینه کمیس چی مي ويني دا مي مړندو دسری میاشتي ځخه راته راوړی دی. او داچې هیڅکله می کمرچینه نه دی اغوستی نو اړجنه یم چي په دي سره دسمال مي ملا وتړم... خدای دې په دوی کوي، وايي: ستا باب کالی په مغازوکي نه پیدا کیږی...

هغه دکالو چک، چي سوسیال ورکوي. پرهغه مي مړندې ځانونه ته کوم واسکټ ماسکټ اخلي...

سپینې پنډۍ جراپې مي پدي خاطر په پښو کړې دي، چي د پښو درد مې زیات سوی دی. ولی دا خدای وهلي ښیا هره ګړۍ ښوییږي. مجبوره سوم چي په دي لاستیک یې وترړم...لکه زما دمړندو زما هم د پرتوګ اغوستل نه خوښیږي، ځکه چی زموږ پرتوګان غټ غټ پړسیدلي او پایڅی یې ښیا تنګي تنګي دي. سړی یو بل ډول پکښی معلومیږي. لمن اوکاوبای پتلون ښه نه راسره ښکاري. همدغو وړینو جرابو مي پرده کړیده... جک پوندي (کوری داره ) بوټونه مي پرپښه نه اصلیږی. یو وار مي زوی په زوره را په پښو کړل. پښی یې په وینو را ولړلي. په همدغه ماسیوکي مې پښي آرامې دي...؟ زه خپله هم شرمیږم ! څه وکړم پخپل زړه نه یم، زامن په ځان اخته دي..

پدي ورځوکي مي کشره مږور برق ورکولو ته بیایي. ځکه چې دوی هم غواړي د کور خاوندان سي. مشر زوی مي شکر د کور خاوند سو. په همدې خاطر و، چی زه یې د کور او ژوند څخه را بیګانه کړم. د راتګ مې دوهمه لانه وه پوره چي ډاکتر ته یې بوتلم چي دمور په پښو مي درد دی. په خدای قسم، نه مي درد درلود اونه هیڅ. لکه د زرکي غوندي دخپلو بزوسره غروته ختم. ډاکټرچي هرڅه عسکونه واخستل هیڅ یې هم پیدانه کړل او دوه دري رنګارنګ برقونه یې راته نوشته کړل. همدا خدای وهلي

برقونه وو، چي په رښتيا دپښو اوملا دردونه راته پيدا سول او دبدن اومخ پوستکی يې را وسوځاوه.

مشر زوی به مې د ډاکټر سره دعوا کوله او ورته ويل يې که زما مورته کور ورنکړی، زما موربه په پښو شله سي. په زينوکې نسي ختلای، دهايم کوټې نمناکه دي...

داخلک خو ډير دلسوزه اوخوش باوره دي. مجبوره سول چي کور ورکي...کوچني زوی مي، چي وليدل چي مشر ورورېې کور واخست، نوېې راته وويل...

موري ! ته بايد زموږ سره ژوند وکړې، دلالا ښځه چندان ښه ښځه نه ده.

رښتيايې هم ويل، دکورتراخستلو ورسته يې ډيره بد وضيعتي راسره کوله. په څلور کوټه ييز کورکې يې زه په سالون کی بيدولم. کوچني اوغټ مي ترسر پورته کښته کيدل. کومه ورځ چي به بيا ميلمانه وو، او يابه يې هم تلويزيون ليدی، مجبوره وم چي په دهليزاو يا هم آشپزخانه کې خپله بستره وغوړوم، ځکه نه مي شوای کولای چي لکه ځوانانو غوندی ترناوخته ويښه و اوسم. تر دي لابدتره داوه چي مږور مي اجازه نه راکوله چي په هيڅ شی ګوتي ووهم. ډيره ځينی بيريدم. اماکشره مږور مي بيا ډيره بدخولي

ده. شپږمیاشتي يې دراتګ لا نه وي تیري سوی چي اووه کیلو وزن يې واخست. هره ورځ چاکلیت اوککو داره شرینی دبازاره اخلي اوپه دواړو لاسونو يې په خوله ننباسی. نادیده ده. دپلار په کورکي به يې چي په هفته کي یو واري هم خوړي چای وخوړي، نوټوله هفته به یی په کور کی جشن و...

اوس داماډاکترته بیایي. ډاکترته يې ویلي دي، چي خوابنې مي داعصابو په رنځ اخته ده. زماپرځای چي هر ځوک وي، په خدای لیونی کیږي. په لاره اوبازارکي مي لکه دماشومانو غوندي ترلاس کشوي او پټکه راباندي کوي، چي ژرژر راځه. په آلمانی راته وایی (ډوشایزه فیټه کو ) ته چټله چاغه غوا ، زه

خونه پوهیږم چي څه مانا ورکوي. هغه ورځ يې نه یوړه اونه راوړه. راته وايي: هرچیري چي دي زړه وغواړي ځنګه ځغلي.

نوماهم مخ ورته راواړوی:

داهم دکړوخبره ده بدبختي ! بیا په دي عمر او حالت چي زه يې لرم، چیري مي زړه غواړي؟ ډیسکوبازه او پارټيي بازه خوزه نه یم. سینما اورستورانت ته زه نه ځم. په سینګارتونو اومغازوکي ګرځیدل خوستاسوکاردی. غیر دکور دکنجه او د پروردګار د عبادته مي نور څه زړه

غواړی؟ ګور او ایمان خومي تاسو را وسوځاوه. ددنیا او آخرت شرمنده موکړم. زامن مي دي خدای خوار او ذلیل کړي، چي زه یې دومره ذلیله کړم. ماجرمنی څه کاوه، چي زه یې ستاسو مینځه کړم. غیرله سپکاوي او دخلکو دخندا نه مونورڅه راپه برخه کړل؟ تاسوته که هم کور درکړي، مالومه نه ده، چي څه بلا به راباندی راوړی...او ترڅوچي مي کولای سوای ومي ژړل...

هوښ کوی، چي اول خو موپلار او مور مه بیځایه کوی، که چیري ضرور و، بیایې نوعزت اواحترام وساتی. زما غوندي هغه دخلکو په وړاندي مه را باسی....

...اوس، چي هر وخت ددی ګُردي د دکان تر مخه تیریږم او یا سودا ځیني کوم دده دمور خبري مې را په یاد سي.

ځان می قانع نسوای کړای ،که څه هم قیمتونه یې تر نورو دکانو ارزانه و خو تر دکان یې تیر سوم، ولاړم د ایراني دکان ته.

.... دکان به نو نه ورته وایم، ځکه دی وخپل دکان ته سوپر مارکیت او سوپر دیلایټ وایي.

دی بیا ډیر چوتاره سړی دی ماته ډاکتر وایي ښایي فکر به یې کاوه چي زما سپین وریښته او زره بیني عینکي

ډاکټرانو ته ورته دي يا ښايي، چي په همدي القابو به يې زه خطا ايستم.

همدا چي سترګي يې پرما ولګيدي لکه فنرله ځايه را پورته سو، خپل اخبار يې کت کړ، سترګي يې وځليدلي.... غېږ يې راته خلاصه کړه...

اوهو ! سترګي مي روښانه، تاسواو دلته...

په غېږ کي يې ونيولم، پر مخ يې څو واري مچ کړم، غو ښته يې چي لا سونه را مچ کړي، خو ما موقع ورنکړه. اخر تر ما مشر و. دستي يې چوکی را ته را کش کړه او په ايرا ني غليظه لهجه يې ږغ کړ:

ـ ډاکټرصاحب ته پياله راوړه...

ماته يې مخ را واړاوه: ښه ډاکټرصاحب دا دونه وخت چيري واست، هيڅ نه مالوميدلا ست..هونوستاسو کارونه، سفرونه ډيردي، مصروفيت زيات دی...

شاګرد يې د چايو پياله راوړه، ده بدبد ورته وکتل:

ـ تا لکه چي ډاکټرصاحب ونه پيژندي، ژر نقل ور ته راوړه کم عقله، افغاني نقل...

شاګرد دنقلو پسي ولاړ. ده يو داسي سوړ اسويلي تر خولي راويوست، چي زامه يې زما را وريږدوله.

ـ څومره بې قدره زمانه سوه...

ما ته يې مخ را وا ړا وه دا ددي زما ني ځوانان دي. دغره وراوتوره ور فرق نسي کولای کنه نو ستاسوغوندي خلک...

شاګرد يې نقل را وړل، لاس په سينه راته ودريد. غو ښته يې چي بيرته ولاړسي، ده ترلستوني ونيوی:

دا هغه ډاکټر دی چي ما در ته ويلي وه، داسي انسانان په څو پيړيوکي يو وار زيږي، لا سونه يې د سرو زرو دي، هغه عملياتونه چي دی يې تر سره کوي، هيڅ څوک يې نسي کولای، ددنيا د ګوډ ګوډ څخه خلک ورته راځي...

پر ما با ندي نو څنګه خولي را ما تي دي. دده دخبرو تا ثير وو

اوکه دتورو تودو چايو.

بل شاګرد چي يې د غوړو لا سو سره د غوښو د ويترين تر شا ولاړ و او په څلورو سترګويې زما په ديدن سترګي ډکولي....

دی لا چپ نه و...، دی زموږ دسيمي ځراغ دی. هي چي دي اخوندا نو دا وطن خراب کړ او دغسي خلک يې دخپلي مورنی خاوري څخه اواره کړل...مخ يې ماته را واړاوه او په جدي انقلابي تون يې راته وويل:

ستا سو قدر پر دي ملت دی، ستا سو قدر پر بشریت دی، نور خو څه نسم کولای، زه خو مو نوکر یم..زه خو مو چاکر یم....

دده خوږو خبرو او انقلابي احساساتو ماته هم سرایت کړی و نو ما هم په پلرني انقلابي تون ورغبرگه کړه:

ـ زه یوه زره یم. زه ستا سو دپښو خاوري یم. ستا سو خدمتگاریم....

ده غوښته چي یوه پیاله بله چای هم را وا چوي، ما دخپلو چایو وروستی غُړپ تر ستوني تیرکړ، نو په عذر مي ترینه وغوښته:

ـ که اجازه را کړي خوشحاله به سم، یو څه سودا به وکړم، چي کار لرم.

ده په مینه را ته وویل، ولي نه، سل واره...

او پر قصاب بچه یې ږغ کړ: هلکه ډاکټرصاحب ته تازه غوښه ددننه څخه را وباسه....

ناړي مي تیري کړي، نا چاره د قصاب وخواته ور روان سوم. قصاب بیا دستي نیم پسه دیخچاله څخه را ویستي...

ده را پسي ږغ کړه: ډاکټرصاحب چای دي هیري نسي ډیري ښي شني چای مي راوړي دي، لږ پا ته دي. نقل هم تازه دي، همدا نن یې راته را وړي دي. او پر بل شاگرد یې ږغ کړ:

ـ هلکه سړه ډوډی ورنه کړي، هغه دوي داني رو غني ډوډی چي ماځانته سا تلي دي هغه ورکړه...
په تېټ ږغ مي د قصاب څخه وپو ښتل:
کیلو په څو دی؟
قصاب په ډېره تلوسه را څخه وپوښتل:
ـ ډاکټر صاحب ، کوم ځای يې درکړم، ورون؟ نه نه ستا سو خوراک دملا غوښه ده، زه پوهېږم، نور خو خره دي، ورون

خوښه وي...
دستي يې د غوښو په پريکولو پيل وکړ...
ما بیا په نري ږغ کرار ترينه وپو ښتل:
کیلو په څو دی؟
ده ډير په مهرباني جواب راکړ:
څه فرق کوي ډاکټر صاحب نو رو ته په ديرش خو تا سو ته به يې بيا کم حساب کړو....
هیښ پا ته وم چي اوس څه وکړم.. چرت یو ورړم، ترخولي مي هم نسوای را وتلای چي ولي دومره ګرانه ده، نو پر اواز مي لږ زور کړ:
ـ فکر کوم چي په کورکي غو ښه لرو سبا به بيا تازه وا خلم اوس دي وي.

فکر مي وکړ چي بهتره ده چي دکردي دکان ته ورسم قصاب بچه ته مي سر ور نژدي کړ او دځنګله پو ښتنه مي ځيني وکړه،

ـ ځنګل ! د شفاخاني څخه چي لږ ور تير سي لوی ځنګل دی....

د دکان خاوند چي په ظا هره يې اخبارلوست ترسترګو تر کونجو څارلم.

تر ده تير سوم، ډوډی وا لا بيا څلور ډوډی تياري مخيته را ته ايښي وي، ډوډی مي را وا خستلي. دنقلو پوښتنه مي ونکړه، پوهيدم چي ګران دي، نو په لوړ ږغ چي خليفه هم اوريدلي، ورته وويل:

ـ دا افغاني نقل خو ډير مزه داره دي، شکره مي يوځه لوړ تللي ده، ښه تره داده چي په کورکي نه وي...

ډير مي ديخوا ها خوا وکتل خو دا سي شی چي ارزانه وي پلاس را نغلل ، نو د ډوډيو او يوي دستي ګشيزو اويو اخبار سره د پخواني انډيوال او قدردان ومخيته ودريدم، ده عينکي يوځه دپزي و خواته را کښته کړي، څه يې ونه ويل په دخل کي يې يو څو اعدادو ته ټس ورکی....

ډاکټرصاحب نن تازه ميوه هم را رسيدلي ده، ډير ښه انګور...

خو کله چي زما د سړي ښهري سره مخا مخ سو ، خبره يې قطع

کړه. انګور مالیدلي وه خو ډیر ګران وه...
... ډاکټر صاحب فرق نه کوي پیسي مه راکوی...
ولي ز ما اوږي چي دده دمهربا نیو او درواغو په مقابل کي ډیري درني سوي وي، ژرور غبرګه کړه:
ـ نه نه کور مو ودان، فرق ښنګه نه کوي، تاسو ډیره مهربا ني وکړه ، ...
او دستي مي لس ما رکه چي لا پخوا په لاس کي تیار ورته نیولي وه، مخیته ورته کښېښول، ځکه چي د دخل پر مخ مي لیدل، پنځه مارکه او پنځه اویا سوي وي....خو هرڅه انتظار چي مي ویستی، با قي پیسي يې رانکړي. ماهم څه ونه ویل، همدا چي په دي پیسو خلاص سوم خوشحاله وم. لاس مي ور مخته کړ، خو ده رډ رډ راته کتل، له ځایه هم ونه ښوریدی. ما بهتره وګڼل او د سوپر مارکیت څخه په چټکی په را وتو سوم.
دی لکه برق چي نیولي وي يو ګړی همدا سي چپ و.

شا گردانو يې هم په ظا هره ځانونه مصروف ښکاره کول، خو تر سترګو لا ندي يې خپل خليفه ثارى. ده سترګي د اسمان وخواته پورته کړي، سريي وښوراوه:

ـ تر قدرتو دي قربان سم خدايه، څنګه خلک دي پيدا کړي دي. ډاکتر، دڅه شي ډاکتر، حيف دهغه مصرف چي پر ده سوى دى، د درواغو ډاکتر، بيطار، قصاب، خداى خبرچي څو نه خلک به يې قصابي کړي وي....اصلي قاتلان همدا دي. دخداى په غضب دي اخته سي....

## ښبړمه برخه

## سيالي

... د خاله زو ناحقه يې ويلي دي، چي ښځي په سيالى اوشريکىۍ، موډ اوموډ بازى، حسادت اوخودخواهى کي جوړه نه لرى، نه نه ددي ټولو لوبو پيل اومنشا ، همدا

نارینه دي. دبابا آدمه تردې دمه که دتاریخ پاڼې وګورو نو په ډاګه څرګندیږي چې دا نارینه وو چی ښځی یی هم چشمی او ځان ځانی، ته هڅولې دي.

آیا همدا نارینه نه وو، چې دښځو حریم ته یی پښه وراوړده کړه، کله چې یوسهار دخوبه را پاڅیدل. دښځو د اوږدو څوڼو شوق اوهوس ورسره پیدا سو؟ ښځوچي ولیدل چې نارینه اوږده ویښتان پریښودل، هیڅ یې هم ونه ویل. په پټه خوله ولاړه، دلاک ته یی ګونډه ووهله او خپل اوږده او ښایسته ویښتان یې دغیچي خولیته ورکړل. ویې نه غوښتل چې دنارینه و شوق خراب کړي. بیله دي چې هم چشمی اوضدیې کړی وي خپل ویښتان یې قرباني کړل. ښه کار یې وکړ، ځکه ډول یې هم نه درلود چې دوه د اوږدو ویښتانو خاوندان پریوه بالښت سرکښیږدی، خوخبره هلته خرابه سوه چې خدای ناترسه دلاک. چی هغه هم نارینه و. ددوی ویښتان ترهغه حده لنډ کړل، چې یوه ګوته تربرکت لاکښته وو. همدا علت وچې دښځو ویښتان هره ورځ بې برکته کیدل.....

اختر چی زما سره خبرو بوخت و لی توله موده یې ستر ګی په تلویزیون کی وی، چې دده مشر زوی چې څوارلس پنځلس کلن به و همداچي کوټي ته راغي دتلویزیون ریموټ کنترول یې دمیز دسره واخیست او کښیکښی یې.

.... اختر یو سګرټ ولګاوه .... اما کله چې نارینه و غوړ والی په غوړو کړې، ښځوخپله حوصله له لاسه ورکړه. دي لاس اوږدوني اوبوالهوسی دښځواعصاب په آخره اندازه خراب کړل. وګوره چې حسود نارینه داغوړوالي هم دښځوپرغوړو ونه لورولې دا وار ښځو نه یوازی دغوړ والي اغوستل پري نه ښودل بلکی د خپلی نوی پالیسی په وجه، ضدیې وکړ او خپل غوړ والي یې دوې کړې. نارینه هم چي په ضد او ضدبازی کی جوړه نلری خپل غوړوالی دوه کړه. ښځو چه نه غوښتل چی یو وار بیا دنارینه وو دځان غوښتني له کبله دخپل ضدیت څخه لاس واخلي، خپلی پزی یې هم سوری کړي او کړی یې ورواچولي .نارینه وو هم خپلو پزوته کړی ورواچولي، دښځولیونتوب چي دنارینه وو ددي لجاجت په لیدلوسره نورهم تورخوړلی وو، دبدن ونورو ځایوته په کړی اچولو شروع وکړه، ها ها ها... اودومره چنګکونه، کړی اوحلقي لکه غوړوالی، پزوالی، پیزوان، نووالی، وریځ والی، ژبه والی او... پرځان را وزړولې چې دنارینه سترګی ځلور سوی. که څه هم سوری، سوری سوې نارینه تریو ځایه مقاومت هم وکړ، ولی....

داخترسترګي چې په دا ټوله موده کي په تلویزیون کي وي، پر زوی رغ کړل:

ـ ته بیرته شاته راسه، دا خبر څه شي په باره کي و؟

زوی چي یې کانالونه بدلول په بي پروایي جواب ورکړ:

خبر مبر نسته.. بیله هغه یې په خبرو هم نه پوهیږي، اوس فوټ بال پیل کیږي...

او ترڅو چي فوټ بال شروع نسو ریموټ کنترول یې له لاسه لیري نکړ. اختر چي د زوی ددي جواب څخه یو څه سور سوی و ، مخ وماته راواړوه:

ـ ته ونیسه دخاله زو د مدهو بالا کوم فلم ور واچوه !

ماهم ورته وویل: دادی دستي...

له ځایه پورته سوم چي په الماری کي دمدهو بالا فلم پیدا کړم،

چي میرمني یې پر ږغ کړه:

ـ اوسړیه اوس مدهوبالا څه کوي؟ جان آغا جانه پریږده یې ، مه پسي ګرځه، دهمامالني او درمندر کوم نوي فلم که لري ور واچوه.

میرمني یې زما ستونزه راهواره کړه. خو همداچي د در مندر یو فلم مي ویدیوته ورواچوه... زوی یې راته په غوصه سو او په جرمني اکسنټ یې وویل:

ـ کاکا دادي څه وکړل، زه باید فوس بال وګورم...نن نیمه فاینل دی...

زړه ترور چې تر دې ګړی دخپل زر دانه یې تسبیح سره په ذکر اخته وه، پرلمسي په قهر سوه:

- خاوري دې پرسر سه له فوس بال سره، ټوله ورځ بل کار نه لري، فوس بال دی فوس بال دی.

اختر هم تر مور وروسته، زوی ته په جدي تون وویل:

- ځه زویه، فوس بال خوهره ورځ ګوري...کاکا دې ډیر ښه فلمونه لري...

د زوی تندی یې تریوسو په لوړ آواز یې، ده ( شایزي) کلمه ترخولي راووته، له ځایه ولاړ سو اوله کوټې څخه ووت او دروازه یې هم په زوره په ځان پسي ووهله. ده دروازي لاستی لاندي راولویدی... اختر هم په دې خاطر چې ثابته کړي، چې په کورکي دخاصي اتوریته خاوند دی، له میز د سره

ریموټ کنترول واخست اوپه زوی پسي یې وارکړ. دخدای فضل سو، چې د دروازي دښیښي څخه بچ سو او پر دیوال ومښتی اوپه لوړ آوازیې پسي چغه کړه:

- اوپدرلاننته ! بیا به په کورکي درسره ګورم. ته ودریږه...

د درمندر اوهمامالني دفلم لاڅو دقیقي نه وي تیري سوي، چې داختر میرمني مخ را واړاوه:

- جان آغا جانه، دافلم خومي لیدلی دی، سیتا اوګیتا یې نه لري؟

بیا د الماری وخواته ولاړم چي کوم بل فلم د درمندر پیداکړم، چي میرہ یې په عذر ورته وویل:

- چي لیدلی دي دی نو پریږده چي دمدهوبالا کوم فلم ورواچوي.

ترور په داسي حال کي، چي ساختګي غاښونه یې په خوله کي ښوریدل، راباندي رږغ کړه:

- زویه دحج فلم نه لري؟

په جواب کي مي ورته وویل:

- خاله جاني دحج فلم خو نه لرم خویو ښه نعت لرم...

که څه هم ترور یو څه چورتي غوندي سوه، خوسریې راته وښوراوه، چي ورواېې چوم...

داختر میرمني بدبد ورته وکتل ولي څه یې ونه ویل. اما ترور ژر متوجه سوه، خپله خبره یې بیرته واخسته:

- زړه مو هرڅه چي ګوری، په ماغرض نسته...

ولي ماڅنګه کولای سوه چي دترور خبره پرمځکه واچوم .. همدا چي نعت مي ور واچوه، داخترمیرمن په قهر دځایه پورته سوه، همداچي حرکت یې وکړ دګلداري اوږدي لمني څنډه یې ده ګردنر چاینکي په چوښکه کي بنده سوه اولاندي را ولویده... دا هم له کوټې ووته....

لا مو يونعت نه و اوريدلی، چي داخترد پيغلچکي لور، چي

تراوسه پوري زماله لور سره دباندي وتلي وه وکوټې ته را ننوته. همدا چي سترګي يې پر تلويزيون ومښتي، په تريوتندي راته وويل:

ـ کاکا وس فيور ايني شايزه ايست دس؟ ( داڅه چټيات دي ) مايکل جکسن ور وا چوه.

د آنا چي يې اوښکي رابهيدلي وي او زړه يې لا دپخوا څخه هم ډک و، په قهر وويل:

ـ خاروي مو پرسرشه دجيکشن زامنو، دا اولادونه څنګه ليوني سويدي...

داهم په قهر داتاقه ووتل

د ترورزي کوچني زوی چي خوله يې ډکه وه او دکولچو ټوټې يې تر خولي باديدلي راباني رږغ کړل:

ـ کاکا ميکي ماوس ورواچوه....

پلاريې هم خپل دسګرټو کوتی دميز دسره وا خسته، او عصبانيت دځايه ولاړ سو:

دخاله زو ! ولاړو ددي ميکي موس د زامنو سره نکيږي...

...همدا چي ميلمانه دکوره ووتل دمطالعي په بانه زه هم خپل اتاق ته ولاړم...ماچي دځنګله ادرس دقصاب دشاګرد څخه اخيستي

و، خو شحاله سوم چي، اختر پاته نسو کنه نوزما تصميم سړيدی...ځکه زما غوندي خلکو په ختمه بيله هغه دغسي اخښل سويده، چي که يو څه سکته په عمل کي راسي او يا وخت پرتيرسي، ژرمو هر څه هيريږي او يا نوي فکرونه او تصميمونه پکښي راپيدا کيږي...

د چرګانو د ازا نو پر وخت مي بايد خپل زوړ ساعت، چي پرما ډير ګران و او د وطنه مي دځانه سره راوړی و، دکوچني والي ياد ګار مي و، عيارکړی وای، ددي ساعت ټک ټک، چي واضح اوريدل کيدی، سړی دخپل هدف سره

پيوستوی، لکه د ځنځير کړی...دميز پر سر نه و، لکه چي بيا يې، چيري غورځولی دی،دتبرکو نه خو ښيدی. څو واره مي ورته ويلي و، چي دا ساعت دميز دسره ليري نه کړي، خو چاته وايي... دکالو په الماری کي په ساعت پسي ګرځم، چي پرخپله ګلابي نکټايي مي سترګي ولګيدي، چي داهم دساعت سره د روزګارپه يوه کنج کي مروړل سوي په خاورو لړلي پرته وه، را پورته کړه. خاوري مي يې

وشنډلي. دا ګلابی نکټایي هم زما د پخوا یادګار و او دلته مي هم کله چي ګویا ټکسي ډرایور سوم دا نکټایي تړل....
... یو وخت مجبوره سوم، داچي بل کار نه پیدا کیدی.
دغوړو غابو تر پریولو اویا هم دسړکانو ترجارو کولو مي غوره وګڼله چي ټکسی وچلوم. دایوازینی کار و چي پس له کلو بیکاری یې بوختولم او فکر او ذهن مي یې له بي ګټې چرتونو څخه ژغوری.
په اولو ورځوکی لکه څنګه چي مي عادت کړی و، هڅه کول چي خپل سراو وضع پاکه اومنظمه وساتم، خپله ګلابی نکټایي، چي دماموریت د وختو نښاني و، پرغاړه کوله اوټکسی به می چلوی..ولی ډیر ژر متوجه سوم چي سترګی زما وخواته را اوښتي او ان زما نویو هم مسلکانو، موټړ وانانو دونه علاقه نه راسره ښکاره کول، چي راسره صمیمي سي او یا دزړه خواله را سره وکړي... په علت یې نه پوهیدم.
یوه ورځ یوبل پدرکده ټکسی وان په کنایه راته وویل:
دا ګلابی نکټایي دی ډیره ښه درسره ښکاري ... سملاسی می عقل سرته راغی، چی ملامته زما نکټایي ده.
سر له سبامي یې خپله نکټایي پرکوټ بند دخپلې دریشي سره زولانه اوپه لوړ تاخ کی بندي کړه. داچي

نکتایي نه وه په کار، نومي ډېره ولی هره ورځ راسته او چپه خرییلي وای؟...

په اوله ورځ، چې بیله نکتایي او د رسیدلی ډېري سره پرجلو کښیناستم. یوتن له نامناسبه سراو وضعې سره ټکسی ته رانږدي سو. همدا چي زه یې ولیدم سترګی یې وبریښیدلي . د ټکسي دروازه یې خلاصه کړه. شونډي یې سره کش سوي په خاص انداز یې راته وویل:

ـ ځنګه یې وطنداره؟

ـ ته د کوم ځای یې؟ سمدستی مي ترینه وپوښتل:

پراوړه یی په ځپیره ووهلم او په خندا یې راته وویل:

ـ ملامت نه یې! اوس د ټکسي خاوند سوي، معلومداره خپل د پلار او نیکه او لاده دي (جټان) نه پیژني؟

چشمک یې راته وواهه. په داسي حالکي چي ژړغاښونه یې نور هم ښکاره کول بیا راته وویل:

ـ نور کارونه دي ایله کړه؟

فکرمي وکړ چي خامخا یې زه پیژندلم او زماله پخوانی وظیفی څخه خبر و. حق په جانبه څهره مي غوره کړه. خوسمدلاسه، مي فکر سرته راغی، چي دی د کومه خبر دی چي زه څوک وم؟... ددي په خاطر چي څه مي ویلي وي، وویل:

ـ هونویو کار مي باید کړی وای!

بيا يې په هغه شيطاني خندا راغبرګه کړه:

ـ دادي ښه کار وکړ. داکارونه په ټکسي کي ښه کيږي. هيڅ څوک دربانديشکي کيږي هم نه. مشترى دي راځي ټکسي ته را خيژي، خپل جنس اخلي ځي پخپل کارپسي، وايم آفرين دي...

لاحول مى کړه. داچي وظيفه مي درلودله، چي د سپرليوسره بدچلند ونه کړم... څه مي ونه ويل...ترهغو چي دټکسي څخه کښته کيدى. خپل ژړ غاښونه يې را ښکاره کول او دکښته کيدو په وخت کې يې هم دوه مروړل سوي لوټونه راوغورځول او ويې ويل:

ـ دخداى په امان وطنداره !...

بله ورځ بيا يو نيشه يي راوختى. همداچي راپورته سو يوډول يې راته وکتل او ويې ويل:

ـ ته مي چيري ليدلى يي !

ورته ومي ويل:

امکان لري !

بوتل يې دجيبه راوايست اوماته يې را مخته کړ:

ـ ووهه، زدني معلوميږي !

بخښنه مي ځيني وغوښته اوپه ادب مي ورته وويل:

ـ اجازه نه لرم چي دجلو پرسر څه وڅښم.

په داسي حال کي چی آواز یې نورهم پورته کیدی، وویل:
- ووهه بچو، ری ونه وهي. جلو څه پکار دی؟ هسی یې خوشې که، خپله ځي دخدای په زور... ووهه چي عجب شی دی...

لاس یې اوږد پاته سو. تر څوچي له موټره کښته کیدی، بدبد یې راته کتل اوله ځانه سره یې څه ویل. حتمن یې ویل ته دي بدبخته ته ګوره، دپلار، پلاره نشه یې دی اوس پرما ځان کنجوي...

دنشه یي سړي ترکښته کیدو ورسته مي موټر و دروی. د موټر په هینداره کي مي ښه ځان وکوت. نه می پزه سره وه نه مي باړخوګان رازړیدلي وه، حیران پاته وم چي ولي حریف راباندي غولیدلی و...

تر دي وروسته مي ددوی په منځ کي ځان بیګانه نه احساسا وه... له تاسونه به یې څه پټوم، ددوستانو او زما دخپلي کورنی په رویه کي هم بدلون راغی، هغه پخوانی جان آغا جان اوفلانی صاحب نه وم. ما ته په خطاب کي دمفرد مخاطب له شخصي ضمیر څخه استفاده کیده. زما دګلابی نکتایي یاد دي په خیر وي....

## اوومه برخه

### وروستۍ شپه

... همدا چې له کوره راووتم که ګورم چې د دروازې ومخته یو لوکس اخرين موډل سپورتي سور بنز ولاړ دی. دځانه سره مې وويل، خداي خبر، چې څوک به پر سپرېږي. زما عادت دی چې د نورو تر پښو لاندې، لا کوم ښه موټر يا ښه کور يا بل څه به مې ليدل بس نو سترګې به مې، پکښې پاته وې او زړه مې ورته اوبه اوبه کيږي. ددې موټر په ليدو مې هم غړې وتښتيدل ډير ښايسته و، کلي هم پکښې وه. شاو خواته مې وکتل هيڅ څوک نه و. زموږ کره هم څوک نه و را غلی، نو دا دچا و، که ګورم چې د موټر دروازه پخپله راته خلا صه سوه، وارخطا سوم. زه لا همداسې هيښ ولاړ وم، چې چشمک يې راته وواهه، بلې

خپله موټر. چشمک نوڅه معنا لري، چي راځه راوخیژه، زه ستا یم. لا مطمئینه نه وم، خو ور وختلم. مانو له خدایه بل څه غوښتل. کرتی مي ویستل، لستوڼي مي ورته راونغښتل، لا مي کلي نه وه پکښي څرخولي، چي د موټر دروازه په شدت خلاصه سوه، تبرکو وه. ددي بد بختي لا بیا دپلار او نیکه څخه ور پاته عادت دی، چي تل ماڅاري، چي ما څه شي و خوړل، چي دا ځیني بي بر خي نسي، ولي دا وار يې بر خلاف سترګي تر کا سو را وتلي وي او بل بل بریښیدلي او په نخرويې رانه وپوښتل: دا دچا دی؟

نو ما هم په نخره جواب ورکړ: ستا دی، راخیژه.
ماهم اکسیلیټر ته پښه ورکړه. موټر په یوه عجیبه چټکی له ځایه په هوا سو. پر پدره يې لعنت کړي چي مازي به مي ډکه ورکړه دی په هوا کیدی. بیا نو شرم هم و چي دا سي یو موټر دي تر پښو لا ندي وي او ته يې ونځغلوي، ښځي مي هم راته امرکاوه:
نور... نور... تر اخره يې کښیکاږه او ما هم زور ورکاوه.
ولوموړی څلو رلاري ته چي را ورسیدم، چي اشاره رابا ندي سره سوه. دموټر سرعت دومره زیات و چي ومي نسوای کولای چي برک ونیسم، دځانه سره مي وویل:

ځه نو اشاره يې لا بيا څه شي وي.

او بيا شرم هم و ، چي دي بې ارزښه سرو اشاروته سړی ودريږي. هر ورځ خو څوک نه سي کولای، چي په دا سي موټرانو کي سپوره سي او دا دخدای لاره ده چي دنورو شل ديرش کالو زړو پمنو موټرانو سره داسي موټرسړی پر څنګ و دروي؟

په دوهمه څلور لاري کي بيا اشاره سره وه: دا خلک بل کار لکه چي نه لري، چي خلکو ته مزا حمت کوي. اول خو دا څلور لاري څه معنا لري او هغه هم بيا ، سري.

که مي کتل چي يوه زړه بد بختنه ښځه هم د تيريدو په حال کي وه. پر خپلي ښځي مي چيغه کړه:

ـ دا خواره هم بې له هغه هم په مصرف کي حساب ده، ويې وهم؟

ميرمن مي چي له اوله هم ليونی وه اود ډيري خوشحالی څخه نوره هم ليونی سوي وه او ستر ګي يې رډي رډي را وتلي وي، وويل:

ـ وهه يې ...

دا مو داغسي پر سړک هواره کړه، موډ يې تيرسوی و ...

په بله اشاره کي بیا یو ګوډ را روان و ، دا اشاره هم سره وه، دموټر سرعت هم زیات و ، نه مي سو کولای چي موټر دمو سمه وا چوم. دا وار بیا ښځي راباندي چیغه کړه:

څه ته ګوري ، وهه یي یو ګوډ خو زموږ په حق کی را رسیږي.

ما هم ور غبرګه کړه:

څنګه حق نه را رسیږی، خود را رسیږی.

په هوا مي کی. لرګي یي هم په هوا سول. څوک چي په دا سي موټرانو کي سپریږي، داخبري نو لري ... دپولیسو دموټر زړه بږنونکي ږغ چي زما ارام اعصاب نا ارامول ترغوږو سو. د مخ په هنداره کي مي لیده چي څنګه په چټکی راپسي را روان و اوسره او شنه څرا غونه یې لګیدل او مړه کیدل. ویل مي:

ځه لاس دي خلاص، دا ورځ بیا ماته چیري پیدا کیږي....

ډم، چی په یوه لاری موټر کي ومونښتم

دخوبه را وغور ځیدم، لا الله الاالله. پر بل اړخ را وا وښتم . دا څنګه خوب و. ساعت ته می وکتل، ده همداسی وفاداره خیل وظیفه ترسره کول، ټک. ټک. ټک دښپی دولس بجی یې ښکاره کولي.... سر می دروند و...هر څه په یو اړخ اوبل اړخ را وا وښتم، کلمه می وویل. خوب

دسترګو والوتی. سر می په داړو لاسو کرارکښیکښبی، نه پو هیږم چی څنګه چرت را ولویدی، چی خدای څو رازه سرونه پیداکړی دی.

... په زړو کتا بو کی راغلی دی، سرونه یاککري که له لوړې او لیري نه ولیدل سي نویو ډول اویوه اندازه بریښی او یوازي ویښتان دي چي په ښکاره سرونه یو دبل څخه توپیروي، له دې پرته د شکل له مخي ګردي او یا هم ګردي ته ورته بیضوي دي.

پخوا به دسرونو تفکیک ګُردکي (غیرعلمي ) ترسره کیدی. و چاته به یې خام کله ، چاته غټ سر، کدو سر، ماش سر او داسي نور نومونه یا دول..ولي اوس چي دکامپیوترعصر دی، پخوانیو تعریفونو هم خپل ارزښت له لاسه ورکړیدي. اوس سرونه له عصر او زمان سره برابر دیجیتال تعریفیږی : ښیښه ییز ، اوسپنیز، پولادیز ، ختهین، لرګین او داسي نور. نور سرونه به هم وی، کاغذي، پلاستیکي... خو تعداد به یې کم وي... او دا سرونو هریو دموادو دجوړښت له مخي خپلي ځانګړتیاوي لري.

ښیښه ییز سرونه، به هغه ښکلي او رنګین سرونه وي چي بدبختانه ټوله شته یې له لیري معلومیږي، ژر مکدر

کیږي او ژر ماتیږي په ځینو حالاتو کي ښایی پتری هم سي.... دا راز سرونه به حتمن... دکوچینانو وي.

ختېین سرونه: دا باید دزیات مقاومت په خاطر په خپل ترکیب کي

یوڅه پروړهم ولري، خو دننه یې سم نه ښکاري. دسیل، زلزلي او نورو پېښنو په وړاندي ښایی مقاومت ونلري، ولي له کمواوبو څخه په ګټه دکښت دپاره اماده کیږي، خو شرط یې دادی چي هرزه وابښه ځیني لیري سي. نوي ټیپ ددي سرونو پاخه او کاشي دي، چي مقاومت یې یوڅه زیات دي. دا راز سرونو ته.... سړی... ښځینه سرونه هم ویلاي سی.

دلرګنیز سرونو: مقاومت له مخي باید ښه وي او له دننه څخه یې څوک نه خبر یږي ، ښایی دنفوذ امکان پکښي وي، آن د ډکولو وړهم وي، خوحتماً باید پوست ځاي یې پیداسي. دا راز سرونه باید د دود او دستور له مخې رنګ او ورنس سي، چی ظاهره ښه وبریښي. دابه... د ځینو نارینو سرونه وي.

خو هغه سرونه چي ډیر زیات مقاومت لري اوپه هیڅ ډول یې دننه نه ښکاري وسپنیز سرونه دي. هیڅ شي ورباندي اغیز نه کوي، او نه څه پکي جذبیږي او تر اخرته همداسي پاتیږي. خو خرابی دلته ده، چی زیاتره یې زنګ وهلي

وي... دا دچا سرونه دی؟ دا به نوحتماً... زماوارو کسانو سرونه وي.

... سترګی می سره ورغلي دي، ګورم چی یوه سپیره چي ده بیا کوچنی سر در لود ناست دی پرسر او مخ خاوري بادوي، اوپه زار زار ژاړی. و مخښته لکه پو څکی غوندي یوبل، چي لنډه ونه او وړي وړي اوبلني شیطاني سترګي او غټ سر درلود درلودي راشین سو او پوښتنه یی ځینی وکړه:

ولي؟ څه درپېښه ده، چي په نارو سورو دي اسمان پرسر اخېستی دی؟

کوچني سړي چي ترسترګوېې رڼي رڼي اوښکي رابهېدي په جواب کي ورته وویل:

ولي، ناري سوري ونه کړم، ولي خاوري پرسرباد نکړم، نه ګوري چي هېواد مي تبا سو. بي عزته اوبي پته سوو... خوار خلک مو هره ورځ بدبخته کیږي...

شیطان سترګي په تعجب بیا ځیني وپوښتل:

ـ بس هم دوغونه ؟

سپیره سړي یوه ترخه خندا وکړه:

ـ نورنو څه وسي، بدبختي تردي نه زیاتیږي.

شیطان سترګي بیا په هم هغه پخواني تون ورغبرګه کړه:
ـ دا خو کوم خاص کار نه دی، یوازې دومره خبره ده چې دیوه شي دلاسته راوړو په خاطر باید هرڅوک یو څه ورکړي، ته د دې خپلې یوازینی هیلې ته رسیدو په خاطر، چې خلک دې آرامه سي، څه ورکوې؟

کوچني سړي په چورت کی ولاړ، ځکه تراوسه چا دا سوال نه وځینی کړی، ولې ژر یې ځان سره جوړکړ او په خاص غرور یې وویل:

ته هم عجیبه کم عقل یې، زما سر وځان ومال تر وطن قربان دی

شیطان سترګي سر وښواوه:

نه نه دومره نه. ځان ومال دې په امان وي، یوازې سر دې بس دی، چې په دې لاره کې یې قرباني کړې، ترڅو خلک دې د دې افته خلاص سي.

کوچني سړی و شیطان سترګي ته ځیر سو په زړه کې یې تیرسوه:

پردې مردار سترګي هیڅ باور نسته اوس درښتیا رانه وغواړي چې سر دې درنه پریکوم...

شیطان سترګي په خندا ترینه وپوښتل:

ـ څنګه؟ تا پخپله وویل، چې سرمې ترخلکو او وطن جار دی. نه ارزي چې سر دې په دې لاره کې قربان کړې.

کوچنۍ سرۍ چپ پاته سو دځانه سره یې غُم غُم درلود:
چې سرمې نه وې نو خلک څه کوم...
شیطان سترګې بیاور غبرګه کړه:
ـ که درته ډیرښکاري بیانو راسه ترځان تیرسه.
کوچنې سرې چې دشیطان سترګې څخه خار خوره و دځانه سره سوچ کاوه:
که اوس ورته ووایم چې درسته ده داسې نه سې چې ځان مې رانه واخلې
اوبلن سترګې په کنایه ځیني وپوښتل:
ـ څنګه نه ارزي چې د ژوند دیوازینۍ ستونزې دله منځه وړو په خاطر دې ترځان تیرسې؟

کوچنې سرې سترګې مړې اچولې وې. نه پوهیدی چې څه ووایې.
شیطان سترګۍ بیا پر رامخته شو: نو چې داسې ده راسه ترمال دې تیرسه، چې داستونزه دې حل سې او اعصاب دې آرام سې.
کوچنې سرې دا وار په ډیر جرئت ورته وویل:

مال مې تروطن قربان !
دشیطان سترګې چې باورنه راتی، بیایې ترې وپوښتل:

ـ په رښتيا حاضر يې چي ددي کارپه خاطر دي ترمال تيرسي؟

کوچني سړي ته بيا فکر ور ولويدى ! که مال رانه واخلي... نوماته به څه پاته سي... دځانه سره په محاسبه اخته و.

شيطان سترګي په داسي حال کي چې يوڅه يې پر آواز زور کاوه په قار وويل:

ـ څه ورک سه، آرام دي خپل خوب او خوراک کوه. نورناري او سوري ونه کړي. که دا درته په رښتيا هم مطرح واى نو په يوه بيه خو دي بايد رانيولى واى...

او ځينى راوان سو .

کوچني سړي چې شيطان سترګي يې په سترګوڅارى. په نيولي اواز پسي ناره کړه:

ـ ولى مفت نه جوړيږي؟

... لکه د سور شپيلى چي وهل سوي وى، ټول ولس ځاى پر ځاى وچ، تيار سى ولاړ وو. لکه يخ چي وهلى وي. سترګي يى خلا صي وي، ولي ښور يې نسواى خوړلاى. اسمان تورو وريځو پو ښلى وو. يوا زي زه وم چي دروند او په غرور د دوى په منځ کي په حرکت کي وم. مغازي او دکا نونه خلاص وه، مو ټران پر سړکانو ولاړ وه، سواري

همداسي پرپايدان زړيدلي وو. بس ټول خپل او بيګانه، بيله‌واکه‌تر هرځايه چي رسيدلي وه هلته ولاړ وه.

زما وخت را رسيدلی و. لومړی مي بايد دهغو سره چي حساب درلود خپل حسابونه تصفيه‌کړي‌وای، او بيا مي بايد هر هغه‌ څه‌ چي په‌ کار وه‌خپل ضرورت پوره‌ کړی‌وای. دا فرصت بيا ماته چيري په لاس را تی. ددي پرځای چي دقصاب او نانوای پر خوا ورغلی وای، چي زړه مي ددوی له‌لا سه‌بريان و حرکت مي وکړ، د هغو

خلکو ولور ته چي بيعقله او نا پوهه وه ، ځکه دوی زما غوندي فکر نه کا وه. تر ټولو دمخه مي سترګي پر رجب ولګيدي، دی مي په دي خاطر بد ايسيدی چي ده زما په ژبه‌ خبري نه‌کولي.

بل ! يوه چپلاخه مي کش کی، چي بيا يې هير نه سي چي په‌بله‌ژبه‌خبري‌وکړي...

ومي ليدل چي قمر هم ولاړ دی او خوله جنګه نيولي ده، له دي چي زړه مي ډير پر پوخ و، راوګرځيدم او يوه ټينګه لغته مي په پښتورګوکي ورواهه، ځکه چي دی بيا زموږ دکلي نه‌و اوله‌دينه‌پرته‌يې ځانته‌مسجد جوړکړی‌و.

... هغه دی جمال، چي چوب خط يې په لا س کي وه او د نانوا يي ومخيته‌ولاړ دی: پيدا مي کړی.

را وګر ځیدم چوب خط مي يې له لا سه وا خیست او یو
څو می پر دا کونه کش کړ، ځکه چي د ه بيا ما غوندي فکر
نه کاوه، چي ما به ويل تور دی ده به ویل یا سپین دی...
ځانته يې حزب جوړ کړی و.

د خلکو په منځ کي ديخوا او ها خوا سر شاره ګرځیدم هر
یو چي مي نه خو ښیدی او یا دکالو اغوستل مي يې نه
خوښيدل یوه لغته اویا بوکس ور واراوه او د ځینو، چي
بیا په هیڅ نه پوهیدل او ځانونه به يې پړسول، غوږونه
کشول.

خدای راکړي وه د چا په ګوته او لاس کي به مي چي
کومه انګشتری اویا ساعت ولیدی او خوښ به مي سو تر
لاسو به می خلاصاوه...

په هم دي ګړی کي، چي ما خپل د ضرورت وړ شیان پوره
کړي وه. وریځي په حرکت راغلي، د تورو وریځو تر شا
دلمر ستر ګه را ښکاره سوه، د خلکو یخونه کرار کرار په
ویلیدو سوه. خلک بیرته په خوځیدو سوه.

د هغوسره مي چي تصفیه د حساب کړي وه او یا مي د
هغو شیان اخیستي وه، زما پر خوا را روان سول ، مه را
ګوره، دوي مي در لودي او دوي نوري مي پور کړي، په
ځغاستو مي پیل وکړ، دا وار زما بده بخته پښي له کاره
ووتي او يخ ووهلي. لکه بر نجي بُت بي حرکته ودريدلم.

خلک دلرګواو سوځېدو سره را ورسیدل.... چیغي مي هم نسواى وهلاى، چي يو سوځې مي پر اوږه ولګيد ، اخ
مى تر خولى ووت... دخطر زنګ مى تر غوږوسو.... له ځايه وارخطا را پورته سوم. همدا چى سترګى مى خلاسى کړى، شکر مى وايستى، چى جوړ يم.
دا زماد ساعت زنګ و ، چى دسوځېدو څخه يې وژغورلم،
....چى را باندى ناوخته سوى نه يي....

.... لا هوا نه وه روښانه سوي، ولاړم تشناب ته اودس مى تازه کړ. د اولادو دکوټې دروازه مي نيمه خلاصه کړه، دنازنينى څخه کمپله لاندى لويدلى وه، ورننوتم کمپله مي پر واچول، پرمخ مى مچ کړل..؟ دچپرکټ پرسريې زموږ درى رنګه بيرغ چى پرکاغذه يې رسم کړى و زړيدى...را په يادسول.

...يوه ورخ چي کورته را ننوتم دا لورمي. په ځغاسته ځان راورساوه اويو کاغذيې مخې ته راته ونيوى.
ـښوونکي مي راکړ، وي ويل پلارته دي ورکه.
کاغذ مى ووايه. ديوخوشيبو لپاره په چرت کي ولاړم. ولي لورمي موقع رانکړه. پوښتنه يې را څخه وکړه:
څه يې ليکلي دي؟

ـ ليکلي يې دي، چې د خپل وطن بيرغ پريوه غټ کاغذ باندې باید وکاږې، چې د ښوونځی د جشن په ورځ يې. چې ښوونځي وروسته نمانځل کيږي، په لاسونو کي ونيسي.
لورمي په عذر راته وويل:
ـ پلار جانه: راته رسمونې يې؟
ورته مې ويل: ستا ښخه يې غوښتي دي چې رسم يې کړي. نه زما ښخه ! ولي يې ته خپله نه رسموي ؟
لورمي دستي په شوق راته وويل:
ـ ته راته ووايه، چې زموږ بيرغ څه رنګ لري. زه يې خپله رسموم...
هک حيران پاته سوم، رښتيا زموږ بيرغ څه رنګ دی...؟
ددي لپاره چي خپل شرم مي پټ کړی وي اودفکر کولو وخت ترلاسه کړم، نو په خندا مي ورته وويل:
ـ تور، سور اوهم زرغون. ډيردی ګران پرهرپښتون...
ميرمنې مي چي په يقين زما خبري اوريدلي. د پخلنځی ښخه را رږغ کړه:
ولی يې خطا باسي، سم يې ورته وښيه، زموږ بيرغ خو اوس تورسور او زرغون نه دی.
ماهم ور رږغ کړه: دونه چي دي زده دي. نو ورته ووايه چي څه رنګ دی؟

دا بیوزلي چی هم نه پوهیده او په ژوند کی یی اول وار و چي اقرار یې وکړ چی نه پوهیږي:

ـ زه له کمه پوه سم چي څه رنګ دی. د رنګو سره خو تا سو نارینه سر و کار لری.

رښتیا یي هم ویل، هرڅو چي مي پر مغزو فشار راوړ، له بده مرغه و مي نسو کولای چي پوه سم، چې زموږ بیرغ څه رنګ دی. بوټونه مي تیا رپه پښووه، څټ مي وګراوه او دکوره را ووتم، چي دڅو نورو افغانانو څخه، چي زموږ په ښارکي یې استوګنه درلوده وپوښتم، چي زموږ بیرغ څه رنګ لري؟

له هغو بیوزلو څخه هم ورکه وه او جواب یې نه درلود. ولي دوو ـ دروکسانو یي داسي رنګونه راته وویل چي باور مي نه راتی. چي زموږ بیرغ دي هغسي رنګونه ولري. داسي بریښیدل چي هریوه خپل بیرغ پورته کړي وو.

دناچارۍ له مخي کتابخاني ته ولاړم او دایره المعارفوته مي

پناه ور وړه هلته هم دبده مرغه په هریوه کي زموږ د بیرغ رنګ په یو او بل رنګ ښکاره سوی و، په یوه کي سور، په بل کي زرغون او په بل کي یې بیا ځاي سپین و.

لورمي ځان د مځکي، مځکي واهه. ښوونکي يې بيرغ غوښت، نورو ټولو همصنفيانويې خپل بيرغونه راوړي وو. يوازي دا پاته وه.

ماهم هرڅه چي وکړه زموږ د بيرغ اصلي رنګونه مي پيدا نسواى کړاى.

مېرمنې مي راته وويل: ښوونکي ته يې تيلفون وکړه او ورته ووايه، چي موږ هيڅ بيرغ نه لرو، يو نه اوسل اساني. ولي ماڅنګه د اويلاى سواى، چي موږ يوبي بيرغه مملکت يو، ساده ښځه !

نن اوسبامي کول، ماويل کيداى سي څوک پيدا سي. چي راته ووايي...

دښوونځی دجشن په ورځ زه هم دنورو ميندو اوپلرونو تر څنګ ناست وم. د زړه درزامي کرارکرار لوړيده. ماشومانو هريوه خپل د وطن ملي کالي اغوستي وه او هريو دخپل ملي بيرغ سره چي چا پر پلاستيک او چا هم پرکاغذ کښلي وو اوپه دواړو لاسويي جګ نيولي وه، يويو تالار ته را ننوتل. ټولو چک چکي ورته کولي،... زمالور په اخرکي وه ،سپين کاغذ يي پلاس ورکړی و. سترګي يې سري وي. خداى خبر چي څومره به يې ژړلي وي... ددي دحالت په ليدو نورنو ماهم ونسو کولاى چي

ځان کنترول کړم. یوه چیغه مي ترخولي راووتله اوله تالاره راووتم...

...حتمن دهغي ورځي نه وروسته  یې دابیرغ رسم کړی دی، چي دبیرغ د رنګونه یې هیر نه سی.

...دا واري هغه دخوب په کالو کي  دکوره راووتم، یوه کیله مي هم دمیز دسره  راسره واخستل. هغه لاره چي قصاب بچه

را ښوولي وه  او پر کاغذ مي هم رسم کړي وه، روان سوم، ډیر په چټکی روان وم، چي ژرځان ځنګلته ورسوم. دخیر په کارکي درنګ  مصلحت نه و، چي دعا مي قبوله سي.

....کیله مي په لاس کي ده، لاري ته ګورم چي لاره غلطه نکړم، ځکه هوا لا تاریکه وه. کیله مي سپینه کړه... خورم یې، خو په خوند یې نه پو هیږم، هیڅ خوږ ه نه ده ... یو ډول بی خونده او اوبلنه ده.

دځانه سره اخته یم چي دا ولي هر څه داسي بي خونده او اوبلن سوي دي. معلومه ده  هر څه چي اوبلن سي خوند هم له لا سه ورکوي. ښایي یو له علتو څخه به دا  وي، چي هر شي دکودو او پیچکاریو په زور غټیږي، ځکه مصنوعي دی. دخوږو  او اوبو څخه نیولي تر هوا آن انسا نانو خپل

خوند له لاسه ورکړی دی. وایم دانسانانو بی خوندی به دهمدی مصنوعی خوړو تاثیروي، چې خورو يې، ددي پر ځای چي خوند پر واخلو، نس مو وپړسوي، کولمي دي په چڼ چڼ را ولي....

په دي کي هم شک نسته چي ګیډي هم هغه پخوا نی ګیډي نه دي، پړ سیدلي اوګردی خو بي غیرته....

او ددي تر څنګ ښاغلي غاښونه هم هغسي تیره او داړونکي

نه دي، ځکه چي نیم يې چنجیانو خوړلي او نیم نور په دا سي موادو ډک دي چي خوند نه احسا سوي. نو لکه زړه او قرار دادي ژرنده بیله دي چي خواړه سم میده کړي و ګیډ یته يې استوي. او د فارمي چرګانو غوندي پنډیږو. یا به هم ښا يي د هوا تا ثیر وي چي د دود او باروتو د بوی له کبله وي، چي پوره اکسیجن مو ومغزو ته نه رسیږي، ترڅو وینه په نور مال ډول په بدن کي جریان پیدا کړي. ګیډه هم بیله دي چي شیره او شربت يې ځیني جلا کړي نیمايي په باد او بله نیمی يې همدا سي ژوندی خارجوي.

سړی دا سي فکر کوي، چي دتن په تناسب مغز هم باید غټ سي، نه دا سي نه ده مغز شیر سوخته پا تیږي، ځکه هغه څه چي موږ خورو یوا زي دنس د ډکولو په درد خوري نه د مغز دلویولو، کله چي د مغز د ضرورت وړ شیان ور

ونه رسيږي، نمونسي کولای اولکه شير سوخته کوچنيان، همداسي کوچني پاته کيږي.

که په هنداره کي ځانته وګورو په ظا هره سم ښکارو خود نورو په نظر بيا بېعقله او ناقص العقله ورځو. که يو څه دقيق سو په ربښتياهم همداسي ده: غټه پړسيدلي تنه اوکو چنی سر.

پخوا څنګه ښه خلک وه، ښه پلرونه وه ، چي دهيبته به يې مځکه او غرونه لکه امير کړوړ ريږدول او اوس لکه د نداف خوټي دسهار دباده سره ريږدي.

آن دغه کسان چي پر لوړو لوړو چوکيو يې ډډي اچولي دي دسړي له سترګويوبل قسم ښکاري، پوف سوي، بادسوي....

... هيڅ مي فکر نه و، چي لاس مي پر يو چا ولګيد. اتومات مي تر خولي راووتل: معذرت غواړم.

ده هم بيله دي چي راته وګوري وويل: فرق نه کوي.

ولي همداچي سريې راپورته کړاوسترګي يې پرما ولګيدي، تندي يې تريو سو اوپه قاريې را ته وويل:

- ولي سترګي نه لري، چي لکه حيوان غوندي لاسونه غورځوي...

چورت مي خراب غوندي سو، دا څنګه يې داسي ژر خپل نظر واړاوه...

سر مي کښته وا چوی او روان سوم. لا څو قدمه نه وم تللی کرار کرار مي غیرت پر ښور راغي او بیرته را وګرځیدم او ور ږغ مي کړه:

ـ ودریږه ! دا ولي دي داسي چټي خبره تر خولي را ووته. زما خو په نا پامی لاس دربانديو ولګیدی...

ده هم نه راوړه اونه یوړه تر خولي یې راته را ووتل:

ـ ځه ورک سه احمقه...

رنګ مي جغندر غوندي له ډیره غضبه سور سو. په داسي حال کي چي ناړي مي تر خولي بادیدلي ورته وویل:

ـ ته څنګه جرئت کوي، چي داسي چټي کلمات تر خولي را وباسي او ما غوندي یو محترم سړی توهین کړي.

ته ښه را ته وګوره څه مي تر تا کم دي، دوي سترګي لکه ستا، دوي پښي او دوه لا سه لکه ستا، پزه مي لکه ستا، ته تر ما څه زیات لري او څنګه ځان ته حق ور کوي چي ما تو هین کړي...

لا مي خبره پایته نه وه رسولي چي «شړپ» یې سو، یوه چپلاخه مي پر مخ ولګیده. ترڅو ما هم لاس پورته کاوه یو ټینګ سوک مي پر پزه پسي و مښتی، پښي مي سستي سوي. موازنه مي له لا سه ور کړه، «درب» لکه سخندر را ولویدم. په داسي حال کي چي د پزي ویني مي پا کولي، ور پسي ږغ کړ:

ـ کله دي پرېږدم، عريضه درباندي کوم، دقانون منګو لو ته دي سپارم تا زه نه يوازي تو هين کړم او بيادي پر ما لاس هم پورته کړ او په سوک دي ووهلم..زه يوانسان يم زه يو محترم سړي...

هغه بيله ديچي مخ را وراړوی، خپله دمنځ ګوته را ته وښورول...

هوا لا سمه نه وه روښانه سوي ځنګله ته مي ځان ورساوه. ديوي پلني زړې وني لکه په فلم کي، په لټه سوم. ولي هرڅه چي مي وکتل داسي ونه مي پيدا نکړه. دناچارۍ له مخي مي يوه ورسته ونه پيدا کړه اوتر لاندي کښينستلم. دوه رکاته لمونځ مي ادا کړ اوتر ډيره مي تندی پر مځک وموښی ، دخوب کالي مي له ځانه و ايستل اوليري مي وغورځول. لغړلکه له موره چي زيږيدلي وم لڅه کونه پرمځکه کښينستم. شاوخوا مي يو خط پرځان راکش کی، دري ځلور سوري، چي مي په ياد وي پرخپله شا وخوا چف کړي، چي هر راز انس اوجنس، حيوان او خزنده له خطه دننه رانسي.

لکه شهزاده غوندي مي بايد نه څه خوړلي وای او نه څښلي اونه

مي هم له چاسره خبري کړي وای اونه هم له ځایه ښوریدلی وای..ځکه دغه مي وروستی چانس و، باید هرڅه په دقت اوصداقت ترسره سوي وای، که نه نو د ناراستی خوند مو لیدلی و، هر څه مو خراب سول....کرار مي سترګي پټي کړي.....

## اتمه برخه
## استجواب

...آرامه ساه مي ويسته، لکه د دژوند دجنجالو څخه چي بيغمه سوی وم. سترګي مې درنيدلي. په تياره خاورين دهليز کي مي سترګي پر يو چا ولګيدي چي زما وخواته را روان و..ژر مي ځان سره راټول کړ. راته غير مترقبه هم نه وه، وخت يې و، ځای يې و بايد را پيدا سويی وای،

ولي کله چي مي وليده چي يوکس دی، نو پوه نه سوم، چي دايې نکير و که منکير. ښه چي رانژدي سو، ومي ليدل

چي ګرز ـ مرز يې هم له ځانه سره نه و را وړی، خو يو تور شي يې په لاس کي و فکر مي وکړ، چي حتمن يې دګرز پر ځاي برقي ډنډه له ځانه سره را وړي ده. زړه مي ولويدی ما ويل ولا دا دوه وړونه ووايم که دوي خويندي هم اوس مډرن سوي دي. اوس دګرز پرځای برقي ډنډي له ځانه سره ګرځوي...

دی مي مخي ته مي ودريدی جوله هم انسانانوته ورته وه، خو يو سره کش سوي وه . زړه مي غوښتل چي ځيني وپوښتم چي دا جوله خودي نکير او منکير ته نه ده ورته...
که څه هم ما خپله لا يو هم نه و ليدلی، خو اوريدلي مي وه. بيا مي په زړه کي راتير سول چي دا به حتمن زما دنيکو اعمالو په خاطر وي، چي دبنيادم په بڼه ځان راته ښکاره کوي.

تور اوږد شی چي يې په لاس کي و اوما دبرقي ډنډي خيال پر کړی و، وخوليته را نژدي کړ. ومي ليدل چي مګروفون دی.

ما ويل ولا اوس دوی هم خپل وخت پر ليکلو نه ضايع کوي. سوال او جواب راسن ثبتوي. هم د مړي د وخت د ضايع کيدو مخه نيسي او هم دوی ته يې اوريدل اسانه دي.
او ددي پر ځاي چي په اتکه او پتکه راڅخه وپوښتي په ارام او نازک ږغ يې رانه وپوښتل:

ـ نوم دي څه دی؟ په ختهٔ څوک یې؟...او په چا پوري تړلي یې؟
بیله دي چي فکر وکړم لکه بلبل غوندي ورته شروع سوم:
نوم مي خاوري جان....
ژر مي عقل سرته راغی، چي دا یې څنګه سوال وکړ. لکه چي اوس یې دسوالو رنګ هم بدل سوی دی. ده باید پوښتلي وای: ربکم، دینکم، ایمانکم...
اوما چي یې جواب لا پخوا ایجیګي کړی و سمدستي په جواب کي ورته ویلي وای:
بنده دخدای، امت دمحمد رسولا اللّٰه، او له پلاره پلاره مسلمان زی.
یاره خدای دي دا زموږ ملایان هم په نس نه مړه وي. دا دونه تغیرات را غلي دي او دوی موږ ته هیڅ هم نه وو ویلي. هغه پخوانی با بولالي یې راته تکراره ولي. ځومره ښه سو چي دهر چا څخه پخپله مورنی ژبه پوښتني کوي. دا دی خواست مو خدای قبول کړ. دستي مي په غیږ کي ونیوی او پر دواړو خواو مي نکیر و که منکیر مچ کړ:
ـ تر خولي دي کربان سم شکر دی چي زما په ژبه پوهیږي، کنه نو ستا په خبرو به څنګه پوهیدلای وای.
له ځانه سره مي ویلي و، چي درنه وغواړم به دعربي پر ځای په اردو سوال او جواب راسره وکړي. ځکه چي دفلمو

څخه مي زده کړي وه. د ادی زما په ژبه څنګه رواني خبري کوي.

ته اول دا راته ووایه چي ته کوم یو یې؟ نکیر یي که منکیر؟ او ددي راز را پارونکو پوښتنو څخه دي مقصد څه دي. دا راز خبرو، چي موږ په دنیا کي هم خراب او تراب کړو، دلته هم موږ سویدي؟

خوارکي خپل ستوني تازه کړ او په ډیره پسته ژبه یې راته وویل:

ـ زه نه نکیر یم او نه هم منکیر. هغه دواړه اوس دبمو او را کتهو له بیري چندان نه راګر ځي. زه ددي ځای د محلي را دیو خبریال یم. زما دنده داده چي هر څوک چي دلته نوی راځي وپوښتم چي په هغو تروریستي سازمانوکي چي د دسپتمبر په یوولسمه کي یې لاس درلود عضویت خونه لري. که چیري وي چي رسوا یې کړم او ددي ځایه یې...

خبره مي ور پري کړه او ورته ومي ویل:

ـ وروره زه خو په ولا که یا سازمان لرم او یا هم پوښتن والا، کنه نو دلته مي څه کول...

ژور نا لست وویل: موږ خبر نه یو، چي ته څوک یې او په چا پوري تړلی یې. د ازما وظیفه ده چي دغسي بي مسئولیته خلک رسوا کړم ترڅو ددوی له لاسه ددي ځای

دمحترمو مړو ارام ژوند ګډوډ نسي او پرقبرو يي پطرولي بمونه وا نه چول سي....
مکروفون يي زما خوليته ونيوی: تاسو اول خپل ځان معرفي کړي ، څوک يې؟ څو کلن يې؟ څه کار کوي؟ دکم ځاي يې......
نوم خو نه لرم او که ته بيا ډير شله يې نوم مي خاوري دي . دغه نومونه دی چي موږ يې خراب کړی يو ، که څه هم نوم لوی نعمت دی . هر چا ته چي د اولی ورځي دا فکر پيدا سوی و ، چي پر ځان او يا خپلو اولادو نوم کښيږدی، بزرګ و. ټوله بشريت يې بايد دهغه ممنون واو سي. که دا کار آدم بابا کړي وي بيله شکه خپل پلرني دين يې پرځای کړی دی . و يا هر بل چا چي دا کار کړی دی د بابا آدم د اولادي پرده يې کړی ده، بايد د « پرده پوښ» کاکا لقب ورکړو ...
حوصله وکه، ستا پوښتني ته راځم، مخکي له دی چي دبابا آدم اولادونه کالي واغوندي؛ لڅه غره ګرځيدل، نومونه يې نه درلودل دهر يوه سِر او پودينه معلوم و، داسی څه يې نه درلودل چی دبله يې پټ کړي او په غالب ګمان هر يو پخپل صفت يادیدی ؛ مثلاً ګوډ ، توركي، بډک ، ټندکی، بيا کله چي شوقونه او کارونه پيدا سوه مثلاً: کرک باز، نداف، او داسي نور. او خلک زيات سول معلومه ده ، چي ګوډان ، توران ا و ندافان هم زياتيدل. او

وخت یې رارسیدلی و چې باید مشخص سی. که چا پوښتلی وای،چغړ دی ونه لیدی ؟ داچې چغړان هم دوه دری کسه وه نو تا به حتمن ورته ویل: کوم چغړ. بیا ته اړ وي چې ورته ووایې: کرکی چغړ، کټې نداف، سپیره کلال......

او کله چې بیا بن ادمان یو څه بی لاری سول او نورو کاروته یې مخه کړه... ددی نو مونو سره یو بل صفت هم ورا اضافه سو: بوغه یی خړیت نداف ، ټګ کټې کلال، تورکی دوړن کچل ....

د کالو داغوستلو او ستر عورت سره ، هغه «پرده پوښه کاکا » ولیدل چی خبره رسوایی ته رسیږی...تصمیم ونیوی چې پر خلکو نومونه کښیږدی: پر بوغه یی خړیت نداف ،یې رمزالدین نوم کښیښود. پر ټګ کټې کلال یې، رنګ الدین...و دوړن کچل تورالدین نو م وبخښی.... دخلکو عیبونه په پټیدو سوه.

او کله چې درز او دروز سو دی خلکو منصب اومقام وګټې، پر عیبونویې نوره هم پرده وغوړیده...تورالدین سو، ملک تورالدین، رنګ الدین سو، رئیس رنګ الدین، رمزالدین سو جنرال رمزالدین...هیڅوک دهیڅ چا دعیبته نه خبریدل. هرچا یو شرافتمندانه نوم درلود؛ چې په هغه نامه یادیدی.

ولي دی خلکو پدی هم اکتفا ونکړه یو تخلص او لقب یې هم ځانته غوره کړ....ملک تورالدین چی ډیر بیرندوکي و د شیردل ، تخلص ځانته غوره کړ. جنرال رمزالدین چي ډیر ډنګر و د کروړ لقب غوره کړ. رئیس رنګ الدین چي ډیر ظالم اوبدطینته انسان و دسر فراز ګُنیه د ځان لپاره ښه وکڼل....

ولي نن چي بیا زمانه پخواني مدارته رارسیدلي ده، څکه مشرانو ویلی دی چی زمان دفنر غوندي دی. بیا د رسوایی وخت او زمان را ورسیدی، نه یوازي ګرانو، څرمني او پلاستیکي کالو؛ نومونو، او القابو، مقامونو ا و تخلصونو ځای ونه نیوی او دبابا د اولادو پرده یې ونسوای کړای ،او خلک چي نور هم سپین سترګی سوی وه: اوس ملک تورالدین شیردل ته ملک تور چرګه وایی، رئیس ګلاب الدین کروړ ته مامورګلو ملا شینی وایی...

ددی خاطره زما نوم د اوله خاوری و او اوس هم خاوری یم....

اوس دکوم سن درته ووایم څکه دوه سنه لرم، یو مي قا نوني سن دی چي دکاغذ پرمخ لیکل سویدی او بل مي اصلي سن دی چي هیچ چیري ثبت نه دی:

ـ پنځوس، شپیته کلن به یم، په لوټه کم په لوټه زیات..

دا چې مسلک مې څه شي دی؟
اصلي مسلک، چې تحصیل مې پکښې کړی دی او جعلي شها دتنامه یې لرم او یا د اوسني مسلک چې ورسره بوخت یم او هیڅ سند او مدرک پکښې نه لرم.
ـ مسلک مې نوشته که:
انجنیر ـ نداف....
تا سو ته خو مالومه ده چې سپین عاید خو هیڅ نه لرم او هغه څه چې تورتر لا سه کوم درته ویلای نسم:
نو نوشته یې که: مفلس ـ خوشاله...
که دخپل اصلي تا بو بې، چې دزیږیدو ځای مې دی ولي بې حیثیته او بې عزته یې را وشړلم، نوم درته واخلم او که د بل هېواد چې تابو بې مې نه دی. ولي سر پناه یې را کړه....:
بس، مهاجر...
لکه دسینما پر پرده، چې وینم زه پر دوو ګوتو ورته ناست یم، ژور نالست دمګروفون سره مخامخ راته ولاړ دی او دده ترشا نکیر او منکیر ګرز په لاس رانژدی کیږي.
ځانونه یې را وسول. حتمي مطمئینه سوی وه، چې دا پتهاو والا نه دی بې ازاره ساده مسکین بسلمان دی. ژور نالست خپل دمګروفون دسیمانو په تولیدوسول ... دوی را نژدي سول ودریدل یو څه دلیري په پتکه راته وایي:
ژر دخپلو عملونو جواب را کړه بد بخته.

او زما چي خوله وچه ده، ستونی مي تازه کړ:
ـ دکوم ژوند او دکومي ورځي او ګړی جواب درکړم؟
یوبېي لا زما په واک کي نه و؟
دیوه خوله جنګه سوه...

مه خاندي! رښتیا وایم، کله چي واک پخپله دچا په لاس کي نه وي، څنګه کیدای سي، چي ګناهکار وبلل سي. مقصد دلاسه لنډ اوسی انډیوالا نو، دګرز. مرز او دغمچیني وار ونکړي... چي خپله مي هډونه سخت درد کوی، هغه چاچي زما پر ځای ژوند کړی دی دهغه څخه وپوښتی او په ګرزو یې ووهی، سوری سوری یې کړی، حتمن نام خدا بیسواده نه یاست دونه تمیز خو لری ! زه ولاکه

پوهیږم چي ژوند څه شي ته وایي؟ پوخ خوړل کیږي که اوم؟ دهغي ورځي څخه چي زما په یادیږي ما پخپله رضا هیڅ نه دي کړي، په زوره اړ ایستل سوي یم. ژوند به ته حتمي زور ته وایي...راځي دا زه او دا تاسو، که زما په خبرو مو باور نه راځي هغه دي د را سته لا س د ملایکي څخه، چي ټول شیان یې دالله په امر نوشته کړیدي....،یا راځی، چي
حساب سره وکړو. له هغو شپیتو کلو څخه چي راته لیکل سوي وه، پو هیږی چي څه وایم، نیمی یې د الله په رضا

درسمي پروتوکول پراساس په خوب کې را باندې تيرسول او دخدای لاره هم نده چې دخوب پوښتنه راڅه وسي... دشپې او ورځې يو پردريمه خوب فرض دی، همداسې ده کنه؟ او څرنګه چې مور اوتاسو دخپل مزاجي خواهشاتو، تاسې وبخښې ماچې ويل تاسې هم ما غوندې دبابا ادم د اولادې څخه ياست، داخپل سپيره ولس در يادوم...د منطقوي تاثيراتو اوميراثي عاداتو پربنسټ بايد دپاته نور وخت څخه يوڅه راغيچې کړو، ياني له ماسپښين له يوې سترګې خوب څخه هم چاره نه وه. له دې شپيتو څخه ديرش ولاړه په خوب کې. له دې نه پرته تر اوه کلنې پورې پر سړې لمونځ هم نه وي روا، ياني صغير وم. دلويانو په وينا خپله پزه مې هم نه سوای پاکولای. اول خوبې په وښيو کې ټينګ تړلم، چه کونه ونښورم، همداچې خوله به مې خلاصه کړه رابړې بلا دچوشک په نامه به يې په رانښيسته..اويا به يې ساکو دانه اوبارتنګ را په کښې تويول، ځکه مور مې شيدې نه درلودې او همدا چې دمخ دوه غاښونه مې ولويدل، لوی بکس يې را تر شا کړ چې څه ولاړ سه اول زده کړه بيا کوزده کړه....

هغه وخت مې لا ورته وويل: چې مکتب او تربيه په درد نه خوري، همداچې زده دې کړه اونيمچه ملاسوي خبره لا خرابيږي، ولې چا وانه وريدل... کاله په خوله ياديږي،

دخداي لپاره ووايه، ووايه، دڅه لپاره... هغه مقام او رتبه چي مي درلوده، له مور او تاسوسره دي وي (نداف) بيله زده کړي هم راکول کيدل، څنګه؟ خودوی بيوزلي، مور اوپلا مي يادوم، هم نه پوهيدل، غوښته يې چي زوی يې ډاکټر سي، انجنير شي...اورغوی يې نه و بوی کړی او وليان هم نه وه، چي داسي ورځ به راسي، چي يوازي هغه ځوک چي ښه تړلای او وژلای سي، مقام اورتبه ګټلای سي...

د مکتب او زدکړي له دوري نه وروسته يې کلاشينکوف را ترغاړه کړ، چي څه زويه دپلرنۍ مېني حق ادا کړه او هغه يوه لويشت خاوره چي زما حق کيږي، دهغه دفاع وکړه او دهغه بل لويشت هم دځان کړه. کاشکي چي هغه يوه لويشت خاوره هم را پاته وای...

د سترګو څخه مي يوه اوښکه را توی سوه، اواز مي نري سو:

...له هغه څخه يې هم وشرلم.

يو پوه چا راته ويلي وه، چي ژوند ياني: خوند، لذت... مزي دغه خوندنو راوبخښه، چي ورځي يوساعت دمياشتي ديرش ساعته...په زور وهلو راباند تيرسوه چي يا به نه کيدل او يا به يې هم داري وهلي...

اوس نوتاسو پخپله ورته ځیرسی، غواړی چي ددي پوښتنه هم رانه وکړي. توبه ! اوس نوتاسو ووایاست، چي څو ورځي اوساعته ماته پاته سوه، چي زه په ژوند پوه سم !
چي ژوند یاني څه؟
اوکله چي مي توپک وغورځاوه...بیا نورو توپک را باندي نیولی وو، چي ځان ونه ښوره وي... ددي نوم، ستاسو زړه چي اوس یې ژوند ایږدی که بند...؟؟؟؟ د ژوند په نامه دکوم ژوند جواب درکړم، کوم یویې زما په لاس و.
هغه څوک په ګرز ووهی یایي ترغاړي ونیسی چي زموږ په حساب یې ژوند کړی دی، کنه...
دوي خواران نیکر ومنکیر هم حیران پاته وه ځتونه یې ګرول، خو زه لکه کوک سوی چي وم سر مي کښته اچولی وو او حساب مي ورکوی...

... یوازیني کار چي په میراث راته پاته و، درواغ دایمان زوال دی، ولي ووایم، چي قومندان وم، جنرال وم یا، ساده رنګریز وم....یو وخت، چي خلکو رنګه کالي واغو ستل او نرخونه هم آسمان ته وختل، نو ناچاره سوم چي په یوه بل کسب او کارپسي وګرځم...
نه پوهیدم چي څه وکړم؟ هغه کار اوغریبۍ چي یوه ګوله ډوډۍ درلوده، پیسي ورته په کاروې، چي مانه درلودې.

تصمیم مي ونیوی چې دولتي کار وکړم. ومې ویل: که یې معاش کم دی، خیردی کوپون خو لري..

هغه و ، چې حاجي رسول ته، چې زموږ همسایه و او ډیر خیرخواسړی و او دمصنوعي انساجوپه ریاست کې جنسي تحویلدار وو ، ورغلم. له هغه نه مې وغوښتل چې که په کومه شعبه ـ معبه کې کار راته پیداکړي ! حاجي صایب راته خندل، باوریې نه راتی... پوښتنه یې را څخه وکړه: پیاده ګي کوي؟

هو ! هرکارچي وي کوم یې، مقصد چې یوڅه ګذاره وسي...

دحاجي صاحب دي کورآباد وي اوخدای دې جنتونه په نصیب کړي، سبایې زه خپل دفترته بوتلم. زماله بده بخته دپیاده بست تش نه و. یوازینی بست چې خالي و ، هغه درنګمال بست و. دحاجي صایب په غوښتنه چې ټولو یې درناوی کاوه او پرما باندې دزړه سوي له امله، د رنګمال په بست کې وټاکلم، ولي پیاده وم، چای مې جوشاوه، مکتوبونه مې وړل او را وړل او دفتر مې پاکا وه...

دخدای شپې او ورځې تیریدې. دجشن شپې او ورځي را ورسیدلې. اداري مدیر ور وغوښتم، راته ویې ویل:

مکتوب راغلی دی چې دجشن دپاره باید موسسه رنګ سي او خبریې چې ته زموږ د رنګمال په بست کې مقرریې.

له د باندي څخه هم رنګمال نسو استخداموﻻی، په دي خاطر چي برحاله رنګمال لرو. اوس نوته وواية چي څه وکړو؟ ځان ونه بایلود او وار و پارمي خطا نه کړ ،ورته ومي ویل:

تاسو بیغمه اوسی، رنګ اوبرس راته راکی، انشاالله داسې به یې درته رنګ کړم چي تاسو ووایاست شاباس!

له کوچني والي څخه مي درنګ سره سراوکارلرم. ډیرشیان مي رنګ کړي دي، لکه...خو دستي مي برک ونیوي.

بله ورځ یې رنګ، برس او زینه په ﻻس راکړل، ماهم شروع وکړه، نه مې درنګ ګډول زده وه اونه هم دبرس وهل. رنګ مي پر دیوالومښی اومخ ته تلم. هیچاپوښتنه نه کوله چي ته څه کوې؟ حق یې هم نه درلود چي دبل په کارکې مداخله وکړي، ځکه چې دوی هم پخپل کار نه پوهیدل...

یوه ورځ یو ځوان چې نوی یې پوهنتون پای ته رسولې و، انتقاد راباندي وکړ، چي داڅنګه رنګ دي کړی دی؟ ځان خطا باسې که نور؟

ورته ومي ویل: څه وروره !ستایې په دې کارو څه؟ همدا ډیسي رنګ اوهمدا دیوالونه. که څوک اصل جرمنی رنګ راته واخلي

بيايې وګوره چې لکه هګې غونډې يې درته رنګوم که نه؟

هغه ووچې موسسه مې رنګ کړه...او درنګمال لقب مې ترلاسه کړ...

بيا يې يوه درجه هم راکړه اوډښه خدمت مدال يې هم پرسينه را وځومبې. اوخارج ته يې واستولم...

...يو ږغ مې ترغوږو سو: دتبرکو پای واز !

پرحال راغلم، سر مې را پورته کړ، ګورم چې نه منکر وو او نه نکير....چې بيا مې ږغ تر غوږو سو: دتبرکو پای واز ! ددې ږغ په اوريدو ، لکه دنوه کې عسکرغونډې بيله ارادې پرخپل ځای تيارسی و دريدم، په لوړ آواز مې ږغ کړ: صايب ! ! !

دا نوهغه وخت و چې ټوله شپه په پړسيدلو سترګو او رسيدلې ږيره د زيربنتون د دروازې تر شا ديوال ته تکيه کړې وه او پخپلو چرتونو کې ډوب وم. عجب يو احساس مې درلود ، منتظروم چې پلار سم ! ! !

سپين ږيرې بابا چې خوله ترغوږو خلاصه وه راننژدې سو: دتبرکو ميره ته يې؟

ورته ومې وويل: هو زه پخپله يم.

خوله يي سره کش سوه، غو ښته يي چي څه ووايي، خو نصوار يي تر خولي را وڅڅيدل، ژر يي نصوار توف کړه او خوله يي په بي رنګه شمله پاکه کړه مبارک دي سه دشيريني سره ! خداى يو نربچى درکړ...

ددې زيري په اوريدو مې احساساتو يوسل او اتيا درجې بدلون وکړ، رښتيا چي څومره په زړه پوري ده چي څوک پلار شي...

خداي يو زوى راکړ او ديوبل روزي خور مصرف هم زما په جمع کي قيد سو...

مجبور وم، چي نور داتو ساعتو پرځاى لس دوولس ساعته کار وکړم، چې دګران زوى لپاره مې شيدي
اوچوشک برابرکړم.

تر مرګ تر مخه مې په ژوند کې يوازي يو آرمان درلود چي دخپل خواږه زوى دخوږي شيريني خولې څخه واورم (( پلار )) !

هغه وخت نو په پوره ډول ډاډه کيدم چي اوس نوبې له شکه

اوشبهې پلاريم.

کله چې به پر کور وم يوازيني کار چي مې کاوه دا و، چي زوى ته مې ور زده کړم چي زه پلاريم. کله به مې پر بريتو

لاس تیراوه اوکله به مې هم خپل عضلات پړسول چي زوی مې پوه سي، چې زه پلاریم او هغه بله چې بریتونه اوعضلات نه لري، مورده.

په ساعتو به مې د شیدو چوشک دده و سترګوته کښته پورته کاوه: دا پلار راوړي دي. پلار ممم درکوي. ته پر پلار ګران یې او داسي نور چتیات. ولي څرنګه چې دورځي زیاته برخه په کورکې نه وم، له ګمانه څخه لیرې نه وه چي اوله کلمه چې یې پر ژبه جاري سویده د پلار کلمه ده، خو هروخت چې یي ترخولي راوتلي دي، پلار ! موریي خامخا خواهش پرځای کړی دی.

یوه ورځ چي له کاره وختي راغلم، زوی مې زما په لیدو را وځغستل اوپه غیږ کې یې ځان را وچاوه. ددې پرځای چي راته ووایي پلاره: راته ویې ویل: موري...

څرنګه چې په ټول وجود سره دداسې ګړی په انتظار وم چي راته ووایي پلاره ! او زه په جواب که ورته ووایم،

پلار دې ترتا جارسي، پلاردې ترتا صدقه سي...

خو دده د((مور)) په ویلو سره بیله دې چي فکر وکړم، چي زه پلاریم، مورنه یم، په لوړ آواز مې ترخولې راووتل:

(موردي ترتا جارسي موردي صدقه سي ).

یوه سوم چې ددریمي دورې پیل به له همدي ځایه دی، تا سو به حیرا ن پاته سوي یاست، چي دریمه بیا کومه

دوره ده زما په نیمګړي فکر دنراوښځې په اړیکو کې درې
دورې موجودې دي:
لومړۍ دوره: دا هغه پخوانی یا د زاړه عصر دوره ده، چې
دبابا آدم له وختو څخه زموږ اوتاسو تر دورانه را رسیږي.
په دې دوره کې پلار یا میړه دکور مطلق واکمن و اوښځې
دمیړه د امر او اطاعت پرته بله چاره نه درلوده. دا دوره د
(پلار رسالاري) په نامه هم یاده سوې ده.
په دې دوره کې میړونه دګل آغا، شیرآغا، خان آغا...او په
داسې نورو نومونو چې د آغا کلمه یې حتمي جزوه نومیدل
.ښځه د کدې، عاجزې، تورسرې...او په داسې نورو نومونو
یا دیدله.
دویمه دوره زموږ او تاسو دوره ده، چې ډیره لنډه وه په
دې
دوره کې تصادفي نه ده چې ښځې ته یې (همسر) وایه،
یعني دمیړه سره برابره. کله کله هم دمیړه له خوا د (ګراني)
یا (خانم جانې) په نومونو یادیږي. په دې دوره کې میړه
خپله
آغایي له لاسه ورکوي معمولاً پخپل نامه یادیږي او یا په
خاصو حالاتوکې یې له نامه سره د(جان) کلمه پیوندیږي،
کنه نو دفلاني پلار او یا پاپا او پاپي دلومړی دورې د
دکتاتور قبول سوي نومونه دي....

...د میرزا رستم وخواته چې دخدماتو مدیر وو ور روان سوم. په دې تمه چې اوس یې نو وخت و چې خپل څلور منه د اوړوکوپون اته منه کړم، کله چې دمیرزا رستم دفتر ته ورننوتم، یوسړی چې دڅلویښتو کلو به و، خپل کاغذیې میرزاته ورکړ. میرزا کاغذ ته ځیر سو اوبیله ځنډه یې وویل: دروا غ دي.

سړي په داسې حال کې چې نه یې غوښتل، دخپل آواز تون کم کړي، په غور آواز وویل:

د ډاکټر لاسلیک تر لاندې موجود دی.

میرزا یو څه جدي غوندې سواو بیرته یې ورغبرګه کړه:

وینم یې چې د ډاکټر امضا سته، خوبیا هم دروا غ دي.

سړي په داسې حال کې چې په ذهن کې یې څه پلټل، پس له یوه لنډ مکث وویل:

ګوره میرزاصایب، پنځلس ورځې تصدیق څه شي دی.....

میرزا لکه بل هروخت خپل بې لاستی مهر دګُف کولو لپاره خولې ته ورنژدې کړاو ویې وویل:

که رښتیا راته وواياست درته مهروم یې، وواياست چې دروا غ دي....

سړی څو واري سور او شین سو، ولي ځان يي له لاسه ورنکړ

او دميرزا په خبروکي ورولويد:

ولا ميرزا صايب دومره سختګيري ښه نده، يوکومک دی.

دميرزا څيره سره وغوړيده ويي پوښتل:

يانې چې درواغ دي؟

سړي سر وښوراوه اودميرزا خبره يې تاييد کړه...

دميرزا څهره سره وغوړيده. په داسي حال کي چې درضايت موسکايې پرشونډو خپره سوه. نومهريې کوف کړاو پرعريضه يې

ور ولګاوه. خپل مهر سوي کاغذ يې دميزله سره واخيست.

ميرزا زما په ليدو له ځايه راپورته سو. له ستړي مسي وروسته يې دستي چاى راته راوغوښت. لا موچاى نه وو ښبلي، چې يوځوان، چې په موډ برابرکالي يې په تن کي وه، دفترته راننوت، اوپه يوخاص ژست يې خپل کاغذ ميرزا ته ورکړ. ميرزا وپوښتل:

ـ څه شي دي زويه؟

ځوان په چالاکي ځواب ورکړ: د کوپون موضوع ده، ډېر ستړی سوم. عجبه زمانه سوه، دیوه کوپون له پاره باید سړي ټول کال منډې ووهي.

میرزا بې له دې چې تصدیق ته وګوري په خندا سو او په خندا کې یې وویل: درواغ خو به نه وي؟

ځوان په داسې حال کې چې ځان یې اعصاب خراب ښکاراوه، ځواب ورکړ:

ولي باید درواغ وي، دا دی د کلانتر او د ګذر د وکیل لاس لیک او دا هم د ګاونډیانو تصدیق.

میرزا هم هغسې چې خوله یې له خندا ډکه وه، سر وښوراوه، ویې ویل: ولې بیا به هم درواغ وي.

ځوان خپل ږغ یو څه پورته کړ:

تاسو یې کښېنولي یاست چې د خلکو وخت ضایع کړی؟...

میرزا هم هغسې په خندا ورته وویل: زویه اعصاب دې مه خرابوه، وخت دې نه ضایع کوم، رښتیا ووایه، درته مهروم یې. چله دې هم په جیب کې واچوه چې د رځخه ورکه نسي، امانت باید...

میرزا خپل بې لاستي مهر په پنځوګوتو خولي ته نژدې کړ او په ډېره مهربانۍ یې ځوان ته وویل:

ووایه چې تر اوسه دې واده ندیی کړی؟...دغسې ده؟

ځوان یوڅه سورسو اوپوه سو چې په اعصاب خرابۍ نه کیږي نو په عذر یې وویل:
له قیمتۍ څخه خبرنه یاست...
میرزا په داسې حال کې چې عصبي ځوان ته یي ډاډینه ورکوله، تصدیق ورمهر کړ.
غوښتل مې چې له میرزا سره خداي پاماني وکړم، جیب ته مي لاس کړ اوخپل تصدیق مې راوایستی:

که زحمت نه وي میرزا صایب دا زما تصدیق هم مهرکړه.
میرزا ته خو معلومه وه راته ویې خندل.
رښتیا د مالیې څخه دمعافۍ له پاره مې د دوو اولادو پرځاي د پنځه لسو نومونه په کښې لیکلي دي...

...دچرګانو آذانونه و. له بستره راپورته سوم. ټوله شپه که څه هم دتبرکو ر په سترګوکې اوښکې را ټولې سوي. ولي بله چاره مي نه درلوده. هغه څه چي مي باید وصیت کړی وای، دخپل ژوند دملګري، دتبرکو سره شریک کړل.
اودس مې چي مي تازه کړ، زاړه کالي چي لا پخوامې دکوټې په کنج کي راټول کړي وو، په تن کړل او پرسرمې یې پراشوټي کالي چې دهمدې مقصد لپاره دلیلامي له سرایه رانیولي و، واغوستل. په جیبوکي مي چي هرڅه

درلودل تبرکو ته ور وسپارل. پای تاوي يې ترپښو راتاوکړې، چې په غالب ګمان زما دانا دخسر ورور په پخوا زمانوکې له هزاره جاته راوړې وي اوماته په ميراث رارسيدلي وي. دپلار دسکي بوټونه مې هم چي نه پوهيږم له کومه يي راوړي و، په پښو کړل. بستره مې چي پخوا لاترلې وه په شاکړه.

دتبرکو دي دپلار کور آباد وي، چې دشپې ترنا وخته پوري يې ځوداني غوړ سوړسک پاخه کړي وو او دځودانو پټاټو، پخوهګيو او دوو دانو پيازو سره په يوه ټوکر کې راغوټه کړل. هغه مې هم ترملا وتړل...

دخدای پاماني په وخت کې مې ونسوای کولای چې خپلې اوښکې مهارکړم. د اولادو له ډلې نه صبرو تر ټولو خپه وه. هريوه پرخپل وار لاس په غاړه کي را اچوی او زما سر او مخ يي مچاوه. زه هم په داسې حال کې چې آواز مې ريږديدی ډا ډينه ورکول:

که په خيراو عافيت سره سرخ رويه بيرته راغلم. ټاپه داره ژاولې، چوشکي پتاسې اوهوايي بوغي به ورته راوړم...

دصبرو د مور وار چې راورسيد، څرنګه چي د اولادو ترمخه مي نسوای مچولای همدومره مي ترخولې راووتل:

ګراني ما وبخښه. که زما څخه کومه خطا سوې وي، اويا مي کومه ورځ لاس درباندي پورته کړی وي. اويا مي کومه نامناسبه خبره له دخولي درته راوتلي وي... حق راپل کړه...

دصبرو دمور په امر دري واره ترقرآن شريف ووتم... سرمې ټيټ واچاوه، چې اولادونه مې اوښکي ونه ويني. او روحيه دلاسه ورنکړي. ترسترګولاندي مي وليدل، چي دصبرو مور يوه غټه کاسه اوبه راپسي وپاشلي...

له کوره څخه په وتو مخامخ دکوپوني مغازي خواته روان سوم...

... دغه ورځې وی ځينو ښايسته خوب وليدی، چي مورږ د ډوډی کاليو اوکور خاوندان کيږو. همداچي دخوبه را کښينستل، ساده ګان، سړکانوته راووتل اوپه لوړ آواز يې ناري غلبلي پيل کړي، چي مورږ تاسو د ډوډي کاليو اوکور خاوندانه وو. او مورږ هم چي يوازي همدانه درلودل ورپسي ځغستل. ساده خلک، ويې نکړل چي لومړی خپل خوب يوه

عالم او پوه کوم چاته ووايي. چي خوب يې سم تعبير کړي. پوهيږم چي دداسي يوچا پيدا کول هغه مهال اسانه نه و. او داچي ولي يې خپل خوب روانو او بوته ونه وايه، زه هم نه پوهيږم دوی يوازي په لوړ اواز ناري، سوري وهلي:

-ډوډی، کالي....

خوارکیان نه وو خبرچي داکور کالي او ډوډی چیري او څه وخت ترلاسه کوو...

هغه وو چي خوب مو پر بدو واوښتی کور په قبر کالي په کفن او ډوډی...بدل سول. فکر کوم چي هرومرو یې یا خوب ترآخره نه و لیدلی، چي وخت او ځای هم ورته ووایي اویایي هم د ډیري خوشحالي څخه وارخطا دخوبه راویښ سوي وو او یا هم پر سهارسوی و. که یې له خوب سره بیباکي نه وای کړي او سم تعبیر سوی وای، پربدو به نه اوښتی اوس به ټوله، دکور،کالیواو ډوډی خاوندان وای.....

توري وریځي مي پر سر ولاړي وي، نه پوهیدم چي څه وخت به ځان را باندي خالي کړي، که څه هم زه لڅ وم او لڅ خو داوبو نه بیریږي ، خودواړه پښې مې خوب وړي وي. دوه ساعته به زما له تاریخي هوډ څخه تیر سوي وه. اړوتم، چي پښې اوږدي کړم....بیاهم ونسو. ځان مي پریوه اړخ کړ....په همدي یوه اړخ او بل اړخ کي وم چي دماشومانو ږغونه مي تر غوږو سوه. آه خدایه

څه خبره سوه، کوچنیان دکومه سوه، سترګي مي ومښلي که مي کتل چي یوه ډله واړه ماشومان زما وخواته

را روان دي. ژر مي خپل د شرم ځایونه په لاسو پټ کړل. دوی نژدي راغله راباندي راټول سول هیښ پاته وه. یوه یې دهغي ښځي څخه چي ځوانه او ښایسته هم وه او دحیا څخه یې نه راته کتل په اغلب ګمان ښوونکي وه، و پوښتل:
- دا څوک دی؟
بیچاره ښوونکي چه زما سر او وضعې په لیدو سخته وار خطا هم وه، حیرانه پاته سوه چي څه ووایي. له کومه پوه سي چي زه ریاضت باسم او دهندي شهزاده غوندي مي ترک دنیا کړیده. زما دظاهر په لیدو یې وویل:
- راځی، راځی شاګردانو چی ځو. دا هرومرو کوم لیونی دی.
ددي خبري په اوریدو ماشومانو دلرګواو لوټو په راغورځولو پیل وکړ او په لوړ آوازیي راباندي خندل. یو څه یې ویل، خو زه نه په پوهیدم. بدن مي ټپي ټپي سو. نه مي سوای کولای، چي دځایه ولاړ سم اویا په لاسو خپل سراو مخ پټ کړم. ږغ مي هم نسوای ایستلای چي ورته ووایم:
زه لیونی نه یم نازنینو ماشومانو تاسو زماد لوی تصمیم څخه نه یاست خبر. زه افغان یم ټولي دروازي زما پرمخ تړل سویدي. دروښنایي په لټه کي یم...زه هم تا سو غوندي ماشومان لرم......

دماشومانو ترتګ ورسته مي آرام نفس وايست. شکر مي وکړ، چي بلاوه برکت يي نه و... بيا په خپلو چرتونو کي لاهو سوم.

## نهمه برخه

### یادونه

دشاه دوشمشیره منارو ترشا دلویدو په حال کې لمر پخپلو زرینو وړانګو دکابل سیند ته زړه وړونکې انځوربخښلي و. ګرځندو خرڅوونکو دخپلو شیانو دپلورلو په خاطر په لوړ آواز ناري وهلې. زوړترافیک چې دښې لاس دشهادت ګوته یې په سړمه ننیستلې وه. او سپین دستکش یې لکه دی خپله د ژوند دناخوالو او دمشرق دسوځونکې لمر دبرکته له خپل اصله سره هیڅ ورته والی نه درلود ، دسړک په منځ کې ولاړ و ، لارویان له هرځایه چې یې زړه غوښتل تیریدل. په دوړو پټ رنګ بایللي میني بوسونه او ټکسیان حرکت ته چمتو ولاړ وو. کلینرانو ناري وهلې: کارته..کوته سنګي....ځه له خیره....سلو ، سلو ، روپی راځغلی.....صبر استاده

دا دمخ دروازی ته وخته او زه په ډیره سختۍ د شا د پایه دانه څخه پورته سوم. دعادت له مخې دسرویس ګڼه ګوڼه راته نوې خبره نه وه. دستګیر ته مې لاس ور ورساوه. ټینګ

مې ونيو چې دټيلي ټمبې په مقابل کې مقاومت وکولای سم...

دپيسو شرنګ شرنګ مي تر غوږو سو او له هغه سره يوځاي نيګران هم راپيدا سو او ماهم دموټر کرايه چي دمخه مي لا پهلاس کي تياره نيولي وه ورکړه.

چړپ چړپ مي تر غوږو سو فکر مې وکړ چې کوم سپی د اوبو څښلو په حال کي دی. ولې هرڅومې چې دې خوا او هغي خوا تريښنو لاندې وکتل، کوم سپی مې ونه ليد. خو چړپ چړپ مي هره شيبه اعصاب خرابول. آخرچې ګورم چې شاته مي يو غټ، لوړ او پلن ځوان په خلاصه خوله ژاولي ژوولي...

موټرو دريدی. څه خبره ده؟ ويل برق ولاړی.

دانو اول وار و چی برقی موټرته ختلی وم، نورو ته به عادی وه خو زما لپاره نوي خبره وه چي سرويس په برق چليږی او دکور مرض موټرانو ته هم سرايت کړی وو. خو دخدای مهرباني وه چي برق ژر راغی او سرويس بيرته حر کت وکړ دسرويس دننه دخلکو تبصری او خبري راته په زړه پوري نه وي.

دسرويس دکړکی څخه دکابل دښکلي ښار په ننداره بوخت سوم. دچمچه مست سيند اوله هغو نه را بيلوسوو ويالو ښکلي منظره جوړه کړي وه. څوکسان له صابون سره

پریوه غالۍ مښتي وه. نو رو بیا سطرنجي هواره کړي وه او په لوڅو پښو پر ختل، چي پاکه یي کړي. څوښځي بیا څوځایه دکالو په پریمینځلو اخته وي. دسماوارو دودان یې هواته پورته وه، څوماشومانو بیاپرتوګان پړسولي وه او لامبو یې وهله...

په زړه پوري داوه چې کله به زموږ سرویس دهغو ترمخ تیریده، دټولو مخونه به زموږ وخواته را اوښتل. دچابه خولې خلاصې پاته وي، هلکانو به ټوپونه اچول او دخوشحالۍ نه به یې چیغي وهلي. دهغوی آوازونو به هغه نورکسان هم، چې په بل شي مصروف وه، متوجه کول. هغوی به هم له کاره لاس اخیست، په حیرانۍ به یې موږته کتل او لاسونه به یې راته ښورول. ان دهغه موټرانوسپرلیو چي زموږ ترڅنګه تیریدل، هم له موټره خپل سرونه را ایستل او موږته به یې کتل چا به سلام راکوی او چابه هم سرښوره وی او خندل به یې...حیران پاته وم، چې داخلک ولې زموږ سرویس ته داسې ګوري؟ کوم په زړه پورې شي دلته سته چي ددوی پام یې را اړولی دی؟ خو هرڅه مي چې دیخوا او هغي خوا وکتل، داسي شی چې په لیدو و ارزي په سترګو رانغی نه پوهیدم، چې دابه نوڅه وي چې دباندي خلک دهغه له لیدو څخه خوندونه اخلي اوموږ، چې دسرویس په دننه کې یو، له دې مزو بیې برخي یو؟ دبل

هرچا په خیر داشوق راسره پیداسوچي کاشکي زه هم دباندي وای اولیدلي مي وای...

رنګارنګ شیان په زړه کې راګرځیدل: فکر مې کاوه چې هرومرو دسرویس زوړوالي او چټلۍ دهغوی پام ځانته راګرځولی دی !

نه، داخو نوې خبره نه ده.

ښایي دموټړوان اوکلینر دچایو چښاک له میلمنوسره خلکوته جالبه وي !

نه، داهم دیوي ورځي کارنه دی !...

داسي موټر او پیاده رو نه وو، چې موږ یې ترڅنګ تیرسو او دوی نه وي راته کتلي...غوښته مي چې هرڅه ژر دسرویسه کښته سم او ددي راز په لیدلو خپلې سترګي روښانه کړم...

په وروستی تم ځای کي، له ورو سره غټانو هم دسرویس سره یو ځایي منډې او نارې پیل کړي...

ایله په ایله یوه سوم چې خبره څه وه... داټوله معما یوه کوچني هلک لکه د اندرسون په کیسه کې چې نارې یې کړې، (پاچا لوڅ لغړ دی) راته حل کړه...

ـ هغه ده ښځه موټړ وانه، هغه ده ښځه موټر چلوي، هغه ده ښځه پر جلو ناسته ده....

زه هم کله، چې د سرويس څه کښېنته سوم په چټکو قدمو مې د سرويس ومخښته ځان ورساوه او د څلورو سترګو تر کونجو مې د موټر واني ښځې ننداره وکړه...

نژدې وو چې خپله تبرکو مې هيره سي. ددې هم خوله جينګه وه ، ښه سو ، چې سترګې را باندې ولګيدې ژر را تا سوه....

... کله چې دواده سالون ته ورسيدو، نورو ميلمنو بيادوخته ځايونه نيولی وو.. پر يوه ميز چې دوه ځايه خالي وه کښينستو. ميرمنی می سر را نژدې کړ او په کراره يې راته وويل: دنزاکت ـ مزاکت پسې مه ګرځه، نس مړه وه ... خواره بيريدلی وه ، څو واره وږی پاته سوی وه ...

دموسيقی دبرقی آلاتو آوازونه ډير لوړوو. سندرغاړي هم نيم ميکروفون پرخوله ننه ايستلی و.

يوڅه وروسته د ډوډۍ اعلان وسو.

مخکی له دې، چې ډوډۍ دميزو سروته راورسيږي. په بيړه مې

يوخالي غاب دميرمنې اوبل خپل مخ ته کښيښود. نور چې دميز تر شاناست وو، په حيرت يې راته وکتل او په پسخند يې يوڅه سره وويل. ولې زه يې په قصه کې نه وم. دميرمنی مې سر راته وښوراوه: او ماهم فاتحانه مې خپلی

میرمنی ته وخندل اومنتظروم چی کبابونه اوپلوونه را ورسیږی..دوریجو غوري لا دمیز سرته نه وو را رسیدلي، چې یوغښتلی لاس راغی اوغوری دهوا څخه واخیست او خپلی ګرني ته یی په ویشلو شروع وکړه. دده ګرنه، چی دري ښځې (دوی ځوانې اویوه زړه ) اویو څلور پنځه کلن هلک وو. هریوه پخپل وار د آشک او دکباب غوریان په لاسوکی ونیول او پخپلو منځوکي یې په ویشلو شروع وکړه. زړې ښځې دپودینو غوری خپلې مخی ته کښیښود او داسی یې وښودل چی ګواکي بل شی ته اشتها نلری. دخپل غاښ برابرخه یی پیدا کړي و. واړه زوی یې بیا ژر ژر انګور اومڼی دپلاراو مور مخې ته کوټه کړي اوپخپله یې دکیلو څخه را شروع کړه. ترڅوچي پلار اوموریې غاب دوریجو اوکباب څخه ور ډکاوه، هلک بیا د وخته دری کیلی خوړلی وی. ترڅو چې مي لاس دوریجو وغوري ته رسیده، دغوښو-مڼو کوم درک نه و. ولی تعجب مې هغه وخت دوه چنده سو، چي زما دمیرمنې مخ ته دغوښو او وریجو ډک غاب پروت و، او په مزه، مزه یې نوش جاناوه اوماته یې بدبد کتل... هرومرو دا بل جنتلمین (ښاغلی ) یی غم خوړلی و.

چړپ سو، یوشی پر سر اومخ راولویدل. لاس مي ور وړ اوبلن اوسربښنا که... پورته مي وکتل الهي ددی لایق دی وګڼلم ... ښکلي اوښایسته چورتونه یی راخراب کړل. اوتردي بدتره چي بي نمازه سوم.

آ ! خدایه اوس څه وکړم اوبه هم نسته... او اجازه مي هم نه درلوده چي له ځایه وښورم... دا به څنګه رو ښنايي وي... دناچاری له مخي می غوړونه لکه سوی کښته واچول. اوځان مي ناکاره واچاوه. موږ خلک خو یوازي پښو ته ګورو او دليري ليدو سترګي خدای نه دي را کړي، باید دغسي سوي وای، ګناه می خپله وه ځکه چف اوپف مي یوازي خپل شاواخوته کړی و، چي دخزندګانو اوځناوروڅخه په امان اوسم. ددی راز افاتو او دهوا دمرغانو د

غولو څخه مي ځان نه و بیمه کړی... نه پو هیږم چي داکوم خاص مرغه و، چي مخصوصاً زما دبی اودسه کولو لپاره را استول سوی و، او کاسه کاسه يي اورول، دخدا فضل سو چي باران په اوریدو سو، اول خوخوشحاله سوم، لکه مسافر جنوب، چي دباران په انتظار وي، ماهم وویل دخدای رحم دی، چي څه ښه سو دسر او مخ مرداري يې را پاکه کړي، همداسی هم وه، خولوند خیشت سوم .یخ هم

پسي وا خستم....بدن مي په ریږدسو. لکه تبه چی را باند راتله....

دخدای فضل سو چي را په یاد سول، چي دخوب په کالو کی زما دبیکسی یارلا ستهٔ. چاره نه وه ور وڅکیدم او لاس مي ور اوږد کړ او دسګرټو کوتی، مي را وایسته اوژر مي یو سګرټ ولګاوه....

## لسمه برخه
## پیل

.... سګرټ مي په بل سګرټ ولګاوه، خدايه دابه څنګه سي، د دغت څخه نژدي و چي وچوم، اوله ورځ خومي په خوب تيره کړه، نه پوهيدم چي څه وکړم.. نوڅنګه مي زړه غوښتی چي يوڅوک پيدا سي. بلا په پسي دهري ډلې ټپلې چي وي، چي په ژبه ورسره پوه سم. که پاکستانی اوهندی هم وای، پروايې نه کول. يو څه اردو، چي مي زده کړي وه، لپ شپ به مي ورسره کړی وای..خو زه يې له بده مرغه داسي يوکلي ته را استولی وم، چي هيڅ څوک مي نه پيژندل ، ژبه مې هم نه وه زده، راډيو يا تلويزيون مي هم نه درلودل، چي ځان ورسره بوخت کړم. يوازي يوسفري سطرنج مي درلود. ټوله ورځ مي له ځانه سره سطرنج هم نسوای کولای....

خيله خيله پرسړکو ګرځيدم، چي نابېره مي سترګي پريوه تور پوستي ولګيدي. بي له دېچي فکر وکړم، پسي ورومي ځغستل . همدا چي ورنژدي سوم، ترهغه ترمخه چي زه څه ورته ووايم ده په ډيره مهرباني خپل سپين غاښونه را ښکاره کړل:

ـ يو ار افګان؟

ماهم په ژر جواب ورکړ: يس

هرومرو خبرسوی و. ده يوڅه راته وويل، خوزه يې په خبره پوه نه سوم، يس يس مي ورته وويل، ده بيا سپين غاښونه

را ښکاره کړل. پوه سو چي په خبره يې نه يم پوه سوی، بيا يې رانه وپوښتل:

- شپرخن زي دويچ؟

نوما يې هم په يوه واري سر ور خلاص کړ:

پښتونو، فارسي نو، اردو نو...

خپلي وړي يې پورته ونيولي...په دي درو بين المللي ژبو بيا دی نه پوهيدی...ماځيني وپوښتل:

- افغان نو؟

اول خو پوه نسو، په حيرت يې را ته وکتل. خو ژر يې سرکار وکړ، او په خندا يې وويل:

- يس يس...

دلاس په اشاره يې راته وويل، چي تردي ځايه څو کيلو متره په يوه بل کلي کي يو افغان ژوند کوي. دموټر تم ځای يې راوښود کړ، او په دي يې هم پوه کړم، چي هردوه ساعته بس راځي. او پريوه کاغذ يې دهغه افغان او کلي نوم راته وليکي. توري بای بای راسره وکړ او ولاړ. څوګړی په تم ځای کي هم ودريدم، ولي فکرمي وکړ، چي اوس خو ناوخته دی، ښه تره ده چي سبا ته ورسم.

ټوله شپه مي له خوښي څخه خوب ونه کړ. سهار وختي له کوره را ووتم. دموټرو وتم ځای ته راغلم... يو ـ دوه ساعته و دريدم، بس رانغي. يو دوه کسان چي له هغه ځايه

تیریدل، یو ـ دوي خبري راته وکړي، خوزه یې په یوه هم پوه نسوم... یوه ګړۍ ورسته چي یوه یې بیا زه ولیدم، چي لا هم هغسي ځای پر ځای ولاړیم، نو په اشاره یې پوهـ کړم چي نن بس نه راځي، ځکه چي د رخصتي ورځ ده.

ای زما بیوزلي بخته ! هغه خواته چي توري را ته ویلي و په پښو روان سوم... هرڅوک چي پرمخه راتی، کاغذ به مي ورښکاره کاوه، هغو به راته ویل چي نورهم مخته ځه.... وکلي ته چي راورسیدم خوماشومانو بازی کولي، کاغذ مي هغوته ورښکاره کړ، یوه یې رانه وپوښتل:

افګان؟

ورته مي ویل: یایا...

بل یې چي دلوبو توپک ورسره وو په نخښنه کړم اوتر خولي یې دفیرآوازونه راووتل:

ـ بوم بوم بوم...

نورو را باندي وخندل، یوبل چي یې ماغوندي غنم رنګه وو،

ترلاس ونیولم... اودیوي زړي دروازي ومخیته یې ودرولم. زنګ یې کښیکښود...خوشېبې وروسته، یو سړی چي کمیس اوپرتوګ یې اغوستي وو او ویښتان یې خواره واره و، په دروازه کي راڅرګند سو. په یو لاس کوم ځای

ګراوه و مي وپيژ ندی، خپله دی دی ... له ځانه سره مي
وويل: ترمخ دي جارسم...
ده همداسي راته کتل...
سلام مي ورواچوه، ده هم په جواب کي راته وويل:
- وعليکم سلام، څوک دي پکارو؟
ژر مي ورغبرګه کړه:
- زه ستاسو و ديدن ته راغلی يم... څو ورځي کيږي چي
دابل کلي ته يې را استولی يم... هلته بيا چا راته وويل چي
دلته يو افغان ورور اوسيږي...نو درپسي راغلم.
کوردي آباد وي بيا يې له سره روغبړ راسره وکړ...وکورته
يې وبللم... چای يې را ته راوړ...ولي داسي بريښېده چي
خبري يې دومره نه خوښېدې، يوه خبره به يې وکړه بيا به يې
دري اوړمي ايستلي...څو خبري موسره رد وبدلي کړې... چي
دکوم ځای يم؟ اوڅه وخت راغلي يم...نوريې څه ونه ويل...

تريوي اوږدي چوپتيا وروسته مي ترينه وپوښتل:
- څوورځي کيږي چي راديو مي نه ده اوريدلې. راديو دي
اوريدلي ده؟ څه خبري دي؟
په سړه سينه يې راته وويل: راديو نه اورم، له سياسته
مي بد راځي...اوچپ سو....

ځوګړی بیا په چوپتیا کې تیري سوي... له ځانه سره مي وویل: که له سیاسته یې ښه نه راځي، هرومرو د ادبیاتو سره علاقه لري نو ومې پوښتی:

ـ کوم نوی کتاب دي لاسته نه دی درغلی؟

ده بیا په هم هغه پخواني تون راته وویل

ـ لیونی خونه یم، دا کتابونه چي اوس چاپیږي، چټیات دي...

نوریې څه ونه ویل... پوهـ سوم چي په دي اړه هم نه غواړي څه ووایي... تریوي اوږدي چوپتیا وروسته مي خپل سفري سطرنج له جیبه راویستي... خپلي داني مي و اوډلي... ومي لیدل چي ده هیڅ حرکت هم ونه کړ، دده دانې مي هم ور و اوډلې...اوځینی و مي

پوښتل:

ـ که دي خوښه وي را سه چي یوه تخته سطرنج ووهو... ده یوډول راته وکتل او په تریوتندي یې راته وویل:

ـ نه غواړم چي په داسي باطله شیانو خپل وخت ضایع کړم.

تخته هم هغسي اوډلي دمیز پر سرپاته سوه. لاس مي جیب ته کړ د سګرټو قطی مي راوکښل او ورمخته می کړه: سګرټ څکوی؟

په جواب کي يې راته وويل: دځان دښمن نه يم...

هرڅه چي مي انتظار ويستی، سګرټ دانی يې هم راته رانه وړه... او ماهم ونسوای کولای چي سګرټ ولګوم.

له هغه وخته چي راغلی وم، څوساعته تيرسوي وه... نه پوهيدم چي څه وکړم او دڅه شي په باره کي خبري ورسره وکړم... ماهم دده پشان ده اربړمي په ايستلوپيل وکړ.. په پای کي مي ورته وويل:

ـ راځه چي يوڅه قدم ووهو... دباندي ښه هواده !

يا به يو چيری کښينو ..په دي باور چي کيدای سي دده له خولي يوڅه راووزي.

اويا ماته دا موقع په لاس راسي چي دخوب رګ يې پيدا کړم..ولي ده په هم هغه بي علاقه ګي جواب راکړ:

ـ ددی ځای هوا مي هيڅ نه خوښيږي....

.... دقهوه خانې دسګرټو د دوده ځخه په ډکه فضا کي ،که مي کتل ، چي دخپل چنارقد ، اوږدو تورو ويښتانو سره په ناز او نخرو راننوته، لنډيې زما وخواته دسترګوترکونجو وکتل، اوڅوګزه ليري مخامخ راته کښيناسته. څهره يې ډيره آشنا په نظر راتله. ښه يې پرېښه واوړله، دسګرټو قوتی يې دسپين دستکول ځخه راويستل خپل سګرټ يې ولګاوه اوپه څولږو شيبوکي يې دسر شا وخواته دسپين

دودهاله جوړه سوه. سترګي مي ددي پرسپينو غوښنو مرمرينو پنډيو، چي ترکناټو لوڅي وې او زړه وړونکي اوښکلي څهره باندي ګنډل سوي وي.

له هغي ورځي نه چي آواره سوی وم، دا لومړی واری و چي په غمزده زړه کي مي حرارت پيدا سو. هيرکړي مي و، چي د سيني په قفس کي مي تراوسه لا زړه ژوندی دی. د روزګارچورت او فکر هرڅه را څخه هيرکړي وو. دنا اميده زړه آواز مي کرارکرار لوړيدی

ترڅو، چي په ترپکو اوخيزکو راغی. دبدن تودوخه مي لوړيده زړه مي راضي سوی و، چي داخپل بي مانا ژوند يې په پښوکي کښيږدم. ماچې دعشق اوعاشقي هيڅ کتاب نه و ويلی، ښايي چي مين سوي يم او که څه بلا را باندي وسوه؟ لکه د اکابرو د کورس شاګرد يو په يو وار مي تاب اوطاقت له

لاسه ووتی. ښايي چي هغه به هم ما غوندي تنها او بيکسه وه. د دود هغه کړي چي يې ترخولي راوتي، وهغو کړيوته چي زما ترخولي راوتي، ورته وي.

دځان سره مي وويل چي تن په تقدير وسپاره ورځه، دلته خو داسي ملک نه دی، چي څوک چاته بد او رد ووايي. په ډير مودبانه ډول به اجازه واخلم چي ترڅنګ يي کښينم. يو څوشېبي به د زړه خواله ورسره وکړم، څوک پوهيږي ښايي

چي دا هم په همدي ګړۍ کي د يو چا غوښتنه ولري، چي د زړه خواله ورسره وکړي.

خبره د عقله ولاړه. زړه قومانده په لاس کي واخيسته او ژر تر ژره يې غوښتل چي دالنډ واښ، چي يوازي سپينو دودانو سره جلا کړی و، رالنډ کړم. اوږدي اوږدي شيبې يې سپين ښکلی رخسار د نژدي وګورم سپين اوپاسته لاسونه يې په لاس کي ونيسم. په همدي ګړۍ کي چي زما د ژوند ډيره مهمه پريکړه کيده، لنډ يې بيا په ناز راته وکتل نژدي و، چي د شاعر په قول دليد وغښي يې زما زړه سوری سوری کړي...

دځايه پورته سوم. سره ددې چي دبندي ګړۍ او زولنو خطر نه وو. خوزه تيار سوی وم، چي د دارکړی غاړي ته واچوم او ابدي حبس دشاقه جزاګانو په ګډون پرغاړه واخلم.

خپله قهوه مي په لړزانه لاس واخستله په داسي حال کي چي پښو مي هم سستي کوله، ميزته يې ورنژدي سوم، سلام مي ورواچوه او دکښينستو اجازه مي ځيني وغوښتله.

يو زيږ زنګداره ږغ ،چي د ښځي ږغ ته هيڅ ورته نه و، زما ترغوږو سو:

ـ کښينه !

لنډ مي شا وخواته وکتل... نه، دا ددي خپل آواز و.کرار پر چوکي کښېنستم، رخسار ته يي ځيرسوم. ګورم چي دمحبوبي مخ له بخارونو او وېښتانو ډک دی، د دوو ورځو ناخريل سوي ږيري وېښتان يي پرمخ، ترمښل سوو موادو لاندي

واضح معلوميدل. بيا يي په هم هغه غور او نرينه اواز په نخرو راته وويل.

ـ څه نه وايي؟ ووايه مه شرمېږه...

غاښو ته يي ځيرسوم، ژېړ او خوړل سوي غاښونه چي په سيمانو باندي يو دبل سره ټينګ تړل سوي وو، ماچي ويل په خوله کي يي کوم جين بکس نصب کړيدی او يو بدبوی مي هم ترسږ موسو... ښه ورته ځيرسوم ترساختګي وېښتانو لاندي يې بي وريښتو سر واضح ښکاريدی...

بل سګرت يي پرپخواني سګرټ ولګاوه او دود يي مخامخ زما وخواته راپوکی. بيايي سري شونډي سره خلاصې سوي او په ځانګړي نازيې راته وويل:

ـ ولي دي خوله وتړل سوه، ووايه د زړه خبري دي راته وکړه ! مه يې پټوه...هرڅه چي راڅخه وغواړي...منم يې...

او خپله بار داره پنډه ژبه يي راته وښوروله...خوله مي وچه وچه کيدله، دقهوي پياله مي په لاس کي ريږ ديدله

هرڅه، چي مي فکر کاوه، چي اوس څه ووایم. خبره مې خولې ته نه راتله. په هغه چټکۍ چي مي دې ته د نژدي کیدو شوق پیدا سو، په هم هغه بیړه مي زړه غوښتل چي ځیني لیري سم.

کرار کرار یې تندي تریو سو، پرچپه بازو باندي دري سره رسم سوي ښامار ته متوجه سوم، چي یوه ټینګه لغته مي پر راسته پښې ولګیده، ماویل چي د پښې هډوکی مي مات سو اوله دي سره یوځای یې په لوړ آواز را باندي چیغه کړه:

ـ احمقه ګونګی سوي؟ څه دي ویل؟؟؟...

په رښتیا هم ګونګی سوي وم. رډ رډ مي ورته کتل، لار را ځخه ورکه وه چي څه وکړم؟ چي دا وارې یې خپل لګیدلي سګرټ زما په لاس را ومښکلاوه. چیغه مي تر خولي را ووته دځایه په هوا سوم. دقهوي پیاله مي له لاسه ولویدله او بیله دي چي ترشا وګورم د قهوه خاني ځخه وتښتیدم...

تر اوو ورځو په بستره کي پروت وم، شونډي مي دري ځایه وتلي وي او له بیري مي سترګي نسوای پټولای او چي سترګي مي سره نژدي سوي، زه به تر مخه او دی به راپسي و او په لوړ آواز یې را باندي خندل، حتي دچپه بازو دري سره ښامار یې زما وخواته خیز را اچوی اوخپل تیره زهري غاښونه یې راښکاره کول...

....کله چې هایم ته ورننوتم. دڅوګړیو دپاره مې درنګارنګ خوراکونو دبویونوله کبله سابنده سوه، که نه نو په اول نظرکی اوضاع آرامه معلومېده. دومره ربغ او رږوغ هم نه و. څوقدمه لا نه وم تللی چې یوماشوم، چې اوښکی یې بهیدلي اوپه یوه کنج کی دیوال ته خوابدی ناست و، څو رنګارنګ هلکان په لوبو اخته وو. ښه ځیرسوم، چې دهغو کړه وړه چندان نورمال نه وو. یوبه یو وار بیله کومی موضوع کټ په خندا سو او دبل به بیا غوربږونه لکه دفیل غوندي په ښوریدو سول.

لا څوقدمه نه وم تللی چې یوه نارینه اویوی ښځې یو وړوکی ماشوم تربغلونیولی و او دکوټې له دروازی څخه یې دهلیزته راوغورځاوه او دروازه یې ترشا پسی وتړله. ماشوم چیغی وهلي. ولی خدای ناترسه مور او پلاریې هیڅ ځان نه خبرا وه. زړه مې راته وویل چې راوګرځه او دا بې ادبه مور او پلار خپل دي ناوړو کړو ته متوجه کړه، ولی دا چې دبل هیواد وو، حتمن زما په خبرو نه پوهیدل.

لا مې دشعیب خان (۳۰۹) نمبرکوټه نه وه پیدا کړي، ومي لیدل چې یوبل ماشوم په لوړ آواز ژاړی او په ټول زور دکوټې دروازه په لغته وهی، ولی دروازه نه خلاصیده. موضوع جدی کیدله (دروازه ولی نه خلاصیدله)؟

غوښتل مې د شعیب خان دروازه وټکوم، چې د شا چارا باندې رږغ کړل:

ســــــــــــــــــــتاپ !!!

وارخطامې مخ ور وګرځاوه، ومې لیدل چې د شعیب خان وړوکې زوی ماته را نژدې کیږي، ومې پوښتل:

ـ څه خبره ده زویه؟ زه دې وبیرولم. خیریت خو دی؟

د شعیب خان زوی چې سترګې یې سرې وې او سایې لنډه لنډه کیده ځان را نژدې کړ او په نیولی رږغ یې راته وویل:

کاکاجانه، کاکا جانه ! زموږ کورته مه ځه، کنه نو تاسو به هم څپیړه وخورې او د کوره به مو را وباسي.

ددې خبرې په اوریدو یوڅه وارخطا غوندې سوم، او په بنده ژبه مې ورته وویل:

په څپیړه مې وهي؟ څوک مې وهي؟

د شعیب خان زوی چې زما وارخطایي درک کړې وه. په جواب کې وویل:

زما پلار !

اشاره یې راته وکړه چې غوږ ور نژدې کړم. سرمې ور کښته کړ. په ډیر ډاډمن آواز یې په غوږ کې راته وویل: د پیر زوینې له مخې درته وایم. کنه نو په مایې څه. ماخوڅپیړه اولغته وخوړه. مه کوه چې تاسویې هم وخورې...

دشعیب خان زوی چي پخپله د اتو ، نهو کلو دی خو خبري يې دغټانو غوندي وي. همدي خبري زه نورهم په فکر کي واچولم ! کیدای سي چي دا خبري چا ور زده کړي وي !... پوښتنه مې ځیني وکړه:

- مور دي چیري ده؟

په جواب کي يې راته وویل: هغه هم په کور کې ده.

ومي ویل: عجب ښځګه نه شرمیږی چه خپل بې ګناه اولاد په ځپیړو اولغتو وهی، حتمن يې اعصابو ټکان خوړلی دی که څه؟...

ماجرا نوره هم پیچلي کیدله. غوښتل مې چی هرڅه ژر زما دوست شعیب خان او ماندینه يې د دوی دبې مسوو لیته کړو په عاقبت پوه کړم. ولي ستاسو نه به يې څه پټوم. دمخته تلو جرئت مي له لاسه ورکړ. پښو مي دشا خواته زور کاوه. اخر پخپلو ګناه کارو سترګو مي ولیدل چي بې رحمه مور او پلار ښځګه خپل ماشوم دباندي را وغورځاوه. دځانه سره مي وویل:

پښه ونیسه عاقل باید هغه څه ونه کړي چي بیا پر پښیمانه وي. ولي باید زه چپلاخه وخورم؟ داموضوع اصلن په ما څه اړه لري؟ دنورو په کورنیو کارو يې زما څه ! رښتیا عاقلانه هم نه وه ترهغو چی د شعیب خان قهرسړیږي ، ښه به دا وي چي دخپل بل دوست منان خان خبروا خلم.

غوښته مي دمنان خان دروازه وشرنګوم، چې سترګې مي پرکاغذ ولګيدې، چې په غټو تورو پر ليکل سوي وه:
مزاحمت مه کوی، حتی تاسو !
کوچنی نجلۍ اوهلک چې پاک کالي يې اغوستي وو اوهر يوه، يوه غټه کينک سايز دچاکليټو تخته خولېته نيولی وه، او دهليز بلې خواته ولاړ وو، په يوه آواز را باندي رنږ کړل:

ـ ځوک مو په کار وو؟
پوښتنه می ځيني وکړه:
ـ په کورکې ځوک سته؟
بيا دواړو په يوه اواز راته وويل:
هوپلار مي همدا اوس کورته راغی. دمور فشا رمي لوړ تللي و، کله چې انا جانه او خاله جانه دکوره ووتل. مورمي زما پلارته تيلفون وکړ، چې ژر راسه فشار مي لوړ تللی دی.
راځخه ورکه سوه چي اوس څه وکړم دشعيب خان چي نن داعصابو دخرابی ورځ وه نو ولي يې زه را وغوښتم؟ بيوزلی منان خان خوزما دراتګه هم نه وخبر اوبيا دماندينې فشار يې هم لوړ تللی دی...

پاشلي کلمات...هایم...چپلاخه...فشار...چاکلیټ...خوابښي .... مي په ککرۍ کي کښته پورته کیدل. څکه چي په خبره مي ژر سرنه خلاصیږي...

څو شیبي وروسته، چي دروازي یوپه بل پسي خلاصي سوي، ومي لیدل چي دهایم کوټي په کونجونو ویشل سویدي، چي دلرګو. ټوکرانو اوکاغذي دیوالونو په وسیله سره جلاسویدي.

دشعیب خان څخه می وپو ښتل، دا دلته څه تیریږي

یوه زړه سوځوونکی اسویلی یې ترخولي را ووتی:

ورک یې که. مه مې پوښته، په یوه پیسه سولو، داګوره دلته دهری کتګوری دپاره یو کُنج ټاکل سویدی. تاته معلومه ده چي دشپې له خوا حتی ډیرخفیف اوضعیف اوازونه په واضح ډول اوریدل کیږی. نو دا دیوالونه هم په تاسف کوم درد نسی دواکولای. میړه اوماندینه بیله شکه د داسي متشبثو او مزاحمو وګړو په موجودیت کي نسي کولای چي په ملموسه توګه یو دبل احوال واخلي. هم هغه دی چي غاښ پرغاښ کښیکاږي، چي سهار سي. سهار چي مکتبیان مکتب ته ولاړ سي. پاته کسان (خوابښی اوخوښینه) . که چیری یې زړه وسو او زړه یې وسوځاوه هم هغه دی چي له کوره څخه وزي او کنه نوچیري دی دمور زوی چي ورته ووایي چي ولاړسی یا راسی. پاته سول

داسپین سترګي اوبي مسوولیته کسان چي په وړکتونو کي ورته ځای نسته، چي که یوڅه باتربیه وي په عذر یا رشوت یعني دچاکلیت، آیسکریم اویاهم

دهوایي بوغی په اخستلو دکوره وزي. کله کله بیا سپین سترګي او پلار او مورآزاری کوي. دواړه پښي په یوه موزه ننباسي او دکور نه وزي. بیا نو مجبوره کیږو دیوه مسلحانه برید ورسته دخپیړي اولغتي په زور اکثره په مشترک ډول دپلار اومور دخوا دکور د دروازې دباندي راغورځول کیږي...

پام مي سو، چي دشعیب خان کوچنۍ زوی خپله خورترسر نیولي او دمځکي وخواته یي ټیله کوله او په تکرار ورته وایی:

ژربیده سه...سترګی پټی کړه، ته خوښه انجلی یي شاباس..

شعیب خان خوله غوړو ته را نژدي کړه:

په هغو ورځوکي چي بازاریان خوانبی اوخوښینه و ډاکتر ته وخت نیولی وي اویا هم په (فلومارک ) د زړوکالوپه بازار کی مصروفه وی، دتورکاردرلودونکي دخپلو ارتباطي چینلو څخه خبر ترلاسه کوي، بیله د وخت دضایع کیدو دمبارزی میدان ته حاضریږي...په داسي حالاتو کي مراسم په ډیر شاندار ډول ترسره کیږی....

.... مجبوره سوه چی به یوه ښه هواداره ځای کی کور را کړی ، دا په دیخاطر چي زوی می په روانی مرض مبتلا سو... ستاسو څخه به یې څه پټوم هرڅه مي چي پرمغزو زور راوړ، چي څه وکړم چي خوښ يې سم اوکور راکړي، ځکه چي راته ويل سوي وه چي خوښ يې نسي کور نه درکوي...سرخي اوسپيده مي نه سوای وهلای...

ریښتیایې ویلي دي چي غوټې پسي وهي په لاس به درسي... په پای کي پوه سوم چي څنګه هريوه ځان اويا دکور کوم بل غړی ناجوړه اچولی و. ترڅو یې تصدیق ترلاسه کړی دی، چي دهایم څخه ووځي او کور واخلي.

هغه وو چي حق او نا حق به موږ هم هره ورځ داکټر ته ور روان وو. غالمغال به مو کاوه، چي ناروغه یو دخدای په غضب اخته یو ، ترڅو ګوندي يو تصديق ترلاسه کړو...ولي نه يې راکاوه.

څو واره مو ، خپل سر او پښې زخمي کړي. ډاکټر ته چي به ورغلم یا به يې څوګولي راکړي او يا به يې زخمونه را پانسمان کړل او بیرته به يې رخصتولو. يوواري هم دتبرکو مور په دواړو

پښو څو واره په نس کي راوغورځيده، ترڅو کولمې مي چپه کړي اويا مي کولمه بنده کړي. دا واري ډاکتر یوه غټه

اماله راته بنده کړه. د امالي له بيري مجبوره سوم، چي ناريې کړم چي جوړ سوم. هره بلا چي مو پرځان راوسته نتيجه يې ورنه کړه. په پای کي دتبرکو مور، وايم خدای دي پلار او مور اوټول قوم ته جنتونه په نصيب کړي، حق يې دی چي خپلي ګوتي سره ومښي او وواېي چي ښځه او نربرابر دي. په اصل کي ددي فکر کار وکړ. تجربه يې دصبرو اوصفدر سره شروع کړه. ولي د هغو څخه څه شي جوړنه شول، ځکه دافغانستان ساخت وو. زما کشر زوی جهانګير همدا چي و ليدل چي دبن بست سره مخامخ يو ، نو يي چيغی کړي:

پلاره زه ناجوړه يم، ژرما ډاکټر ته بوزی.

موږ هم سمدلاسه ټکسي ونيو. ډاکټر ته مو بوت. جهانګير لکه دپلار، پلاره چي نا ټکي وي او دتمثيل فاکولته يې ويلي وي، د ډاکتر په ليدو يې يو واري سترګي رډي بډي کړي او داسي عجيب اوغريب آوازنه ترخولي را ايستل. چي عقل مو له سره والوت. حيران پاته وو، چي داکارونه يې دکومه زده کړيدي؟ هيڅ مي نه په ياديږي چي زما نيکه اويا ورنيکه يا په ټوله قوم کې مي دې چا کوم وخت ناټک اوتمثيل کړی وي... دتبرکو دمور، پلار او ټبره خبرنه يم.

ډاکتردجهانګيردوضعې په ليدو ډير وارخطا سو. سمدستي يې دبستر خط ورکړ او امبولانس يې را

وغوښت. اوس نوموړ څنګه وارخطایو، چي زوی مو عملیات مملیات نه کړي.. اومور یې په امبولانس کي څنګه زاری ورته کوي.

ـ او زویه ! په تا اوس څه وسول؟ که دکور په خاطر داکارونه کوي، ترکوره تیریو. هلک داسي خوړس اچولی و، چي تابه ویل په سینه کي یې خرس ځای نیولی دی. سم له لاسه یې بسترکړ. معاینات پیل سول. سیرم ورته چالان سو. اوس هرڅه چي معاینې کوي. برق ورکوي او دوا ورکوي، هلک نه جوړیږي. دنوروشفاخانوڅخه یې پروفیسران را وغوښتل. .. ولي دجهانګیر مرض معلوم نسو، چي نسو...

دبستري کیدو یې اووه دیرشمه ورځ وه... خپله شیره او شربت یې هم وایستل. اووه کیلو وزن یې دلاسه ورکړ، اوموړ یې هم د

پښو واچولو. ترڅو چي ډاکټرانو فیصله وکړه. چي دایوه ډیره خطرناکه رواني ناروغي ده باید دا کورنی سم له لاسه دهایم څخه و ایستل سي اوپه یوه هوا داره ځای کي کور ورکړه سي...

...خوورځي مو لا نوي کورته له راتګ نه وي تیرې سوي، چي دلومړي ځل لپاره د دروازي زنګ په شرنګهار سو.

ټولو يوځای د دروازي وخواته ورمنډه کړه. يو دلوړ قد خاوند، سورغوښن مخ. تور اوسپين ږمنځ سوي ويښتان، پداسي حال کې چي ښکلي موسکايي پر شونډو خپره وه، ديوغټ بکس سره د دروازي شاته ولاړ و. دخنده رويه سړي دلوی بکس په ليدومو شونډي سره کش سوي. په خاص احترام مي پوښتنه وکړه.

ـ مهرباني وکړی څه امر او خدمت؟

دلوی بکس خاوند په يوخاص ژست اوهغه ښکلي خندا راته وويل:

ـ بخښنه غواړم بيله دينه چي مخکي وخت واخلم. ستاسو ديدن ته راغلم.

ورته ومي ويل: هيڅ مهمه نده زموږ دپاره وخت هيڅ ارزښت نه لري.

بيايې په خاصه تواضع وغوښتل: اجازه راکوی چي يو څوشيبي دننه خبري درسره وکړم؟

مهربانه او شيک پوښه سړی مي کورته را دعوت کړ. پاشلي او غريبانه ظرف اوفرش مو يې، چي تراوسه لا نه وو ځاي پرځای سوی، ترنظرتيرکړ، غاړه يې صافه کړه او راته ګډسو:

ـ زموږ دعصر انسان په يوه کړ کيچنه او نا آرامه وخت کي شپي او ورځي سباکوي اوتل دستونزو سره لاس او

ګریوان دی. معلوم اونامعلوم فشارونه د انسان روح او روان کښیکاږي. په رنګارنګ نا علاجو ناروغیو اخته کیدل، طبیعي نا څاپي پیښي لکه زلزله، سیلاب. دمال او شتمني غلا او په سلها وو نور تهدیدونه، چي انسان ورسره مخامخ دی...

زموږ شعار دی: موږ ستاسو غمخوران یو، موږ نه غواړو چي ستاسو ښکلي خاطر د روزګار د کړ لیچنو او بدمرغیو څخه غمجن سي. که تاسو چیري ناجوړه سی، موږ ستاسو دعلاج ټول خرڅ د

دنیا په ډیرو ښو روغتونوکي په غاړه اخلو. که ستاسو کور د سیلاب، زلزلي او اورلګیدو له کبله تاواني کیږي، موږ چمتو یو، چي نوی کورله نویو لوازمو سره په واک کي درکړو. که ستاسو جواهرات او شتمني غلا کیږي موږ دهغو بدل درکوو.....

دمهربانه او خندني سړي ښکلي او خوږو خبرو زما چرتونه په الوتو راوستي و. تردي حده هیجاني سوی وم، چي غوښته مي ورټوپ کړم پرلاسونو اومخ یې دمچوباران وکړم، سترګي مي داوښکو ډکې سوي. داسي خیر غوښتونکي او فرشته صفته خلک چیري پیدا کیږي، چي شعار یې دانسان آرامي اوسوکالي ده اوپه بې صبري مو انتظار ایستی چي څه وخت به خنده رویه سړی لوی بکس

خلاص کړي. ښځې مې د دروازې ترشا ځارلو، چې د ویش پر وخت کې بې برخې نسي.

... په پای کې لوی بکس خلاص سو. مهربانه سړي له هغه څخه څورنګارنګ دبیمي کاغذونه راویستل او طلایي نوکه قلم یې په لاس راکړ، چې کاغذونه پرې لاسلیک کړم...

د مهربانه سړي له تګ څخه لاڅو ساعته نه و تیر سوي، چې دا وار یوې ښایسته خنده رویه ښځې زموږ غریبانو دروازه دق الباب کړه. مهرباني میرمنې چې تر اول سړي لا هم مهربانه معلومیدله، ویل:

چې دانسانانو د پاره مهم شی پوهه ده. راتلونکې دانسان په پوهې پورې اړه لري. انسان باید دخپلې دنیا څخه، چې ژوند پکښې کوي باخبره و اوسي او باید په دې پوه وي چې دده په شاو خواکې څه پیښیږي. او ویل یې، چې موږ ستاسو و ذهن ته پراختیا ورکوو چې نیکمرغه و اوسی.

میرمن چې مې هره ګړی وتله اونو تله، کله چې یې ولیدل چې ښایستې میرمنې دخپل غټ بکسه درنګارنګ مجلو په را ایستلو شروع وکړه، زړه یې صبرسو. بیارانغله.

مهرباني ښځې دهرې مجلې په هکله په تفصیل خبرې کولې... او زما څخه یې غوښتل چې ګډون پکښې وکړم... رښتیا یې ویل بیله پوهې ژوند په څه درد خوري؟...

مهربانه میرمن لا تر دروازي نه وه وتلي، چي یوبل مهربانه ځوان، چي ده هم غټ بکس په لاس کي نیولی و د دروازي په مخ کي شین سو. د ده شعار بیا نور هم خوندور و. ده ویل:

موږ ستا څخه میلیونر جوړ وو. بیله پیسو بل شی انسان ته نیکمرغي نسي راوستلی. دا پیسي دي چي موږ د ژوند د خونده سره آشنا کوي او هر راز هیله او ارمان موتر سره کوي. ده بیا دلا ټري بیلا بیل ټکټونه د ځانه سره راوړي و. د اونی، میاشتي او آن د کال د پاره. او ډاډیې را کاوه، چي چانس زما سره ملګری دی او ډیر ژر به د ښکلي کور، موټر او ویلا خاوند سم. هر ګړی یې ماته د ښاغلي میلیونر خطاب کاوه... ده هم رښتیا ویل، بیله پیسو ژوند څه معنا لري؟...

همدا چي ځوان د کوره ووتي، بیا زنګ په شرنګیدو سو. د اواري بیا یوه ښایسته پیغله د دروازي په خوله کي ولاړه وه. په لید و مي اراده دلاسه ووتله، ژبه مي بنده سوه. په تت ږغ مي د ننه را وبلله. د عطرو د بویه یې ټول کور باغ عدن سو. لا پرچوکی نه وه ناسته، میرمن مي چي سږ مي یې کشولي را پیدا سوه.

ښکلي خنده رویه پیغلي په ډیر ناز او ادا ویل:

زمونږ وظیفه ستاسو ښکلاده، ستاسو دپوست او اندام لطافت دی، هیڅ شی په ژوند کې تردې ښه نه دی، چې څوک ښکلي وي. او وعده یې را کوله چې په ډیر لږ وخت کې به دشفاف مخ او پوست خاوندان سو. ویل یې دانسان سرمایه

دهغه پوست دی، البته مقصد یې دهغه ظاهر و، چې دهغه دمخه نورقضاوت کوي... او دسینګار رنګارنګ کریمونه، پوډرونه، عطرونه او...یې پرمیز کوټه کړل. دمیرمنې سترګې مې ددې ټولو په لیدلوځلور سوې. او زمونږ په ګډه ژوندکې دا اول وار و چې ژبه یې ګونګې سوه... همدامې پرده وه، چې خپله آبرو او عزت وساتم... او دکوره را ووزم.

دکور دباندې هم همدې مهربانې اوخنده رویه ښایستو نیمو او نیم بندو لوڅو ښاپیریو د دروازو او دیوالو، مځکې او اسمانه څخه راته خندل. او دودان یې تر خولو ا و قلمې ګوتو را پورته کیدل ددوی شعار بیا وو:

د ژونده باید لذت واخلو اوکیف وکړو... تبه را باندې راتله، ځان مې کش کش کیدی... واقعیت هم همدا و بیله کیفه دا ژوند په څه درد خوري...

دشپې چې کورته راغلم شکر ټوله خنده رویان تللي وو او

بدخویان بیده وو. آرام نفس مي وایست او تلویزیون مي چالانه کی، دلته بیا همدا ښکلو او خنده رویانو رنګارنګ دیګونه او ظرفونه ومخیته کتار کړي وه، او ویل یې:

مورېته ددنیا دهرڅه نه ستاسو ګیډه مهمه ده. چي ګیډه راضي وي نورنو تشویش ځای نه لري.

دوي هم رښتیا ویل...دنارینه وو عشق تر نسه تیریدي....

## يوولسمه برخه

## تبرکو

... جان آغاد داهوټل ډوډۍ ښه خوندکوي !؟

دايې اول وار و، چې هغه يې هم په ډير نزاکت ديوځه غوښتنه رانه وکړه. کنه نو هيڅ کله يې هم ترخولي نه و راوتلي، چې مادلته بوزه يا هلته بوزه. له سينما اوتياتر سره ددي علاقه نه وه او زه هم ددي سرې نه وم چې يوه ورځ يې لاس په تخرکي ور واچوم اويو چکر مکر ورکړم.

خدای خبر چې څومره به يې زړه سوی و، چې يوه ورځ دخپل ميړه سره دکوره ووزي دمعتبرو غوندي يې نور خواړه ومخښته کښيږدي. زه هم له هغو خلکو څخه يم، چې په خبره مي سر ژر نه خلاصيږي، وينه مي يوځه په کراره سرته ځي، ولي دي غوښتني وروستنه وروسته اغيز راباندي وکړ، چې دي ښځي چې يوعمر زما سره ګذاره

وکړه اوبل يې هم هيڅ کله څه نه دي رانه غوښتي، بيا داخو يوه عادي خبره وه.

ـ که خدای غوښتي وه د زيارت په ورځ به دې رستورانت ته بوځم...

ددي خبري په اوريدو مي دميرمني دمخ ګونجي يو واري اواري سوي، سترګي يې وبريښيدې. په زړه کي به يې هرومرو ويلي وي چي کاشکي مي دايمان خواست کړی وای...

دپنجشنبي په ورځ چي له کوره وتم نو په ډير نزاکت يې راپه ياده کړه:

ـ دشپي لپاره دي هغه نصواري دريشي اوتو کړم...؟

خوارکي بيريدلي وه، چي هيرسوي مي نه وي. او زما په رښتيا له ياده وتلي هم و او دا مي په دي عادت ښه خبره وه، چي يو څه ووايم بيا مي هيروي، بيله دي چي دا په ځان يوه کړم نو ورته ومي ويل:

ـ هونو دپلوخوري همدا يوه دريشي لرم...

شپږ بجي وي چي له کوره څخه د وتو په درشل کي وو چي ځيرسوم، که موږ رستورانت ته ولاړسو، نو نازنينه و چاته پريږدو. بله چاره نه وه، ومي غوښتل چي وګاونډي ته يې پريږدم، خو ددي زماني اولاد درستورانت د ډوډی بوی بيا دوخته ترسږمو سوی و. نجلی دواړي پښي په يوه ګاوله

کي کړي. چي باید راسره ولاړه سي. ګناه زما خپله وه چي ترمخه مي ولي دي موضوع ته فکر نه و سوی. دناچارۍ له مخي مو داهم له ځانه سره را روانه کړه...ولي جهان ګیر را سره رانغی، ویل درس لرم.

بیاهم خوشحاله وم چي دخپلو عزیزانو سره ددنیا له غمو څخه لیري په رستورانت کي کښینم، اوبي له ورځنیو چور تونو څخه یو څو شیبي د زړه خواله وکړو، او تر مرګي تر مخه مي دمیرمني دایوازیني هیله هم ترسره کړم.

د تبرکو له زړه څخه خدای خبر و، چي په هغه شیبه کي یې څه فکر کاوه، خپل ښایسته کالي یې اغوستي وه. ځان یې ښکلي سینګارکړی و. څوک خبر، ښایې چي داڅو وروستي شپې به یې سترګي هم نه وي سره ورغلي، اوکه سره ورغلي هم یې، ښایي یوازي به یې د رستورانت ډوډۍ په خوب لیدلي وي....

د((لوړ غره)) رستورانت چي دیوي شني غونډۍ پرسر و اوتېوله ښار ترلاندي و، له پخوا لاما غوره کړی و. ولي دشیطان دي کور خراب سي، یو واري یې په زړه کي وسوسه را واچوله، چي ددي رستورانت بیي به خورا لوړي وي، یا راسه د ((کوچني میني)) رستورانت ته یې بوزه، هم به ارزانه وي اوهم کورته نژدي دی. دي خوارکی داهم را

سره ومنل چي دټکسي پرځای په بس کي ولاړسو، او دټکسي کرایه هم پر ډوډی واچوو.

نازو  به هره شیبه رانه پوښتل:
پلاره هغه ځای ته چي ځو آیسکریم لري؟
مابه هم په وار وار ورته ویل:
هو لوري داسي مزه داره آیسکریمونه لري، چي بیله دي چي ویې خوري په لیدو به یې مړه سي.
کله چي رستورانت ته ننوتلو ترخولي ډک و.... دموسیقي په زړه پوري انګازي ترغوږوکیدي. ځو ګارسونان چي ښایستي دریشي یې له زرینو واسکټو سره اغوستي وي، په لین کي د دروازې په خوله کي ولاړ وو. یو یې را وړاندي سو د صبرو دمور بالا پوښ یې له اوږو څخه واخیست اوله موږ څخه یې وغوښتل چي ورپسي روان سو. ترښکلو قندیلانو لاندي یې تیرکړو او دیوه څلور کسیزمیز ترشایې دصبرو مورته چوکی راکښ کړه. دا په ډیرناز پرچوکی کښیناسته. زه او صبرو یې دواړو خواو ته کښینستو. ګارسون په ځانګړي انداز دمیز دسر شمع روښانه کړه...
د تبرکو له  سترګوڅخه واضح جوتیده، چي ځومره دي ښکلا ترآغیزي لاندي راوستي ده، اوځومره دخوشحالی احساس کوي.

ګارسون دري لوی لوی کتابونه، چي د سره بخمل پوښونه یې درلودل و هر یوته په لاس کي راکړل، چي خپل د خوښي خواړه پکي خوښ کړو. صبرو ترموږ دواړو چټکه وه، یو غټ میوه لرونکی آیسکریم یې خوښ کړ او عکس یې هم ګارسون ته وربښکاره کړ.

د تبرکو سترګي چي د رستورانت ښکلا وړي وي او خپله مینو یې، چي چپه مخیته نیولي وه، ماته را کړه او راته ویې ویل:

ـ یو څه راوغواړه هرڅه چي وي...

ماته هم ګرانه وه هرڅو چي مي مینو وکتل، کورمو خراب سه، یو داسي شی چي په خوړلو و ارزي او ارزانه هم وي ونه مونده. ارزانه خواړه یې ترپنځوسومارکو په کمه نه وه. اوپه دي هم ښه پوهیدم، چي د یوه مډرن چا په صفت که ترخوړو ترمخه یوسوپ نوش جان نکړو، شرم دی او تر هغه ورسته باید «دیسرت» آیسکریم اویا بل کوم خوږ شی مو راوغوښتی وای. بیله څښلوهم نه کیده. ګارسون هم لکه نوکی عسکر تیارسی له قلم اوکاغذ سره زما ترشاولاړ و. اوس هرڅه چي ضرب اوجمع کوم پیسي یې لکه وزرونه چي پیداکړي وي آسمان ته الوتلي. خولي را باندي راغلي،

نکتایي مي یوڅه سسته کړه. یاره شیطانه کوردي خراب سه. زړه مي راته سپي سو. ګارسون ته مي مخ ور واړاوه او ورته ومي ویل:

ـ یوڅه شېبه وروسته راسه...

سګرټ مي ولګوی، تبرکو راباندي شکي غوندي سوه، رانه ویې پوښتل:

ـ ولي سړیه ګرمي خوبه دي نه وي سوي؟

په داسي حال کي چي سوړ اسویلی مي ترخولي راووت ورته وویل: نه

دي بیرته راغبرګه کړه: نو چي داسي ده ولي دومره نا ارامه یې؟

نه پوهیدم چي څه ورتهووایم، یو وار مي په زړه کي راوګرځیده چي ورته ووایم، چي داغوښي دلیوني غوایي نه وي، چي لیوني مونه کړي !... بیا په زړه کي را وګرځیدل که راته ووایي چي دیوه بل شي غوښي راوغواړه، بیا څنګه؟ چاره نه وه، ترڅوچي ترخولي مي ورته راووتل:

ـ ګوره ته خو هوښیاره ښځه یې، د ازمورږ دنن شپې ډوډي تردووسوومارکو نه زیاتیږي. د اډیري پیسي دي. دادی رستورانت ته راغلو. داسي به فکر وکړو، چي ګواکي په رستورانت کي موپه ماړه نس ډوډی هم وخوړه... ددي پیسو

یوه برخه به دي خورته چي اولاد داره ده ور واستوو اوبله نیمایي به دي ومور ته چي هغه هم بیوسه ده ورواستوو ، ځنګه؟

ساده ښځه داهم چورتي سوه او زړه نا زړه يي راته وويل: کومه ارزانه ډوډی راوغواړه... ښوروا... یا...

زړه یې نه غوښتل چي داسي ژر درستورانت ځخه ووزي. ماهم ورسره ومنل. ولي ژر مي فکر سرته راغی، نو ورته ومي وويل:

که ډوډی خوري، نوبیا سمه ډوډی باید وخورو ، دلته رستورانت دی، داسي نه کیږي چي هرڅوک دلته راسي یو سوپ وخوري، سیل وکړي اوبیرته ولاړسي، ښایي همدا سي به هم وه.

د نازو چي نور دطاقته وتلي وه رانه وپوښتل:

ـ اوس څه وخت آیسکریم راوړي؟

ډیرحق په جانبه څېره مي ورته وويل:

ـ ګوره لوري ستا یوه ناوکی خوښیده، هغه څه نومیده؟

دي بیله ځنډه په خوښی راته وويل:

‹باربي›، هغه هم راته اخلي؟

خندا راغله: نه، ماويل که دآیسکریم په پیسو هغه ‹باربي› درته واخلم...څه وايې؟

ماشوم نو، دي هم نسوای کولای چي پرېکړه وکړي، رډ رډ یې په سترګو کي راته کتل... باربي ته یې هم زړه کیدی چي ویي لري او دچنار غوندي خوندور آیسکریم څخه تیریدل هم اسانه کارنه و... په پای کي یې سر دتایید په ډول وښوراوه...

ومي لیدل چي بیاګارسون را ورسیدی او پرسرمي تیارسی ودریدی. دی هم لکه چي راباندي پوهیدلی و، چي تېښتي ته تیاری نیسم... په فکرکي وم، چي څنګه ورته ووایم. اشاره مي ورته وکړه چي سر رانژدي کړي. ده هم خپل غوږ زما وخولي ته رانژدي کړ، نوکرار مي په غوږ کي ورته وویل:

ـ دا ستاسي رستورانت ډیر تود دی. دمیرمني مي وضع ښه نه ده، یو څو دقیقي یې باید له رستورانت نه وباسم.

...اوله رستورانت څخه په خالي نس راووتو.

نازو ته مي دباربي دناوکی پرځای یوه بله ارزانه ناوکی په یوه مارک دفلومارک (زړوشیانو بازار) څخه را نیوله اوهغه پیسي چي مي باید د تبرکو خور او مورته استولي وای، تر دا اوسه نن او سبا کوم...

.... انسان پیژندنه، رښتیا چي ډیر ګران کار دي، اول خو دي پرما لانت سي د عطر را نیولو سره، دا د انسان اولاد

نه وه، که په عطرو کي د شيطان تخم پاشل سوی وو، څوک پوه سي...نه پو هيږم چي دکومه يي بوی ددي سړموته رسيدلی و، يا چا ورته ويلي وه. په هر تقدير پس له يوه خوراک عشوي اونخري څخه، چي هيڅ يې زده نه و، را ياده کړه، يو رقم عطر دي، وايي ډير ښه بوی لري. نوم يې نه پو هيږم چي څه بلا دی...تورنګ، که تورند دی.

حيران پاته سوم چي دا دومره پس مانده او دخدايي نعمتو نه ليري وه، چي باورمي نه راتی، چي يوه ورځ دي زما څخه يو شی وغواړي. دي خپله خبره را ورسول، او زما هم خوښه سوه، ديوي خوا داسي يو شي چي دي پخپله خوله

را څخه غو ښتی او بل دا چي ستاسو څخه به يې څه پټوم خپله مي هم عطر ډيرخوښيدل او زموږ دبزرګانو هم خوښ وه.

دکور له لاري دعطر خر څولو ديوه دکانه مي يو بوتل عطر ورته واخستل، دقيمت پو ښتنه يې مه کوه، خو داسي شي و، چي پلار مي لا په خوب کي هم نه وه وهلي. کورته چي مي راوړه، اول ډيره خوشحاله سوه زړه يې و، چي د اولادو ترمخه مي په غيږ کي ونيسي اومچو باران مي کړي، ولي همدا چي بوتل ته يې ښه وکتل، ديوه ګړی لپاره چرتي سوه، تندی يې بيرته ګونجي سو:

جان آغا جانه دا هغه نه دي.
ومي پوښتل: څه شي نه دي.
دي راته وويل: دا هغه نه دي، چې ما درته ويلي وه، تندر وه که تورن وه...
هغه بيا څنګه دي، دا خو ډير ګران عطر دي.
دي بدبختي چې بوتل يې په تلويزيون کي ليدلي و، وويل:
وی هغه چي په تلويزيون کي ښکاره کوي...
په سر کي مي چرکه سوه: زويه لکه چي غرق سوي په تلويزيون کي خو ارزانه شيان نه اعلانوي، ولي دڅانه سره مي وويل: که مي پيدا کړه هغه به هم درته راوړم...
کا شکي خوله مي ماته سوي وای او نه مي وای ورته راوړي، ځوک پوه سي. بله ورځ مستقيم ولاړم، اول وار يې و، چي عطر يې راڅخه غو ښتي و. خو خدای خدای مي کاوه، چي ګران نه يې.
کله چي دعطرو مغازيته ننوتم، همدا چي خوله مي خلاصه کړه، ښځي بيا د دستي دعطرو بوتل په لاس کي راکړ، حتمن څو نورو يې هم اعلان ليدلی و او را نيولو ته يې مجبور سوي وه، را پارونکي بوی يې او دسکسي نجلي عکس چي پريوه هلک يې پښنه را اړولي وه... زما هم خوښ سو، دظالم لور، عجب شی يې خوښ کړی و. ديوه

ګړی لپاره یوه چړکه را باندي راغله. که څه هم دا لانتي پیسي د جیبه نه را وتي، ولي را ومي ایستلي. دیر ګران و ، عادت مي نه و کړي، چي دونه پیسي پر عطرو ورکړم، ای کاشکي مي ګوتي پري سوي وای، نه پوهیږم، چي څنګه مي لا س جیب ته ولاړ، ښه یې ویلي دي، کله چي دچا اجل راسي، سړی ړوند او کوڼ سي....

کله چي مي عطر تبرکوته ورکړه، رښتیا یې ویلي دي، چي ښځي دیوه پلار لو نې دي، دیوه ګړی لپاره یې داسي حرکات وکړه، چي هغه د ریږد شبه چي په مغازه کي راباندي را غلي وه، بیا ولړزولم.

دا بیچاره خو دکالو مینځلو په کالو کي وه ولي زما تر نظره په هغه جالی جالی نازکو کالو کي تر سترګو سوه چي دغاړي څخه ترتر نو تر سره پوري او د لا ندي څخه هم تر نو تر لاندي پوري خلاص و ، وخت یې، نه و نو... داولادو درا تګ وخت و...د مکتب څخه....

دشپي په همدي چرتو کي خوب یوړم، ځکه چي دستلاف یې پرما وکړ. په زړه کي مي ویل:

دا خلک خو خره نه دي، چي داسي ګران او قیمتي عطر را نیسي.

سهار چي دخوبه را کښېنستلم، لا مي ستر ګي نه وي خلا صي کړي، پزه مي کش کړه، دعطرو بوی نه و. لاس مي

وتېپروي، څوک نه وه. سترګي، چي مي خلاصي کړي، رښتيا هم څوک نه سته. وار خطا سوم د تشناب وخوا ته مي ور منډه کړه، که ګورم چي د هنداري تر مخه او لاړه ده او د او داسه پر ځای په پوډرو تيمم کوي ....

ما ځيګر چي کورته را غلم، هيڅ څوک په کورکي نه وه. هيڅکله داسي نه وه سوي، چي زه دي کورته راسم او دا دي په کور کي نه وي... تعجب مي وکړ، بيله زما د اجازي چيري نه تله... لا نت په شيطان، وسوسه يې کړم. دا ښځه چيري تللي ده؟ لاره يې نه وي ورکه کړي، موټر نه وي وهلي او او او.....يو ساعت که يو نيم ساعت وروسته يې دشپي دعطرو بوی د دروازي له درزه زما سږمي وتخولي. ومي ليدل چي دا خپله هم په دروازه کي را ښکاره سول، اول خو مي ونه پيژندل، لږ چي ځير سوم خپله دا وه، دصبرو مور. پوړنی يې نه و پر سر، ويښتان يې لنډ سوي وه. پزه هغه پزه، سترګي هغه سترګي ولي وريځي يې نازکي سوي وي. شونډو يې لب شيرين خوړلی و.....سلام يې واچوی، دوي دري کڅوړي، چي په لاس کي يې وي يوي خواته پر مځکه وغورځولي، ويې ويل:

ولي داسي بوخ بوخ راته ګوري و دي بيرولم.

... دا ته خپله يې؟ ولي دي وريښتان لنډ کړيدي. دچا لپاره دي داسي سينګار کړی دی؟

په تعجب يې جواب راکړ:

وی ته څنګه نر يې، ما ويل ځونه به خوشحاله سي....

ډيره عجيبه وه کا شکي يوازي همدا وای، نور مي څه ونسوای ويلای....ښځه مي نوي سوي وه، ولي دا چي ماته يې نه وه ويلي، لا حول مي کړه. ځه خير دی، ښځه ده نو.

دهغي ورځي نه وروسته، هره ورځ يې کالي بدليدل. نور نو کوتنه-موتنه نه وه. يوازي لمن او پتلون ...، او هره ورځ يې کالي نور هم نازکيدل، لنډيدل او تنګيدل.

يو ورځ چي کورته را غلم زما دسر سره يې يوه سپري هم ايښي وه. ما ويل دا څه شي دي؟ دي جدی راته وويل: دا ډير ضروري دي، دشپي چي څوک بسترته ځي دا بايد په خوله کي ووهي. نور بايد دشپي خپل غا ښونه برس کړي، بيا بستر ته راسي.

او د شپي يې زما ځای جلا اچولی و، ويل يې:

ميړه او مانديني بايد جلاجلا بيده سي، چي عشق او محبت يې په منځ کي زيات سي.

.... څو ورځي لا نه وي تيري، چي د موټړ د چلولو شوق ورسره پيدا سو. د زړه په قوت د پيسو په زوردمياشتو او کلونو په تيريدو، چي ددي ټولو زور زما خوار ترشليدلي ګريوانه راوتي، ليسنس واخست.

مخ یې ماته را وا ړاوه چې ډیر ژر یو سور سوزوکی ورته ودروم. که څه هم د خولي ناړي مي وچي سوي، ځو واره مې وغوښتل، چي څه ووایم خو یوازي یو اوږد پیسسس به مې تر خولي راووتی. بله چاره مي نه درلوده. دوستاو دښمن ته مي لاس اوږد کړ او یو سور سوزوکی مي ورته ودروی.

تا به ویل په وا سطه او په نکل کا میا به سوي ده، دا سي خراب او بي احتیا طه یې موټر چلاوه چي هرڅوک به ور سره نا ست و زهره به یې ور وچول. د اولادو او دو ستا نو څخه خوهیڅ څوک نه ور سره سپریدل. نو پر یوازي چا چي یې زور رسیدی زه خوار

وم. ما چي لا له پخوا څخه دزړه حول درلودی همدا چي موټر ته به ور وختم ټول ایات او احادیث چي مي زده وه را سته او چپه پر ځان چوف کړه. د نا امیدی سترګي به مې اسمان ته واړولي. نور به مې د سترګو خلا صولو جرئت نه درلود. ځان به مي غبرګ وټری او هر وار به مې نذر پر غاړه اخیستی، که خدای دا واري ژوندی تر کوره را ورسولم.

یوه روځ مي حوصله نوره ختمه سوه. سل زړونه مې یو کړه او تبرکو ته مې مخ کړ:

ګرا ني، موټر سړی نه دی، چي په دونه بي احتیا طي ور سره وکړي، مقصد مي د سړي څخه زه خپله وم. موټر د نا

رینه بر خلاف چي بیا مې هم ځان یادا وه و محبت او میني ته اړ دی. با ید د سپریدو شخه تر مخه اول یو دمیني وچ یا لوند لاس پرتیر کړي، ناز ورکړي. د موټر سره نه ښایي چي دیوه میړه غوندي بر خورد وکړي، چي که خپه سي، بلا په پسي ! دشپي به بیا بیرته پخلا سي. او یا دکوره ووزي، چي وړې سو بیرته به را سي. نه نه موټر هیڅ مرا عات نه لري او عزت هم نه لري. که دي خوا بدی کړ یا به دي دخدای پر میدان پریږدي اویا به دي هم دا سي د مځکي وولي چي دضرب زباني د دو یلو شخه دي خلا صه کړي، پر ځان به دي حیرانه کړي.

دچلولو په وخت کي یوا زي با ید مختنه وګوري، چي دا بد بخت خورا ډیر بد حسود دی. ګیر با ید په ډیر محبت خپلي کانچي ته وا چوي. اکسیلیټر با ید ډیر کرار کښیکا ږي، ځکه دموټر د زور او بد خویې شخه بد راځي او اعصاب یې خرا بیږي. که غواړي، چي تل پرسپره سي او تر مقصده دي ورسوي له زړه داخلاصه یې باید خا طر وغواړي، ځکه دا بد بخته ډیر بي لحاظه اوبي احساسه او مغرور دی. که یې بد در شخه را غلل نه در ته په ګونډو کیږي بلکه په ګونډو کوي دي. نه دي پریږدي.

# دوولسمه برخه

## کلتور

هوا په سړېدو وه. وړې نس، وچه مځکه او تپې بدن مي وضعه خرابه کړې وه. په همدې ګړې کې مې په بدبخته خيټه کې ګوړ ګوړ سو. دا ولې ! ما خو څه نه و خوړلي، يوازې مې يوه کيله ترستونې تيره سوې وه. ددې سره يوځای مې په کولموکې هم يوشی په حرکت راغی...يا خدايه اوس څه وکم ...يوګړی مې نس کرار، کرار کښېکښې ، چې دا بې حيايي بس کړې، دا وخت ددې نه و، هر شی خپل ځای لري، خوچاته وايي. دخپله لا سه مې وه، دغسې مې اموخته کړی و، کلتوري نس ياګېده بايد دغسې وي ...ډېرشيان دي چې زموږ د بډای اوغني کلتور څخه نمايندګې کوي، ولې، ګندنه، ګل سرشوی اوکورت خپل ځانګړی مقام لري. که يوه ورځ ور ونه رسيږې دغسې حال جوړوي او که ور ورسيږې بيا يې هم دغه حال وي، ځکه دهر يوه په شته والي اونشتوالي که چې ديوه عالي او شتمن کلتور مرکبه اجزا وي دي، وياړو او فخر کوو. يو ريښتنی او با فرهنګه افغان نسې کولای، بيله دې ژوند وکړې.

آن په تیرو زمانوکي کورت په زرو تلل کیدل او د کورتو له مخي د نوروشیانو نرخ معلومیدی. ان داسي هم سویدي، چي کورت په نژدي تیرو وختوکي د دوست او دښمن د پیژند لو محک ګرځیدلی و.

پرمورږ باکلتورو او فرهنګ دوستو افغانانو کورت ډیرګران دي، مګر په درد او افسوس دا ارزښناکه جنس دلته په دي بي باز خواسته ملک کي نه پیدا کیږي او له بده بخته د کرلو ورهم نه دي، چي دګندني غوندي یې ترویج کړو.

که څه هم خپل کلتور مو ندی هیرکړی. هره ورځ مو دري واره دسترخوان هواریږي. داسي قابلي خورو، چي غوړي یې دلاسو څخه څڅیږي، هم دغسي منتو او اشک له وطني ګندني څخه...

ولي دکورتو په نشتوالي مو داسي احساس کاوه، چي کلتور مو نیمګړی دی.

د صبرو مورته مي په ډیرمصرف پاسپورت ور واخیستی او دکورتو پسي مي د اوو غرونو اوسیندونو څخه ها خوا واستوله. ....پس له دوو میاشتو اودیرلس ورځو غیابت نه یې یوه کځوره اعلا کورت ماته دګندني تخم داشک لپاره اویو څه رویشویه اوګل سرشوی د ځان له پاره راوړه. که څه هم بیچاره ګي دري ورځي بندي وه، په هوایي میدان

کي کله چي يې ددي بکس خلاص کړی دی، افسوس افسوس چي څنګه زموږ کولتور د دنوري نړی دخلکو لپاره بيګانه پاته سوی دی. دخدای په پارکورت يې ندي پيژندلي ګل سرشوی او رويشويه يې نه دي پيژندلي. فکريې کړيي و، چي موږ هيروييني اوترياکي يو. ترهغوچي له لابراتواره جواب راتی زما دميرمني نازک لاسونه يې ولچک کړي و...

ولي زما دګرانوکورتوپه ليدلومي وطني غرور او احساسات پر جوش راغله . دخپلي کلتوري ګيډي په خاطر بايد هر راز سرښنندني اوسربايلني ته حاضر اوچمتو و اوسو ځکه دکولتور درد بد درد دي....

...ولي دي کولتور په خواشينی، ډير ژر رنګ بدل کړ دخدای تعالا دټولو نعمتو څخه زما خوراک کنسرو او يخ وهلي شيان سول، يخ وهلي غوښي، يخ وهلي سابه او پټاټي او آن يخ وهلي ډوډی...او موږ او تاسوچي خدای د يوخاص استعداد خاوندان کړي يو او ډير ژرځان دهر راز شرايطو سره عياره وو. نوما هم ډيرژرځان عيار کړ. اوګيډي مي هم په ډيره بيړه ددي رازنعمتو دخوړلو سره ځان عادت کړ. او اوس که تازه غوښي اوسابه هم کورته راوړل سي په

اتوماتیک ډول دیخچال په کنج کي ځاي نیسي، ځکه چي زه یې دپخولو توان نلرم اومیرمن مي هم دموټر چلولو په زده کړه اخته ده او دايې ځلورم کال دي چي په دي اړه خپلي زده کړي لا ژوروي. نواوس که برابرسي او تازه څه مي ترستوني تیرهم سي، نو ګیډه مي، چي دتازه خوړلو عادت لا دپخوا څخه دلاسه ورکړی دی، پوښتنه مکوه ! سمدستي په ښور راسي اوغړز او غړوز پیل کړي.. بیا زه یم اویو، دوه ساعته نوکریوالي. شکر دوستان موټوله زموږ په شان دي او که څوک ونه پیژنو، میلمستیایې نه قبلوو او که بیاهم برابرسو، نو دخپل عزت دساتلو په غرض ددسترخوان پرسر ګورو که کوم یخ وهلي او دشپې او اونی پاته څه په لاس راسي...

یوه ورځ چي کورته راغلم د ښورا بوی چې ټول کور نیولی و او سږمي یې تخولي، ترسږمو سو. دپخلنځي دمیزپر سر دتازه غوښو خونده وره ښوروا پرته وه، نه پوهیږم چي داڅنګه پیښه وه تبرکو خپله اشتها راغلي وه، که پرما یې زړه سوی و. په هرصورت خپله نه وه چي پوښتلي مي وای. دریشي مي ژر وایستله، شوق مي وکړ کندهاری غاړه، چي مهرباني خوانښي را استولي وه، واغوستل او داچي ډیر وږی وم نو لستوڼي مي ورته راونغښتل، بیله دي چي

خوړلی قسم مي را په یاد سي (بیله یخ وهلو او یا دڅوشپو دورسته پاتي خوړو څخه بل څه ونه خورم... )

لامي اوله ګوله سمه ترستوني نه وه تیره سوي چي کولمي یې را وګرولي ، درزه هارپیل شو... شکر چي په کورکي وم، چي در وازه خلاصه سوه او میرمن مي را ننوته، همدا چي سترګي یې پرما ومښتلي، په وار خطایي راته وویل ژر سه ژر سه چي زما ایټالوی خور لنه دخپل میړه سره را روانه ده.

چرت یې را خراب کړ:

- را دي سي، نو څه وکړم... پذیرایي ته یې ودریږم...

په پټکه یې راته وویل:

- نه مهرباني وکه ژر دي دا کالي وکاږه.

نو داخو مي دا اوس واغو ستل، را دي دسي دا خو مو خپل د وطن دي، ګوره څنګه ښایسته دي.

دا لا نوره هم عصبي سوه:

- اوس داخبري پریږده، چي دستي را رسیږي....

نا چاره وم ښایسته کالي مي باید بیرته ایستلي وای. غوښته مي چي پرتوګاښ خلاص کړم، او داچي کلونه سوي وه چي دپرتوګاښ څخه مي کارنه و اخیستی، ددي پرځای چي چپه څوکه یې کش کړم د وارخطایي څخه راسته څوکه را څخه کش سوه. پرتوګاښ ددي پر ځای چي خلاص

سي، یوه بله غوټه هم وخوړه، دوي غوټي سوي. په دي فکر چي خلاصول یې اسانه دي. راسته اوچپه خوامي څو واره کش کړه. ددي پرځای چي دابدبخته غوټه خلاصه سي، نوره هم کلکه سوه. که څه خلاصول به یې سخت کارنه و خوما چي همدانن نامراده نوکان دبیخه اخیستي وه، هرڅه وس چي مي پروکړ بریالی نسوم.

له تاسونه به یې څه پټوم، پرتوګاښ هم کوم عادي پرتوګاښ نه و. دهغو پرتوګاښو څخه و، چي په لاس اودل سوی و او زر زري او رنګرنګ زونډی یې هغه ته هنري ارزښت ورکړی و....

دناچاري له مخي مي دیته ورږغ کړه:

ـ راسه داچي پرتوګ دي نه خو ښیږي نو دا پرتوګاښ خو یې راخلاص کړه.

تبرکو ني ونا وکړه. پټکه مي پروکړه:

ـ ستادانوکان نو دکومي بلي ورځي لپاره پکاریږي همدایې ورځ ده...

دا خواره هم بوخته سوه چي غوټه خلاصه کړي. ولي دا لا نتي غوټه له هغو غوټو څخه نه وه چي دښځي په تیزو نوکانو هم خلاصه سي. خولي پر راماتي سوي، ولي دالا نوره هم جدي کیده چي دخپلو نوکانو کرامات را وښیي...

په همدي ګړی کي، جهانګير زوی مي چي تراوسه پخپله کوټه کي و او ما فکرکاوه، چي لا دمکتبه څخه نه دی را غلي رانښکاره سو. همداچي سترګي يې پرمور ولګيدي چي زما په پرتوګانښ اخته ده، ښټ يې وګراوه او بيرته له کوټي نه ووت. که څه هم زوی مي کوچنی و خو داچي په ښونځي کي يې زدکړه ورکړي ده، خدای خبر چي په وړوکي مغزکي به يې څه ورګرځيدلي وي. ژرمي ږغ پر وکړ:

- زويه بله خبره نسته، پرتوګانښ مي غوټه سوی دی، موردي يې يوازي غوټه خلاصوي....

تبرکو چي وليدل چي په نوکانو ونسوه، نوپه غانښويې شروع

وکړه، چي ژر يې خلاصه کړي، ايټالوي خورلنډه يې پر لاري وه...، چي بيا مي زوی را پيدا سو. خوارکی په دي فکر و، چي کار به خلاص سوی وي... همداچي سترګي يې پر مور ولګيدي ، دا واريې يوه چغه هم ترخولي راووته، او ژر يې سترګي په دواړو لاسوپټي کړي اوبيرته يې خپلي دخوب کوټي ته وځغستل...ميرمني مي له شرمه ژر سربيرته کړ او بيايې په نوکانو شروع وکړه... د وارخطا يې څخه يې ترک سو او يو نوک يې مات سو. دا دنوک ماتيدل نه و، آفت و، محشر و. ميرمني مي يووار په ژړا سرکړ، پوه نسوم

چې د درده يې ژړل او که داچې ښايسته نوک يې له لاسه ورکړی و. ژړا هم څه ژړا ، په ژړا کې راته وايي:

ـ خاوري دي په پرتوګ سه. غټ سړی يې، چې پرتوګ نسي اغوستلي ولي يې اغوندي...تاته چا وويل چې پر توګانۍ وتړه....

حيران پاته وم چې اوس څه وکړم. په کور کې هم بيله جهانګيره چې د شرمه ترچپرکټ لاندي پټ و ، بل څوک نه وو ، د ښځې آواز مې هم کرارکرار لوړيدی...

اوس نو څه په عذر ورته ګډ يم:

ـ ګراني ماخو نه غوښتل، چې ته خوږ سي اونوک دي مات سي، همدا لانتي کالي هم ستامور را استولي دي، کنه نو زمايي په پرتوګ څه او په پرتوګانۍ څه کار...

له دي بيري چې ګاونډيان را خبرنسي...په ځغاسته ولاړم د اشپزخاني څخه مي چاړه را واخېسته اوتاريخي پرتوګانۍ مي دبيخه پري کړ. ترڅوبيرته راتلم ميرمن مي بيا دکور تردروازي وتلي وه. په داسي حال کي چې پرتوګ مي په لاس ټينګ نيولي و ورپسي ځغستلای مي هم نسوای نو د دروازي دخولي څخه مي پرږغ کړه:

ـ ګراني قول درکوم چې نورهيڅکله پرتوګانۍ ونه تړم، حتي ګر سره پرتوګ وانه غوندم...هغه چاچي داپر توګانۍ

اختراع کړی دی، دخدای په غضب دي اخته سي، زماځه ګناه ده... ستامور...

نور مي نو وضع خرابیدل چاره نه وه دکور دروازه همداسي خلاصه پاته سوه...په وارخطایي د تشناب وخواته وخوځیدم ... لاځای پرځای سوی نه وم، چي دتلیفون ږغ پورته سو. اول خو مي هیڅ سرپسي ونه ګرځاوه. ولي زنګ وهلو دوام وکړ. ما ویل چي تبرکو موټر نه وي وهلي، راځه ژربه یې جواب ورکم او بیا په فراغت خپل کار وکړم... نوپه یوه لاس مي شلیدلي پرتوګانښ ټینګ ونیوی او په بل لاس مي غوږي پورته کړه: هلو...

ناآشنا ږغ مي ترغوږو سو: ځنګه یې؟

شکردي جوړیم... ولي... تاسو مي ونه پیژندلاست؟

هغه وویل: معلومدار چي ودي نه پیژندلم، تاخو ځان...

ژر مي یې خبره ورپرې کړه، چي اوس یې کوم چټیات تر خولي را ونوزي....حتماً کوم آشنا دي، ومي ویل:

هلکه ږغ دي تغیر کړی دی...

هغه وویل: خیردی، ملامت نه یي... ښه کیسه کوه... نور ځنګه یې؟

په جواب کي مي ورته وویل: بد نه یم دخدای فضل دی...

ولي پرمغزو چې مې هرڅه زور راوړ، ځايته مې رانه وستي... اوپه هغه حالت کې چې زه وم امکان يې هم نه درلود چې ځای ته يې راولم...

چې بيا يې را څخه وپوښتل:

ـ ودي نه پيژندلم؟

ورته ومې ويل:

ـ ښه مې ونه پيژندلې... پوست دې په څرمګرۍ کې پيژنم... ته دې دانمره راکړه زه به بيرته تليفون درته وکړم ږغ دې سم نه راځي...

غوښتل مې چې ژر يې له شره خلاص سم او دبلې خوا ددې فرصت ترلاسه کړم، چې ځای ته يې راولم... چې دا څوک دی... ولې ده لا لاس نه اخيستی:

ـ ځه زويه اوس چې دې ونه پيژندلم ځان تيروې...ښه فکر وکړه...ښه، نور نو ښه يې؟

زما چې ږغ نورهم نرۍ سوی و په جواب کې وويل:

ـ شکردی جوړيم...تيريږي... ته ښه يې، بچيان دې ښه دي؟

په کيله يې راته وويل:

ـ شاباس، ښه نه شرميږې، داسې ژر دې هيرکړم؟ خير دی... ښه نور ښه يې؟

غوښته مي چي خپل ږغ يوځه غوږکړم، ولي نه کېدل نو په هغه نري ږغ مي ويل:

ـ يمه نو.. ورځ شپه کيږي او شپه ورځ..او په عذر مي ځيني وغوښتل:

ـ او هلکه سرزوري مه کوه يا زکام يې، يادي هم پزه بنده ده او يادي تليفون خراب دی... ږغ دي سم نه راځي دادی زه دستيً بيرته تليفون درته کوم... ته دي...

هغه زما خبره راپري کړه:

ـ نه زکام يم او نه مي هم پزه بنده ده. او نه هم تليفون خراب دي.. تا ځان ورک کړي دی... پروانه کوي... اوس دا ووايه چي نور څنګه يې؟

جدي مي ورته وويل: ښه يم، جوړيم..

نو اوس مي څنګه وضع خرابه ده پريوه اوبله پښه کيږم، کولمي زور را باندي را وړي، ولي ده لا لاس نه اخيستی:

ښه نا ځوانه رښتيا دي و نه پيژندم؟ خيردی مقصد زه تا غوندي نه يم. هيرکړی مي نه يې. ښه نور څنګه يې؟

لکه دظالم زوی چي مي په حال خبروي همدايي تکرارول:

ښه نور څنګه يې....

نورمي نو پرسترګو توره شپه سوه ورته ويلاي مي هم نه سواي... چي خراب يم... تراب يم..

غوږي مي کرار دمیز پرسرکښېښنوه، چي مخ مي را واړاوه ګورم چي ایټالوي میلمانه او میر من مي، چی رنګ يې الو تی دی شاته ولاړ دی، زه په لړزانه اوسستو قدمو ژر تشناب ته ځان... ورساوه..

ږغ يې لا اوریدل کیدي...

-نورځنګه يي...

....توري وریځې لیري سوي دلمر زرینو وړانګو له ونو دښاخونو څخه په راوتوپیل وکړ. مخ او زخمي بدن مي

کرارکرار تودیده. فکرمي کاوه چي کلونه کلونه تیرسویدي ږیره او ویښتان مي لکه هندی شهزاده اوږده سوي دي. بدن مې لمرسوی دی او پښتۍ مي راوتلي دي....یوغیبي آواز مي په غوږو کي انګازي خپري کړي:

- راپورته سه اي په غضب لړلي بنده، ستا دعا قبوله سوه ! له دي هردم شهیدۍ اوشرمسارۍ څخه مې خلاص کړي. وګوره په

وطن کي دي دنفاق، ویني تویوني او بدبختي لمن ټوله سوه. ټوله نا اهله، اهل سول. عقل يي و سرته راغلي، چي ولي دخپل ورور سرپري کړي اوکورته يي اور ور واچوي. ورځه، ټولوخپلي وسلي ټوکر، ټوکر کړي اویوبل په غیږ

کي نیسي. اهل مو اهلتر سول. نورنو د قلم په رنګ د چامخ
نه تورويي.... روان سه.

## دیارلسمه برخه
### ( استعجاب )

...هري خواته به دي چي مخ واړاوه. لوی اوکوچنی، قداونيم قده، توراوسپين پوسترونه ترستګوکيدل..( ښه راغلي )

په هوايي ډګرکې دډيرو په لاسوکي له شوقه دګلانو ګيډی ريږديدلي اوملي بيرغونه يې...په لاسونوکي په اهتزازوه...

د بيرغ په ليدو مي د خوښی ستر ګي وځليدي، لنډه مي په ذهن کي ديوي جرقي را تير سول ...

لورمي ځان د مځکي، مځکي واهه. ښوونکي يې بيرغ غوښت، نورو ټولو همصنفيانويې خپل بيرغونه راوړي وو. يوازي دا پاته وه.

مېرمنې مي راته وويل: ښوونکي ته يې تيلفون وکړه او ورته ووايه، چي موږ هيڅ بيرغ نه لرو، يو نه اوسل اساني !

دښوونځی دجشن په ورځ . ماشومانو هریوه دخپل ملي بیرغ سره چي چا پر پلاستیک او چا هم پرکاغذ کښلي وو او په دواړو لاسويي جګ نیولي وه، ټولو چک چکي ورته کولي،... زمالور ته یې ،سپین کاغذ یې پلاس ورکړی و.

....دتلویزیون اوعکاسی کامرې وهغی نقطی ته متوجې وي، چې زه دالوتکی څخه راکښته کیدم او سره اورېده غالی ورغځول سوي وه.

ماچي توره دریشې، پر اوږو د طلایی را زړیدلو رشمو سره اغوستي وه. توره شپو خولی مې پرسر وه، توری عینکی مي پرسترګوکړي وې....ددروازی پرمخ راښکاره سوم.دخوښی اوښه راغلاست ناری آسمان ته رسیدلی...یو ویشت توپونه وویشتل سول، تکان مي وخوړ. پوه نسوم، چی دبیري و اوکه دکولمو و، خو دا خوب او خیال دومره خوندورو، چي هیڅ مي سترګی خلاصي نکړي....

کله چي دزینو سرته راووتم، ... دیوه ګړی لپاره راپه زړه سوه چه څنګه مي په خالي لاسو د اوښکو څخه په ډکو سترګو خپل کور، کهول خوشي کړ. ښه مي په یاد دي لکه دکار پوه غله پشان دیوځوټو زړو کالوسره، چي دبالښت په پوښ کي مي پیچلي وه له کوره راووتم...

.... نابېره د دیوال تر شا په کوڅه کي مي یو مخته را شین سو. پزه او خوله یې تړلي وه په داسي حال کي چي تپانچه

يې زما و خولي ته نښان نيولي وه په لوړ اواز رابا ندي ږغ کړه:
ـ هر څه چي لري را ويې باسه...
نارو اوچيغو کومه ګټه نه درلوده لومړی خو په هغه وخت کي ټوله دناز په خوب بيده وه، له خوبه نه راکښينستل، بيا که را پورته سوي هم واى، ځانته يې زحمت نه ورکاوه.
لا ګرم نه وم، که څه هم په نا ببره چغه يې زما زړه په ترپکو کړی و ولي بيا مي هم غاړه تا زه کړه، فکر مي وکړ چي کوم اشنا ـ مشنا به وي ،مسخري به کوي.
ورتهومي ويل: څه چل دی و دي بيرولم ظالمه...
ده په پټکه امر وکړ: بخچه دي کښيږده...
په دا سي حال کي چي خپلي ناړي مي په سختې تيره ولي ورته وويل:
ـ په بخچه کي څه شي نسته، ټوکي نه کومه...
پوهيدم چي دالا نتي بخچه به مي دغاړي توک سي...چي بيا يې را باندي چيغه کړه:
ـ که دي يوار بيا ترمرداري خولي څه را ووتل، سوری سوری به دي کړم !
دستي مي بخچه دده و پښو ته کښيښنوده...
امر يې وکړ ساعت دي هم وباسه.

ساعت مي هم د لاسه خلاص کړ...
دزمان څخه يې بيغمه کړم، بيا يې امر وکړ، چي کرتی او پطلون دي هم وباسه.
دځانه سره مي وويل: کرتی،پروا نه کوي ...کرتی مي و ايسته ... ايښ پا ته سوم چي اوس څه وکړم، اخطار يې هم راکړی و ، که څه ووايم په ګولی به مي وولي. لا سونه مي ريږديدل او دبيري ځای هم و. يوازي مي د مرګ سره دستني دسر په اندا زه واټن و.
په زړه کي مي را وګرځيدل، چي دا غله مولا بي کلتوره دي، بکس دي وا خيستی، ساعت دي وا خيستی، کرتی دي وا خيسته، نو په پطلون مي څه کارلري نا ځوانه.
دپطلون ايستل هم اسانه کار نه و، دننګ او نا موس خبره وه، چي پطلون يې را څه ايستلی وای نو څه راته پاته کيدل. همدي پطلون مي شرم سا تلی و. که چا په دي حالت کي وليدم دا شرم به بيا چيری وړم...يو واري مي غيرت په تور را غی چي دا بي غيرتي مي پلار او نيکه هم نه ده کړي دپطلون په خا طر يې خپل سرونه قربان کړي دي. زه څنګه دا بي ننګي ومنم، پطلون مي څنګه وباسم...
ياره هرڅه چي وسوه ور ټوپ کړه په همدي پطلون يې زندی کړه...چي بيا يې را با ندي چغه کړه:
ولي وخت تيره وي ژرکوه، کنه نو... ژوند دي ختم دی.

ځان هم خوږ دی، ما ویل، چې نا مرده په رښتیا ما شه کش نکړي. ځان مې  ولیدي چې ځنګه یې په پښوکې په وینو لژند پروت یم... نه نه زه با ید خپل ژوند  وژغورم. په پطلون دې بلا پسې وي... با سم یې...څه پرواکوي، پرتوګ خو  نه دی. دپرتوګ ایستل ننګ دی،  پلاراو  نیکه مې هیڅکله پطلون  نه در لود ، هیڅ  څوک حق نه لري طعنه را کړي، چې پطلون یې را څخه ایستلی دی.

په نره مې پطلون  هم  پلاس ور کړ. تر پطلانه لاندې مې هم څه نه وه اغوستي، دځان سا تنه فرض وه....

...او اوس دادی زما تر پښو لاندې یې سرې موري غالی اوارې کړې دي.

لکه غټ خلک کله چې له زینو څخه راکښته سوم، ځان مې ټیټ

کړ، چې خپله خاوره مچ کړم، ولې ونسو تنګ پطلون مې له شاله خواخیري سو. ږغ یې هم ډیرلوړ و، ځکه چې دجرمني ساخت و. خو ژر راپورته سوم چې دچا پام نسي....پس له غیږ روغبړ اوستړیمسې نه له مسوولینو څخه یوه رانه په احترام وپوښتل:

ـ څه شي دي را وړي دي؟

ما ومسل او په ډیر دروند حرکت مې پرخپل راوتلي ګیډه لاس تیرکړ او خپلو بکسوته مې، چې شاوخوا چې شاوخوا

راته کتار پراته وو، اشاره وکړه...
ډیر خنده رویه سړی و، ده هم وخندل او راته یې وویل:
ـ زما مقصد دادی چي څه شي دي زده کړیدي، چي ستا
د تحصیل په رشته کي کار درته پیدا کړو؟
ماهم په داسي حال کي، چي خپله غاړه تازه کوله ورته
وویل:
هغه څه چي مي پخوا زده کړي وه هغه مي له یاده وتلي
دي، ولي په همدي مهال کي، چي له هیواده بهر وم، دنورو
هیواد والو غوندي مي خپل وخت نه دی ضایع کړی. دري
دیپلومه مي اخستي دي او دستی مي خپل دیپلومات
بکس خلاص کړاو دري سره دیپلومونه مي ومخیته ورته
قطارکړه... مسئوول سړي زما د دیپلومونو په لیدو، تندی
تریو سو. پوه سوم چي حتمن په پوه نسو، ویل به یې ورته
ګران و، نو ورته ومي ویل:
ـ جرمني ډیره سخته ژبه ده، زه به یې درته وژباړم...دا
دیپلوم مي دغوړو ښیښه یې غابونو دپریولو په هلکه دی.
تاسوته به ښه تره څرګنده وي، چي غوړ ډیر ډولونه لري
اوهر غوړ ځانته ځانګړي کیمیاوي خاص مواد لري. ځیني
غوړ غابونه په سړو اوبو اوځیني بیا په تودو اوبومینځل
کیږي، ولي زما دیپلوم چي دی له تودو اوبو سره دی،
ځکه زما لا سونه له سړو اوبو سره حساسیت لري، همدا

چي له يخو اوبوسره تماس وکړي پړسيږي..او دادی ما رنګارنګ مواد ، پوډر او اوبلن دبيلګي په ډول له ځانه سره راوړي دي..او دابل ديپلوم مي هم...

مسوول سړي زما خبري راپري کړي، اوپه بي حوصله ګي يې راته وويل:

- پوه سوم، پوه سوم. زموږ لوښي تراوسه خاورين دي، هروخت چي ښيښنه يې لوښي پيدا کړو بيا به احوال درکړو. ان زما دريم ديپلوم يې خلاص هم نکړ، چي په ډير زحمت مي ترلاسه کړی و....



....حاجی ماما چي مي اوس په حاجی یو سف مشهورو ، خپل نوی ټویوټا موټر، زما لپاره ګل پوشه کړی و ، خپل تر ښنګه کښینولم ، نور اولس مو تر شا را پسي را روان سول....په لاره کي راته وایي

...دا دخدای فضل وسو که نه نو غاړه به مي په دنیا او آخرت کت کی بنده وای. شکر، چي ژوندی یم او په دي واقعیت خبر سوم ، کنه نو لکه ټولو نورو ما هم داسي فکر کاوه ، ښنکه ساده ګان وو ، که څه هم په اول کی مو باید دا حدس وهلی وای ، ولي سړی دکومه پوه سی ، لاس خو مو نه و بوی کړی او ولی هم نه وم. زما نو ښنګه زړه غواړی چي خپل نږیدلی خاورین کورونه او اشنا د دوړو ډک سړکونه ووینم او تر سترګو می او ښکی روانی دی او دی را ته ګډ دی

...که څه هم د پاکستان او کارخانو د جعلکاری په هکله مو یو کتاب خبری اوریدلی وي . « دمځکی پر مخ ، چي هر څه وینی دپاکستان په کار خانوکی جوړیږی ښه تره ده ووایم پرس کیږی» چي په شکل او قواره کي د اصل څخه هیڅ فرق نه لری، ولي دکیفیت ... ! دیپلوم او ډګري په هره سطح او سویه چي دي غوښتي وي دخو کلدارو په بیه تر لاسه کولای سی، ټانک او طیاری خولا څه کوي ! ولي

دچا فکر ته به ورسیږي ، چي خلک دي کاپي کړي. لکه زه او ته او جت او جولا نه خلک نه ، بلکه رهبران، پروفیسران او انجنیران.. توبه خدایه، توبه.... اوس که مړ هم سم روح به مي آرام وی. څه بد او رد نه وه، چی ددوی به ادرس مو تر خولی را ونه وتل. د غله او داړه مار مو ورته وویل، انسان وژونکی او خائینان مو ورته وویل. زموږ اوتا پر ځای چی هر څوک وای داسی فکر به یې کاوه ، څکه چی ویجاړ وطن یې نور هم را ویجاړ کړ، هر څه چی مو درلودل چپاول سول آن دخلکو و ناموس ته یې لاس اوږد کړ. په زرو ځوانان، چی زړونه یی دارمانونو ډک وو دخاورو سره یو کړل....

- زویه زما دین دومره دی چی درته ووایم ، چی دا خلک ووایم نا خلک ووایم چی همدا اوس په زموږ په دتاج او تخت دنیول لپاره لاس او ګریوان دی زموږ اصلی رهبران نه دي

په تعجب مي وپو ښتل حاجي ماما؟ « زموږ حقیقی رهبران نه دی» څه غواړي ووایي؟

- هیڅ دتعجب خبره نه ده زویه ، په هر څه چی باور لری قسم درته خورم ، دغسی چی تا پیژنم ، دغسی می دخپلو ګرانو رهبرانو سره ناسته او ولاړه درلودل ، قسم په خدای دی چی دهر یوه خبره او عمل یوه وه .بیله دپاک پروردګار

دامره او امر باالمعروف ونهي بالمنکر بل څه په فکر کی نه درلودل. پر ښونی او روزنی یی سخت ایمان درلود ، ځکه پخپله دتربیه خاوندان وه. یوازینی هیله یې دا وه چي اسلامي قانون جاری کړی. تر څو ټوله د اسلامي اخوت په فضا کی ژوند وکړي، حتي چي نړیوالو ته ور وښیی چی څنګه کولای سو ژوند وکړو ، په چوکیو او زرو په را ټولولویې فکر نه کاوه

اوس ته خپله ووایه ، چی داسی فرشته صفته ، چیری خپل لا سونه دبیګناه او بیوزلو خلکو په وینو سره کوی !

آیا ته قبلولای سی، چی داسی پاک طینته کسان خپل ټاټوبی په داسی یوه ویرا نه بدلوی ، چی اوس دناستی لپاره ځای پیدا نکړی ! ددوی استقامت او مقاومت او د الله اکبر ناره او تکبیر نړی ونه لړزول، دا ټوله دایمان زورنه وو ؟

دغه کسان چی یې د رهبرانو په نامه را وستل ، په خدای که بل څوک وي، هغه چی د پیښور په کارخانو کی کاپي سوي دي ، خدای خبر چی پر اصلی او ګرانو رهبرانو یې څه بلا را وستلی ده .

وګوره کالی یې هغه سپین کالی، هغه چپنی ، هغه لنګی آن ګوره چي دږیری پرځای یې هغسي هم رنګه وړی مښلولی دي چي دسړي باور پر راځي، ږغ یې هغه ږغ .

خوله یې ښوری ، خو ږغ یې دبل ځایه را وزي ، دایې علت دی چی په خبره یې باور نه کوي؟ کوم کار یې مسلمانانو ته ورته، حتی انسانو ته ورته دی ،... زموږ پر وطن یې څه حال را وستی دی ،دا ځکه چی دوی عاطفه او زړه سوی نه لري، ځکه چي مصنوعي او ساختګي دي....

نړیوال فکر کوی چی زموږ رهبران ویني څښونکي اوانسان وژونکي دي ، نژدي و چي په دي او بل نامه زموږ ګران هیواد ټوټه ټوټه کړی، اې خدایه: ! ! ! ! !

دحاجي یوسف ستر ګی چي سری سوی وی ،ستونی یې بغض ونیوی...

...دجمعی په ورځ په مسجد خلکو خبری کولی، چی پاچا ګردشي ده، او مولوی صاحب په خطبه کی هم داخبره وکړه: چي ټوله باید ولاړسی او نوی پاچا انتخاب کړي. په اول کي خندا را غله خو دستی می عقل سرته راغی، دخومو دخدایه غو ښتل، چی داسی ورځ را سی چه زه هم وکولای سم خپل مشر انتخاب کړم. اوس خو می دادی دعا قبوله سویده. اوس هغه پخواني وختونه نه دي . موږ مهم او متمدن خلک یو. د خدای شکر می ادا کړ.... چی ژوندی وم او پخپلو سترګو وینم ، چی څومره تغییر راغلی دی. که وختی خبر سوی وای ، ځان به می لا کاندید کړی وای. زه ترچا کم وم....

دا ننتخا با تو په ورځ بيا زړه نا زړه وم ،ځکه يوه راته ويلي وه: که يې زه او ته يې انتخاب کړو او که نه کړو هغه درک به وي او هغه خرک.

ولي ما ثنګه کولای سوای، چې دا چانس له لاسه ورکړم. ور روان سوم.

کله چې هلته ورسيدم، ډيره ګڼه ګوڼه وه، ځيني را تلل او ځيني بيا تلل. هر يخواته راز راز غټ او کوچني عکسونه او شعارونه پر ديوالو او ونو را زړيدلي وه.

لومړی عکس چې مي وليد ور نژدي سوم، ټکان مي وخوړی. يو چې ډير بد بد يې راته کتل، و. تر ډيره و پهلوا نانو ته ورته و. نوم يې هم يو بل ډول و( س. وړی مشهور په تاج ) له ځانه سره مې وويل:

ـ ته خو چليپا يې.

دا ځکه چې په دروازه کي يې راته ويلی وه، چې بل کار نه لری يوا زي يوه چليپا او بس. يو قدم مخته ولاړم بل عکس ته ځيرسوم دا بيا يو څه مرموز په نظر راغی، توري عينکويې سترګي پو ښلي وي، څهره يې تر ډيره کيسه برانو ته ورته وه، نوم مي يې هم په زحمت ولوست

(ر. فتنه مشهور په شر انداز )، ما ويل:

ـ څه ته هم چليپا يې، د شر اندازو وخت تير دی، د پاچا هي وړ نه يې.

بل عکس ته، چي ښي لاس مي پر دیوال را زړېدلی و ور نژدې سوم، ددې بیا خوله د خندا ډکه وه خو خندا یې د دروا غو معلومیده، ځکه چي د سترګو لیدیې بل څه ویل.
کله چي مې یې نوم ووایه، خوا مي نوره هم بده سوه ( ل.
خپک مشهور په چتاق ) بیا مې تر خولي ورته راووتل،
ته هم چلیپا یې زړه او خوله دې یوه نده....

چرت یووړم دا خلک د پادشاهی لایق نه دي ،یو بل ډول دی، حتمن دا ټول به همدا سې وي، پرخپل راتګ پښیمانه سوم.

یو چا را ږغ کړه: څه کوي چي ولاړ یې ژر سه چي در وازې تړل کیږي

مخ مي را وګرځاوه که ګورم چي، زما ګاونډی و ، حاجی رووف.

ـ څنګه لکه چي تراو سه دې لا رایه نه ده ورکړي؟

ما ویل: نه .

حا جي وپو ښتل: نو بیا ولي راتلي؟

ما همدا سي چرتي ورته وویل:

ـ دا سړي چي دلته یې عکسونه زړېدلي دي، یو مي لا خوښ نه سو. حاجی صاحب....

ږغ می یو څه ټیټ کړ: یو بل ډول مې تر سترګو سول. دا یوخو یې لکه زموږ د کوځې قصاب ته ډیر ورته دی، زبر دستانو غوندې راته مالومیږی، دا بل یې...

د حاجي رووف تندی تریو سو، خبره یې را پرې کړه:
څوک یا دوي؟

ما ورته وویل: نو څوک یادوم دا دی ته خپله ورته وګوره، ګوره دا عکس چې پر دیوال را زړیدلی دی، هغه بل چې پر ونه زړیږي...

حاجي رووف راته وخندل:

ـ خدای دې په نس مور کړه، ته خو نام خدا پوه سړی یې خارج دیده یې. راسه دا وګوره چې ددې عکس لا ندې څه لیکل سوي دي، دا دغلو او سړي وژونکو عکسونه دي ، چې دهر یوه پرسر یې ژوندی یا مړی، جا یزه ګټې... وګوره هلته هغه سړي، چې د پا چا هې دعوا لري، د هغو عکسونه هلته دي، ورسه پریوه یې خط کش کړه.

حاجي رووف را پسې ږغ کړه: مه دریږه، ژر کوه، زه درته ولاړیم. هغه کسانو چې ځانونه پاچاهې ته کاندید کړي دي ښه خلک دي، ښې خبرې کوي، لکه زموږ د مسجد ملا.....

... و محفل ته يې چي را بلل سوی وم خورا ستړی کونکي و. د رنګا رنګ حزبونو او تنظیمونو استازي په کښې را ټول سوي وه. دا اول واري و ، چي ټولو يو ځای په داسي يوه شانداره مجلس که برخه اخيستنه، ځکه ټولو درد در لودی. دګډون کونکو څخه هر يوه ته چي به وار ورسيدی، ترڅو چي تر خولي به يې ځګان را نغلل، دخطابي دميز د شانه به نه ايسته کېدی، اخر ټوله مسلکي نطاقان وو...

اړړمی مي په زيا تيدو سوي. نه پوهيدم چي څنګه ووزم. يو وخت ګورم، چي يو څوکسه ديوه حزب دسالون څخه ووتل... يوګړي وروسته دبل تنظيم څوکسه ووتل... بيا يو بل ګروپ ووتی ...ما خو څوک نه در لودل يوازي وم، ماهم جرئت پيدا کړ او غلی غلی له سالونه را ووتم....

ولاړم چي خپل بالا پوښ را واخلم. بالا پوښونه ډير زيات وو. دبالا پوښو په منځ کي پخپل بالا پوښ پسي ګرځيدم، ولي هر څه چي مي وکتل خپل بالا پوښ مي ونه پيژندی، ځکه چي ټول بالا پوښونه يو راز او تور وه. بيا مي په ډير دقت په لټولو پيل وکړ ځکه زما بالا پوښ وړين و. ومی ليدل ،چی ټوله پشمي دي، خو زما بالا پوښ لکه تری تم سوی چي يي. زړه مي راته ووېل لاس ځيني ومېنځه، لکه چي در څخه وړی يې دی.

لومړی ځوک چي په فکرکي را وګرځیدی، چي زما بالا پوښ به يې له ځانه سره وړی وي ،هغه چاغ ټیټکی و ، چي له سالونه اول را ووت، دی د راسته حزب و ، ښه مي په یاد دي چي یو وخت یې عکس دنورو همکارانوسره په اخبار کي چاپ سوی و او ترلا ندي يې په غټو تورو لیکل سوي وه، دهیواد خائینان.... حتمن همدي خاین زما بالا پوښ غلا کړی دی...

بیا چرت را ولویدی ما ویل که یې غلا کړی هم وي نه پر اصلېږي.

بیا په فکرکي را وګرځېدل، چي هغه ډنګري عینکي نه وي وړی،

دی دچپه تنظیم سړي و دهغه او ملګرو عکس مي هم یو وخت په ورځپاڼه کي لېدلی و، چي ترلاندي يې ورته لېکلي وه، داخیري وپیژنی... ولي دا سړي زوړ و او زما بالا پوښ دیسکو یي و، که یې وړی هم وي اغوستلای یې نسي....

بیا مي په زړه کي راوګرځیدل، چي هغه سپین وشمه تاو تاو وریښته والا وطن خرڅونکي تر بغل نه یي لاندي کړی. دهغه او سازمان په اړه یې هم په یوه مجله کي لوستي وه چي عنوان یې ورکړي و ، وطن خرڅونکی...

دباندي هم هوا يخه وه، بي بالا پوښه هم نسواى وتلاى.
بايد ترمحفل تر پايه پاته سوى واى، تر ځو ټولو خپل بالا پوښونه اغوستي واى او هر يو چي پاته سوى واى هغه به ما اغوستى واى.
خداى خبر، چي څه مهال محفل خلاص سوى واى... ټوله داسي ګرم را غلي وه چي پوښتنه مکوه.
اړسوم چي دا واري دجيبونو په پلټلو پيل وکړم، ترڅو خپل دنصوارو په کوتي اويا دپزي په دسمال يې پيدا کړم، خو په ټولو جيبو کی دنصوارو قطی وی ...چي يو واري يو چا تر لاس ټينګ ونيولم، او ناري يي کړي:
غل مي ونيوى، غل مي ونيوى....
په دا سبا يې زما عکس هم په ورځپاڼه کي چاپ کړی و او تر لاندي يي په غټو تورو لیکلي وه.
« دملت دجيب غل بلفعل ونيول سو.»

.... بله ورځ يو اخلاص مند خيرات کړی و او ماته يې هم کارت را استولی و. او لکه هر کله د مجلس په صدر کي نا ست وم، ای کا شکي نه وای تللی او نه وای نا ست.
پر لا سو يې او به را وا چولي، تر ټول د مخه يې د وريجو غوري زما ومخيته کښيښود....

ډوډۍ چي وخوړه سوه، بايد و مړيته مي دعا کړي واى.
لاس مي پورته کړ، کا شکي مي نه واى پور ته کړى، ځکه
دکور د خاوند زړي او پنډي پشي، چي زما لا سونه پورته
وليدل را غله او د ورنو په منځ کي مي کښينستنه. په هډو
کي مي ريږدپيدا سو، ځکه دا اول وار و چي يوه پيشي
مي غيږکي کښينستل. بيريدم چي

کوم غابښ را ونه لګوي. په دعا پوه نسوم، ځو واري مي
اواز لوړکړ او په يوه لاس مي ځواري پوري وهل، چي
دشره يې خلاص سم. ولي دا سپين سترګى همدا سي زما
په ورنو

ځان مښى. دعا مي لنډه کړه، چي ژر ولاړ سم، چي اوس
يو بله خرابي پيښه نه کړي، چي دستي د چايوپتنوس را
ورسيدى. نه کيده چي يوه پياله چاى ونه څښم، بده وه،
ماويل ځه، يو غُړپ به وکم، چي د کور خاوند خوابدى
نسي، داغه چي د چايو پياله مي پورته کړه، کا شکي مي
نه واى پورته کړي. دي بي حيا پشي چي له اوله يې لا لکۍ
پورته نيولي وه، همدا چي زما خوله خلا صه وليده د پيالي
سره يې يو ځاى خپله مرداره لکى زما په خوله رانتيستله.
دتودو چايوپياله مي له لا سه ولويدل، ورونونه مي
وسول، له ځايه وغورځيدم، يوه لوړه چيغه مي تر خولي را
ووتل:

ـ پر پدره دي نا لت سه په دي مرداره لکی، و دي سوم.
د کور خاوند ددي پر ځای چي کوم دسمال راته راوړي، چي لنګي په وچ کړم او یا معذرت و غواړي، تندی یې یو واري تریو سو، بدبدیې راته وکتل، په قهر یې راته وویل:
ـ بر پدره دي ستا لا نت سي، ته څنګه دا جرئت کوي. چي هغه والا مقامه سید سخیف آغا ته ښکنځل وکړي...
وا رخطا سوم لکه چي بل څه مي ترخولي را ووتل:
ـ ما خو چا ته شکنځل نه دي کړي. دي مرداري پشي ته مي وکړي...
ده په قار راته وویل:
ـ وشر میږه، د اپیشي زما جنت مقامه مرحوم پلار ته والا مقامه سید سخیف آغا دم کړي، او دلاس نښاني ده....
پوه سوم چي خبره نوره هم خرابیږي، کرار مي پټو ټک واهه او دمخلص دوست دکوره را ووتم.

....چرتي روان یم، دکور وخواته ښه دی، چي سړی دلکۍ او دلکۍ لرونکو څخه ځان وسا تي...، ګورم یو ګروپ خلک د زړو قبرو پر سر، سره را ټول سوي دي، نژدی ورغلم
.

دښار مړده شويان او ګورکنان، چي دانه مانه کفن کښ يې هم په منځ کي ليدل کيدل سره را ټول سوي وه. دټولو رنګونه دلوړې او

بيکاری څخه الوتي وو... دمړده شويانو سرخيل په داسي حال کي چي ساختګي غاښونه يې دهري کلمي سره ترخولي را وتل اوسترګي يې داوښکو ډکي وې د نورو ومختهو لاړ و او بيانيه يې ورکول:

ډيرومحترمو او زړه ته رانژدي مړده شويانو، عزتمنو قبرکنانو ! هغه وژونکی درد چي زما رګ اوپوست زوروي، تاسوهم احساسوی، پوښتنه داده چي لاس تر زني کښينو اوسترګي پرلار اوسو، چي څه وخت مرګی خپلي خوني منګولي زموږ په غاړه کي ښخوي او يا دخپلو بچيانو دمرګ شاهدان و اوسو...يا داچي بيامو بازار رونق پيدا کړي اوهريو د ورځي دوه او دري پرتختهو اچوو اوتر خاورو لاندي کړو. د ډيرو خبرو اړتيا نسته، زموږ توپير له نورو سره دادی، چي موږ دعمل خلک يو. دهرشي لکی ژر تر ژره لنډه و... نو ووايا ست چي څه وکړو ؟...اوسو که ونه اوسو...

ټولو يو اوبل ته سره وکتل مګر هيڅ چاهم څه نه ويل... دقبر کنانو سرخيل چي تراوسه چپ و، ددي حالت په ليدو په داسي حال کي چي ديوه ځوان مړده شوی پر اوږو يې

ځان تکیه کاوه، ولاړ سو. په ریږدیدلو قدمو یوځوګامه مختهولاړ، غاړه یې تازه کړه، داسي یې په خبروپیل وکړ:

ـ پتمن مرده شوی ورور ښه وفرمایل باید ژرترژره لاس په کارسو، چي څنګه دمړو شمیر زیات سي، او زموږ کسب اوکار بیا رونق پیدا کړي او دیوي ګولي حلالي ډوډۍ خاوندان سو. عزیزانو ستا سو په تشویش هم په ښه توګه پوهیږم، ولي تاسوته پوره ډاډ درکوم، موږ په هرعمل چي لاس پوري کړو، هیڅ قانوني مانع نه لري، کتابي خبره ده، چي د حلالي ډوډۍ پیدا کول فرض دي، زموږ اوتاسو، څه تاسو مرده

شویان، څه موږ قبرکنان، اوڅه دا هردم شهیده کفن کښان بل څه کارلرو، همدغه مو دروزي غاردی. نورنو انتظار څه ګټه نلري، که زما اوری پرهیڅ چارحم مه کوی، نه پرخپل اونه هم پر پردي، نه دغټ اونه د واړه، نه دنراو نه دښځي...

دقبرکنانو دسرخیل دعالمانه اودمحتوا ډکو خبرو ورستهټولو مرده شویانو، قبرکنانو او آن کفن کښانو،چي سرونه په زړیدل روحیه واخستله. او دخاصو ولولو او خوښي په څرګندولو، دټولو

دنظریو او وړاندیزو په پام کي نیولو سره، فیصله وکړه:

بیله دیچي نور وخت دلاسه ووزي، هرمرده شوی اوقبر کن دهرممکن تدبیر څخه په کار اخستلو باید ځان دیوي ګولي ډوډی خاوند کړي، دمتهو او یا توري په زور، هغه چي توره نه لری دسو تې په زور اوڅوک چي دانسی کولای د ژبي په زور دخلق الله په منځ کي فتنه اوفساد ګډ کړی... پرهیڅ چا رحم مه کوی، ترڅو خپل ځان اوعیال دحتمي مرګه وژغوری ....مرده شویان به پاس ورکوی قبر کنانوته اوقبرکنان به وکفن کښانوته....ومن الله التوفیق.



# څوارلسمه برخه

## سپي او سګوانان

دسپو غپامي ترغوږو سوه...یا خدایه اوس څه وکړم؟ مخکي له دي چي راباندي روښنایي سي، سپي به مي وداړي... زاری....اوراد ، دلمر تودوخه، دوطن ښکلي خوبو نو.... هیڅ ګټه ونکړه. وضعه مي نوره هم خرابیدله. اوس د ارسوایی چیری له ځانه سره یوسم؟ دسپیانوله بیري مي کرارکرار تروني ترشاځان وښویوه. دسپیانوغپارانژدي کیدله. داسپیان هم عجیب مردارمخلوق دی. دا زما خبره نه وه، دغسي راته ویل سوي وه.... سګوانان لړو او بي ادبه خلک دي. او ما چي ځان با تربیه فکرکاوه، نه یوازي چي دسپیانو څخه بیریدم،سګواني مي هم نه کول، دسګوانانو څخه مي هم بد راتلل کله چي مو خدای قسمت کړی و

اوسترګي مو وغړولي دي متمدني دنیا ته راغلو، ومي لیدل چي دهرو دوو کسو څخه یوه دسپي په غاړه کي رسی اچولي ده. په ظاهره دا خلک بي تربیه نه راته اېسیدل، ځکه ډیرپاک پاک او سنګین معلومیدل، زموږ دسګبازانو غوندي یې چټل، او شکیدلي ګریوان نه درلود، خو له ځانه سره به مي ویل:

چي لېړان خودي چي دي، ولي پاک...

او په زړه کي مي پرخندل او شکر مي ایستی، چي سګوان نه یم، کنه اوس به ددوی غوندي وای. او ښه یې ویلي دي چي ژوند ښه شی دی سړی به پنجوایي ووینې.

پر خپلوګنهکارو سترګو مي باورنه راتی، ما چي ویل بیده یم کله

چي مي ددي دنیا امپراطور ولېدی، چي دسپي تسمه یې په لاس کي وه. سپي تر مخه او دی په پسي و. دیوه پر ځاي یې دوه را روان کړي وه. څنګه یې امکان درلود چي څوک یوه امپرا طور او اولولامر ته بي تربیه او لېړ ووایې.

حتمن زماتر بیه سمه نه ده اصلن زموږ تر بیه غلطه وه. برعکس سګواني په اصل کي د اصېلو اوغټوخلکو کار دی، که زه غلط وایم تا سو ووایاست موږ یې غلط پوهـ کړي وو.

آزموږ وطني سګوانان هم حتمن شريف اوغټ خلک وه، څنګه يې په قدرنه وو پو هېدلي. موږ يې ګريوانه ته کتل... غو ښته مي، چي زه هم يوسپی پيدا کړم، ترڅو ددي شريف مخلوق په درلودلو زه هم غټ سړی سم....

...ددي شريفو سپيانو ترشامي وليدل، چي د ونوترشا هم شريف کسان په پسي وه. زما په ليدو، سپيانو نور هم زور واخست. دوی هم پو هيدل چي چندان مي نه خوښيږي.

په دی حساسه شيبه کی چي زما دپاره دخپل حيثيت او آبرو مطرح وه، سړي خورو سپيانو زما وخواته زورونه وهل. خو پوليسان واقعن پدر کده خلک وه، آمر به يې ورته کاوه، چي غرض مه په لري. که نی، ډير خطرناک او داړونکي وه ....يوه پوليس کامره راويسته او ژر ژر يې دهري خوا څخه زما عکسونه اخستل. اوبل چي مخابره يې په لاس کی وه او دنوروغوندي يې زما په ليدو خوله خلاصه پاته وه، په اغلب ګمان، چاته را پور ورکاوه، را نژدي سو. بيره يې له ورايه په سترګوکي مالوميده، رانه يی وپوښتل:

ـ څوک يي؟ اودلته څه غواړي؟

وضعيت مي نورهم خرابيده. پرسترګومي توره پرده راتله.

ولي ما باید دچا سره خبرې نه واې کړي د اطفایي دموټر بدرنګه رنګ مې تر غوږو سو، چي را نژدي کېدی...

...څو شیبي لا نه وي تیري چي دپولیسو موټرونه د سرو او شنو څراغو سره په سړکوکي را ښکاره سول او بي سره اوازونه یې زیا تیدل. ددې سره یوځای داسي کسان چي بدرنګه خاص ماسکونه یې پرېږو تړلي وه اوخاص یونیفورم ئې اغوستی وو اوعجیب وغریب وسایل یې له ځانه سره درلودل، په میدان را ننوتل...
غریبو خلکویوازي خپلي پزي ټینګي نیولي وي. دبیري یوي او بلي خواته په ځغاستو وه اونه پوهیدل، چي څه پیښنه ده. څو کسه تر پښو لاندي سوه په څو لنډو شیبوکي میدان خالي سو اوجنګي څرخی الوتکی دمیدان پر سر را ښکاره سوي.
دا خوا خوارعرب اینښ پاته و، چي دا نو ولي. که څه هم پخوا یې دا عادت نه درلود ان چي د خپل هیواد په هغه مردارو کوڅوکي یې هم داکار نه کا وه. هغه ده لویانو خبره یې په یاد وه، چي که نا چاره سوي ښه شا وخوا وګوره، چي څوک درته نژدي نه وي او پس له هغه چي مطمئن سوي بیا نو، هغه وکړه چي زړه یې لوړ نه وي، نو داکاریې کاوه. ولي له هغه وخته چي امریکاته راغی، په وار یې لیدلي وه، چي

چندان بدکارهم نه دی او له صحي در که هم کورني ډاکتر ورته تو صیه کړي وه، چي دا کار یوعادي کاردی او خوشي کول یې دصحت لپاره ګټه کوي. نوهغه و چه چیري به لږ فشارهم وربانديي راغی په خلاص زړه به ایله کاوه. ډیرهم د چا دپام وړ نه ګرځیدی. دا په دي خاطر، چي نورو هم دهغه دسا تلو چندان خیال نه ساتی اوهغه سقیله مساله داره وطني خورا کونه هم نه وه، بویانو یې ډیر فرق نه سره درلود ځکه ټوله دکنسرو وه.

عرب په ټیله او ټمبه که له میدانه را ووت ، کنه نو په غضب د خدای په اخته سوی وای. او په بیړه ټکسی ته وختی...

- ژر له دی ځایه ځان لیری کړه کنه نو موږ بیله هغه طالع نه لرو چی را پسی رانسی

ما هم اکسیلیټر ته پښه ور کړه ... مخ می ورته را وړاوه ، ولی څه خبره وه

پو ښتنه مه کوه ... کوڼ او ړوندسوم بیله دي چي په زړه کي لا وګرځی چي په امریکا کي یم، دعادت له مخی می لنډ شا وخوا وکتل یوڅه مي یې والیوم هم کښته کړ. ولي دا خدای وهلی بوی یې دا سي په چټکي په ټول میدان کي نشرسو، چي ټوله میدان یې پرسر وا خیست. هرڅه چي مي

پرککره فشار راوړ سرمي نه خلاصيدی، عرب يم نو، ژړ مي وينه سرته نه رسيده.

ښايی ددی په نامه چي زهری مواد مي په ميدان کی پاشلی دی ، نژدی و چی د خپلو موادو سره باالفعل ونيول سم او مفت به مې يا خپل سرله لاسه ورکړی وای او يا به هم مستقيم ګوانتناموته ليږل سوی وای.

خندا را غله: دا خو د خدای فضل دربانی سوی دی...

يو وار په زړه کی را وګرځيده، چی زويه، ژړکونه باسه.... تاته تر ده تږي دي، خو ته هم افغان يې او له عربو سره هم......

د ی ماته وايی:

اخي ! راډيو دي يوڅه لوړه که:

په را ډيوکی تبصري رواني وي، چي د سي ای اي مسوولينوله را پورله مخي د سړي وژو نکو القاعدي اوصدام پلويانو د زهري او کيمياوي موادو د پا شلو له کبله سره د جان اف کنيډي په نړيوال هوايي ډګرکي په سلهاوکسان مسموم سول او د ډيرو نورو وضع خرابه ده....د الوتکو ټوله الوتني تر دوهمي خبرتيا پوري،

و ځنډول سوي....

دعرب وچی شونډی سره خلاصی سوی، خندا وا خستی ، سترګي يې بريښبدلي. خندا يې کرار کرار نوره هم لوړيدل بيله له ارادي يې ترخولي را ووتل:

-بو پر پدره يې لانت کړي، امريکا ده نو....

...دومره مي په ياد دي، چي درز را ولويدم.... تا به ويل چی B52 بم راباندی واچوی ....همدا مي پرده سول. داچي څه مي کړي دي اوڅه راڅخه سويدي او په څه وضعيت کي وم، په ځان نه يم پوهيدلی...



# پنځلسمه برخه

## تر هغه وروسته

....په مانو څه سویدي، سم ستره سړی یم، یوازي دځانه کله کله بیریږم. هغه دی، چي یوازي یم. او دبیری، چي ځان زخمي نکړم. د ږیري دخریلو پاکي اود سنت غیچچي مي هلته پورته به یوه جعبه کي قلف کړیدي. ږیره او بر یتونه مي هم به همدي خاطر اوږده سویدي.

په لا سونو کي مي اول خو شکر دی دونه زور نسته اوبل دا چي تړلي دي، چي ځان خفه کړم. ولي دا غیرت خو لرم، چي ځان له دوهم او یا دریم پوړ څخه را وغورځوم، خو په همدي خاطر دی، نه ویل کیږي، چي یوارمي تاریخي او خوني احساسات په جوش راسي او ځان ضایع کړم. نو دا علت دي چي په اول منزل کي مي اتراق کړی دی، که چیري ځان را وغورځوم هم ، پښه به مي دبجلکي څخه رګ سي او بس.

ولي ای کشکي خبره همدلته خلاصه سوي وای، ددي خلکو چاره څنګه وکړم. دا چي مخ راګرځوي دا سي جولي ويني، چي سړی ځينی بيريږي....

هغه ورځ جانو زما تر ټولو ښه ملګری دی، چي ان يو وار يې ماته خپله وينه هم راکړي وه، تر بايسکله رالويدلی وم او ډير ټپي سوی وم. د دواړو وينه ديوه ګروپ ده. د دوی به کور کي نا ست وو. ده يو قسم ترسترګو لاندي راته کتل او خندل يې او تر هري

جملي وروسته به يې راته ويل، پوه سوي لا لا ؟ پوه سوي لالا ؟

پوه سوم، څنګه نه پو هيږم. خدای خبر په زړه کي څه وه او څه نخشه يې راته ايستل، توبه توبه...تو به....

هغه ورځ مي بيا نادر زما خپل صنفي وليدی، دواړه دوولس کاله پر يوه چوکي سره کښينستو، ډير ښه هلک و. څوک څه پوه سي، څنګه مي ونه پيژندی. مشرانو ښه ويلي دي (( چي دانسان پيژندل اسانه کارنه دی )). دا چي پس له کلو مو سره ليدل، دغيږی روغ بړ مو سره وکړ، يو وخت متو جه سوم چي په غيږ کي مي کښيکاږي. يو واري يې هم دمځکي پورته کړم، ويې څرخولم. چيغه مي کړه باندي:

ایله، ایله مي که، غواړي چي راغوځار مى کړي، چي غاړه مي ماته سي، نه... مالومداره دا مي په زړه کي وويل.
پوه سوم چي په زړه کي يې کوم پلان دی !
ښځه مي تبرکو در يادوم. دا نه ګوري داخو دقابلي پلو استاده ده، هغه ورځ يې هم قابلي پخه کړي وه، همداسي قابلي هم وه. اوهمدا شله ګي يې کوله: جان آغا وخوره. ومي ويل ولا که يې را باندي وخوري، بيا رانه پو ښتي هم، ولي يې نه خوري، خوند يې درنکړ؟
نه رايې نکړ، مزه يې يو رقم وه، مالګينه يا...خدای خبر څه شي ورسره ګډ کړي وه، چي دونه يې راته ويل، وخوره وخوره. زه خو پوه سوی وم. که څه هم ډير وږی وم اوبوی هم ليونی کړی وم، ولي ځان مي خطا يستی، ليونی خو نه وم، که يې مرګ موش ورسره ګډ کړی وي، ځکه چي دبيسوادي دی کورخراب سي، د بدبختي په کورکي کوم کمپوډرهم نه ووتير سوی. کيدای سي مرګ موش ځيني زيات سوي وي، بيا به مي څه کول. ومي ويل:
نه زويه دلوږي مړ سه، خو احتياط. په ښځو کله اعتبار دی.
دا زموږ ګاونډی، کريم جان درپادوم. مسکين ښايي، چي ميږی هم تر پښو لا ندي نه وي ازار سوی، داهم راته بلا سو. او خدايه ! هغه ورځ راته وايي:

وطنداره موږ او تاسي خو ديوه وطن يو ، يو لغت مغت يي هم په هواکاوه، هو نو ، موږ خو سره وروڼه يو دخدای حق دګاونډي حق،که موکوم څه په کاروي، راته ووایاست، مه شرمیږی...

(هیڅ شی په کار نه دی، خرخونه یم، نه درته وایم )...

سترګي يي يو ډول بريښيدي، خبره ځيني کشيده، و مي ويل:

کله دي په دي خبرو خطا وزم..دکومه سړی پوه سي، چي همدي سړي دي ګور نه وي کيندلی، خدای خبر چي په خيرن زړه کي يي څه درلوده...

اوس بیله هغه هم نه پرګاونډي او نه هم پر وطندار اعتبار سته.

نه ! ښه تره ده، چي خپل احتیاط وکړم. دهمدي خط دار ه کالوسره او تر همدي پنجرو تر شاه به يي سيل کوم، لاس مو خلاص....

...داعقلي اوعصبی سرويس دی. لاسونه اوپښي مي يې ټينګ تړلي دي...نه پوهيږم چي ولي يې داکارکړی دی. خواران بیریږي به، چي دایوځنځیري لیونی دی، چي پر ځان

کومه بلا را نه ولم او د بشر حقوق پایماله نسي...دو ي پو هیږي، چي زه د بشر د حقوقو سرسخته طرفداره یم، زه متمدن یم. زه دیوه دوآتشه حزبي او تنظیمي په صفت، د بشر د حقوقو د اعلامیې پربنیاد د نراو ښځي د حقوقو پلوی یم...

... نور نوزما او ستا حقوق مساوي دي تراوسه پوري زما وار و اوس نو ستا وار دی.

دي په نا باوری راته کتل، هیڅ یې و نه ویل...

ما په دي فکر، چي د دی دا بي با وري ورکه کړم په انقلابی هیجان وویل:

ـ داکار زموږ پلرونو اونیکونوهم کړی دی، نه دي دي اوریدلي، چي ویلي یې دي: کله وار د اباوي کله وار د ادي، اوبیله دي له اسلامي پلوه هم داکار ضروري دی، ځکه اوریدلي به دي وي: چي هغه څه چي د ځان لپاره خوښوي د نورولپاره به هم خوښوي. اوته چي زماتر څنګ د دووپښو درلودونکي یې، بایدچي ستا لپاره یې هم خوښ کړم، بیا اوس زه یو متمدن سړی یم، نوباید داکار ترسره سي باید ستا حقوق پرځای کړم...

ښځي مي په هغه بي باوري راته کتل. دا هم لکه چي را پوه سوي وه، چي د اخبري خوزما نه دي، حتمن بل چا راته ویلي دي. خوما په دي خاطرچي دا ډاډه کړم، ورته وویل:

ـ داسي مه راته ګوره...دایو حقیقت دی راځه نور نو ستاوار دی...

ولی دانه حاضریده او ویل یې:

او د صبرو پلاره زه ګناهکاره کیږم، څنګه دا کار وکړم.

خوما له ځانه سره پتیلي وه ، چي حقوق یې باید پرځای کړم اوخپله انساني، اسلامي،او انقلابي...دنده تر سره کړم. او دبلي خوا دیوه ماجرا غوښتونکي چا په صفت ترټولو نه زیات دا هم راته په زړه پوري وه، چي دا دنیا دلاندي خوا څخه هم ووینم، چي دایې بیاڅنګه خوند کوي. لنډه داچي په زوره مي ورباندي ومنل...

اوس خوشحاله یم چي له یوی خوامي دیوه مدرن او دمتمدني دنیا انسان په صفت او دبشر دحقوقو دیوه سر سخته پلوي په صفت خپله انساني دنده ترسره کړه او دبلي خوا کرار پروت یم بیله دي، چي پرځان زحمت را ولم د ژونده څخه خوند اخلم. پښیمانه هم نه یم. خویوشی چي له یو څو ورځو را هیسي یې لږ غوندي پریشانه کړي یم اوچورت یې را خراب کړی دی، دا خیټه می یو څه راپورته سویده... خدای دي خیرکړي چي په کومه بلامی ځان نه وي اخته کړی...چاره نسته دیوه متمدن سړي په صفت باید.باید ،...انتظار وباسم. ولی بیا به هم له چاسره خبری ونه کړم، اوهیڅ شی به هم ونه خورم. پریږدم یی نه،

ګوندي چي خدای او پیران زما دحاله خبرسی. زړه یې راباندي وسوځي.

آخدایه ته راباندی روښنایي کړي. دا فرنګیان ډیر مهربانه خلک دي...خو رښتیا داد، چی یوڅه په سُرنه دي داسي کارونه کوي، چي سړی حیرت ورته پا ته سي. کله کله کونه دپرتوګ سره په جنګ اچوي، نه یې پریږدي.

... توبه! بیکاره پا ته دي، که څه بلا! اول خو مو هیڅ هم ونه ویل، دا چي دا زموږ دښځو څخه یې جارو له لاسه واخیست او یو اوږد شی لکه دفیل خرطوم په لاس ورکړ. دي بلاته به چي هر څه په خوله ورتله، تر ستوني به یې تیر ول. ټولي غالی را پکي کړي...و مي ویل خیر دی، بد نیت نه لري دا خاوري او دوړي بیله هغه هم دهیڅ چالپاره ښه نه دي او بیا ښځي چي په خاورو لړلي

وي د هیڅ چا په درد نه خوري.

بله ورځ یې بیا طاقت ونه سو دکالو مینځلو د تغاري پرځای یې یو بیلر ورته کښیښود. ښځي بیله دي چي کالي ومښي او صابون ووهي، صابون به یې دکالو سره ور واچاول، خپله به یې مینځل، وچول او دباندي به یې را غورځول....

بیا مي وویل څه خیردی، دا ښځي هم دخدای بندګان دی، څومره کالي پریمینځي.

دا چي موږ بیا څه ونه ویل، دا خلک نور هم تشویق سول. ولاړه او هغه څه چي دښځو سره ښه ایسیده او دښځو ګاڼه وه، د ډوډی پخول او دیګ او کاسه هم ځیني واخستل. دا واریي بیا رنګارنګ پیاوي او غورمي په سرو او زرغونو کو تیو کي ورته وا چولي، همدا چي وږي به سوي دیوه دوو سر به یې خلاص کړ، کله یخ او کله به یې تاوده نوش جانول.

دي کار دا ښځي نوري هم عاطلي او باطلي کړي. ښځي معلومداره چي خو شحاله سوي داپه دي خاطر چي دغیبت او خرید لپاره یې زیات وخت پیدا کړ. ولي موږ نارینه په دي پوه سوو، چي ددي کار پایله ښه نه ده. ناري مو کړي:

د خدای په لحاظ دا زموږ ښځي مه را نه اخلی، پریږدی چي دیګ او کاسه وکړي، پریږدی، چي اتو وکړي، پریږدی .... ولي چا د یک ګوروان خبره اوریده.... !

مجبوره سوو، مخ مو و ښځوته را واړاوه او په عذرمو ورته وویل، چي مه پریږدی چي دا فرنګیان ستاسو په کارو کي تر دي اندازي تشبث وکړي، داخلک په پوست پاک نه دي... ولي دوی چیری اوریدل، خدای ورکړی وه، او ویل به یې، چي ښه کوي، په تاسو یې څه !

پو هیږی ان چي لاس یې ور سره یوکړ. او دا دخدایه بیزاره خلک نور هم شیرک سول...

پو هیږي، توبه !!! غوږ دي را نژدي کړه. چي ثوک یې وا نه وري: هغه ورځ یوه راته وویل چي اوس یې یو ډول مصاله یې ښایسته ښځې جوړي کړي دي، چي پمپ یا پوف کیږي، ډیر فرمان برداره دي، ژبه، چغلي او خرید هم نه کوي....

باورمي نه راتی، ځنګه امکان لري چي ښځه دي وي ژبوري دي نه وي.

ځیني ومي پو ښتل:

که چیري ژبه اولچري زده کړي، بیا ؟

هغه خپل ژړ او چنجن غا ښونه را ښکاره کړل او راته ویې ویل:

وارخطا کیږه مه، همدا سي چي درته و مي ویل. ددي غم یې هم خوړلی دی، همدا چي خوله خلاصه کړي، کرار یې هوا وباسه، کت یې کړه او تر سریې لا ندي کړه.

خدایه! تا ته مو د لعین شیطانه پناه در وړي ده، زموږ هردم شهیدانو له لاسه څه پوره دي. آزادي ده....څوک چاته څه نسي ویلای.

ولي زه ځنګه با ور کولای سم چي دا بیکاره فرنګیان به مو په همدي حالت پریږدي او دخپلو کارو نه به توبه

وکړي. څه ضمانت سته، اوس چي یې دښځوکارخلاص کړ، څنګه چي اور یدل کیږي، چې زموږ کیسه هم رامفته نکړي. او په همدي پلا ستیک با زیو او کنسرو کاریوکي، زموږ نموني هم جوړي کړي.

ای کا شکي مي دواړه غوږونه کاڼه وای او نه مي وای اور یدلي، یوه راته وویل، چي په تلویزیون کي یې ښکاره کړه، چي جوړ کړي یې دي. شک هم نه لرم که تر اوسه یې لا نه وي جوړ کړي، جوړه وي یې.

خدای دي وکړي چي دروا غ وي. زه خو نه یم خبر، چي اوس پر ما نسي.... الهي ته خو یې ویني، چي نه ما ویلي دي او نه هم لیدلی دي. په ما یې څه غرض، زه خو بیګناه یم ....

...نو او س تاسو خپله وواياست ایا دا کار د کړو وو، چي دیوه مسلمان، با تربیه سړي لکه زما عکس په اخبار کي چاپ کړي، هغه هم رنګه، بي ستره دا که زما ماندینه ووینې، که زما اولا دونه یې ووینې دا بي آبي او بي عزتي به تر ابده را پاته وي. په کومو سترګو به خپلو اولا دوته ګورم، ملت ته به ګورم.... شکر چي ښځه مي اخبار نه نسي لو ستی. هغه د بیسوادی کورس، شکر، چي تر پایه ونه رسوی، هغه مي پرده کړي سو !

نه ! ورښيي يې، اوس ټوله دښمنان دي، يوازي تربوران نه دي... دا به هم يو نوم را باندی کښيږدی ، کښيږدی ...لاس يې خلاص ،

ووايم ،که ونه وايم، که وي که نه وي، که وکړی که يې ونه کړی ... يو نوم خو درباندی ايږدی ، پر ښو ښو، خلکو دی نوم ... ايښی دی، ديوچا نوم را واخلی چي په ښه نامه مو ياد کړی وي. او وياړ مو پر کړی وي. دا زموږ اوتاسي مرض دی، دا ډيره احترامه څخه دی زه خوعادي سړی يم.

پرښوښو خلکو يې نوم ايښی دی....

راځه ليري به نه ځو په دي ورستيو کلوکي، هغه چاچي زموږ ملي حاکميت تمثيل کړی دی، داچي څوک څوک وه څه يې کړي دي، څه نه وايم، داچي موږ څنګه خپل دين ادا کړی دی:

پرغازي امان الله خان مو دلاتي نوم کښيښود.

دملت او دين خادم حبيب الله ته يې دغله او داړه مار لقب ورکړ.

اعلحضرت نادرخان ته يې غدار ووايه.

پرظاهرشاه يې دپک نوم کښيښود.

سردار داودخان ته يې دليوني سردار نوم وباخښه.

دشرق نابغه تره کي يې امي وباله.

امين ته يې د قاتل لقب ورکړ.

پر بیوزلي کارمل یې د وطنفروش نوم کښیښود...
دا لاځه کوي پرځینو یې آن دحیوانانو نومونه ایښي دي، غویی، وزګړی، خر....
خوښ او سه زویه چي قدر سی.....
.... چامي پر وږه لاس کښیښود ، سرمی را پورته کړ، سترګی می ومښلی ،ګورم پولیس ، په لاس یې اشاره راته وکړه ،چي را ولاړسه، ولاړ سوم، کیلی یې را وایستل، لا سونه یې را خلاص کړه . ویل را ځه دي تر مخه زه په پسي سوم. بو یې تلم یوه بل غټ اتاق ته، چی ډیر رو ښنایی نه ورته راتله، څو کسه نور هم وه.
یو یي دیوه میز څنګ ته ناست دی او په دواړو لا سو پر میز تبله وهل او ورسره زمزمه کول یې....
... تخت او بخت مو برقرار مجاهدینو !
خدای نکړی...تاسو بیمار مجاهدینو !
که نه وای دا عالي قدره رهبران ،
موږ دلته نه درلود قرار مجاهدینو....
مخ مي ور واړاوه ور نژدی سوم .... او داخو وطندار دی، خوارکی. سترګي یي پټي وي او په ترنمی مارش یې ویل:
تر سترګو مي او ښکی راغلی، خوار لید هم دلاسه ورکړی وو. ترده تیر سوم....

.... او خدایه داځه وینم شیرآغا هم دلته؟ څنګه امکان لری... په یوه کنج کي ګنجلک ناست دی...نوم یې شیرآغا نه و. ولی مونږ له ډیره احترامه ورته شیرآغا ویل. پخوانه پو هیږم، چي څه کاریې کاوه، خو ډیرپوه سړی دی،

.... یوه ورځ دتیلفون زنګ راغی. غوږی مي پورته کړه. ږغ یي نیولی و، له لنډاحوال پوښتلو وروسته مي تري وپوښتل:

شیرآغا څه خبره ده؟ ولی مو ږغ داسی نیولی غوندي دی؟

آواز یي نور هم ونیول سو، ویی ویل:

که کوم کار نلری. اوپه کورکي یې ! دیوڅوشیبو لپاره درتلم...

ورته ومي ویل:

شیرآغا قدمونه موپرسترګو، ولی تاسو زحمت مه باسی زه پخپله درځم !...

یوساعت لانه ووتیر، چي شیرآغا مي ومخته ناست و او دچایو پیالهیې په لاس کی ریږدیدله...

پوښتنه مي ځینی وکړه:

شیرآغا ودي نه ویل، خیرت خو و؟

شیرآغا یو سوړ اسویلي ترخولی را وایست، ځان یې په چوکی کی سر وښوراوه اوراته لګیا سو:

څنګه درته ووایم، ته یو پوه ځوان یې. ښایي راباندی ونه خاندي. زړه مي چوي، بل چاته هم نسم ویلای. هرومرو را باندي خاندي او ملنډي به راباندي ووهي...

دیوي شیبي لپاره چپ سو، خپلي لندي سترګي یې په لاس ومښلي، بیله دي، چي راته وګوري، خپلې خبري یې اوږدي کړې:

...هیڅ وخت مي ځان دومره بي لاسه او پښو نه وحس کړی... او لکه موټر چي تیل بند کړي. څو واري یې شونډي وښوریدي ولي هیڅ یې هم ونسوای ویلای، په چوکی کي یې ځان سره وښوراوه او په ټیټ آوازیې بیا خپلو خبروته ادامه ورکړه...

... عجب یو احساس راته پیدا سویدی ! پوهیږی چي زړه مي څه غواړي؟... زړه مي غواړی چي یو څوک مي په فرزندي ومني !!!

بیا یې یو څه مکث وکړ او منتظر سو، چي زه څه غبرګون ښکاره کوم... ماته هم اول خندا راغله، ولی بیله دي چي شیرآغا متوجه سي، جدی مي ورته وویل:

هرومرو ټوکي کوی؟...

شیرآغا ډیر جدي جواب راکړ:

- نه باور وکه، چي هیڅ ټوکي نه کوم، رښتیا خبره مي درته وکړه. په اول کي مي سترګو بیله دینه چي زما په واک

کي وي، دخلکو ترپښو لاندي او دلارو څنډي لټولی. دا په دي خاطر نه وو، چي ګواکي دخلکو سترګوته مي دکتو جرئت نه درلود. زړه مي راته ویل چي ګوندي وي پیسي، یا د سرو او سپینو ګوتمی دخلکو ترپښو لاندي پرته وي. ولی زما له بده

بخته هرځه مي چي پلټل، دسګرټوله نیم سوخته و، دکیلوله پوستکو او دپلاستیکي زړو کڅوړونه مي بل شی نه تر سترګو کیدل. کله به مي یو یا دوه پولۍ په سترګو سوه. خو هیڅکله مي غیرت اجازه نه راکوله چي لاس ور اوږد کړم او را وایي خلم... وروسته بیا دامرض را پیدا سو، چي کله به مي سترګی پر یوه ښایسته موټړ ولګیدي او یا به دکوم ښکلي کور ترڅنګ تیرسوم، اوږدي شیبی به مي خوله خلاصه پاته وه او انتظار به مي ایست چي دموټړ څښتن دموټړه راکښته سي او دموټړ کیلیاني په دوارو لاسونو راته تقدیم کړي او په لوړ آواز راته ووایې: داموټړیې ستا یا دکور خاوند راته ووایي: مهربانی وکړی دا کور ستا دی... ډیري شپي او ورځي تیري سوي ولي هیڅ چا داکار ونه کړ...

اوس مي بیا دځو ورځو راهیسي زړه غواړي، چي څوک مي په فرزندۍ قبول کړي او داسي احساس راته پیدا دی

چي ديوه وفاداره زوی په ښير به دزړه له کومي خدمت ورته کوم....

... شيرآغا لکه، چي اول ونه پيژندم، مشکله هم وه، ددي کالو سره. سر او وضع می نه وه سمه، ږيره می هم رسيدلي وه ښنګ ته يي کښينستم ولي دستی يې داوښکو ډکی سترګی وبرښيدی، او په لړزيدلي اوازيې رانه وپوښتل:
دلته څه کوي؟
زما په سترګوکي هم، دده په ليدو او ښکي را ټولي سوي، کرار مي ورته وويل:
قسمت اونصيب و، تاسو دلته څه کوی شير آغا ؟؟؟
سر يې راته وښوروی...
....دا اتاق يې لکه چی يوازي موږ غوندي افغانانو لپاره په نظر کي نيولی و. يو بل چي سپين کالی يې اغو ستي وي په چټکی را نژدي سو اعصاب يې هم خراب و، زما و دشير اغا ومخته و دريدی:
ـ دا موږ ولی داسی خراب خلک يو؟ ته راته ووايه، ته راته ووايه....
په خندا ومي پوښتی: ولي، خراب خلک يو؟ سم ستره خلک يو، شکر پنځه زره کلن تاريخ لرو، دکلتور خاوندان يو له پلاره اونيکه نه تور زن يو...

ده په داسي حال کي چي بدبد راته کتل، وویل:
ستا هم لکه چي ماغزه په سرکي نسته.. زه څه وایم او ته څه وايي...
مخ يې شيرآغاته ور واړاوه، ته راته ووايه، دی نه پوهيږي...
ژربې په خبره کي ورولويدم: رښتيا هيرمي سول: جګه ونه، پلنی وږي ،تور وريښتان، بادامي سترګي...
ده سر وښوراوه: لانت دی وی پرموږ، کاشکي خدای هيڅ نه وای پيدا کړي...
ما ورته وويل، چي ولي ! څه سويدي؟
ده راته وويل: نورنه څه وسي، ولی پرهر چا نومونه ايږدو.
خندا راغله، چا داکار کړی دی؟
ـ چا ! نورنو څوک ؟ همدا خپلو خلکو...
په خندا مي بيا ځيني وپوښتل:
ـ ته راته ووايه، چي پوه سم. څنګه نوم يې درباندي ايښی دی؟
دی هم په خندا سو: يوازي يې پرما نه دي ايښی، پر ټولو يي ايشي دي پرتايې هم ايښي دی ! پر تا يې هم ايشی دی...
ـ ډيره جالبه ده ته راته ووايه چي څه نوم يې راباندي ايښي دی؟
ـ بي غيرت...

په خندا مي ورته، وويل: دا خو ښه نوم دی، همداسي خوده، خدای دي خير ورکړي، پرتايې څه نوم ايښي دی؟
- ماته وايې ته بی فرهنګه يې
- ډير عالي بد نه دی، مقصد مې دادی چې را سره...دانوڅه اعصاب خرابي غواړي... پر هغه يې څه نو م آيښی دی وطن دار مې ور وښود ،.... وطندار لا هغسی خپل مارش په اواز زمزمه کاوه

زاړه مو نه دی خوښ، د ورځی يو په نرخ
معيار مو تمدن، له کاروانه سره مخ
نوي شيان مو دي ايمان، انقلابيان يو منقلب

ده ورته وکتل، پزه يې پخپله سپينه اوږده لمن پاکه کړه:
هغغغغغه بی سُره دی، نه؟
دادی اصله خبره تا خپله وکړه که مو کلتور درلودلای، که مو غيرت درلودلای که مو سُر درلودلای اوس به مو دا ورځ نه وای، را ځه خوا مه بدوه ، اعصاب دی مه خرابوه ....
ده دغسی په خلاصو سترګو ځير ځير را کتل ... يو وار يې تندی تريو سو ، پښه يې په زوره په مځکه ووهل يو څرخ يې وخوړی: زه بی غيرته نه يم، زه بی کلتوره نه يم، نه يم، نه يم درواغ وايې... درواغ غ غ غ...
اوبيرته ولاړ په هغه کنج کی ودريدی.

شیر آغا ځیر ځیر په ستر ګوکي راته کتل.... ستر ګی یې سری وی او کرار یې سر را نژدی کړ:

پر تا مي نه پیرزو کیږي، چي دلته و اوسي....
وطندار لا په احساساتو خپله غزل زمزمه کول:
تغییر وو، خپل نوم او ځان. په آرامی کی په تکلیف.
شغلی یې تر اسمانه، ګذاره ده په کښبی ګرانه
دموږه دی وتلی، دلاسه څخه تللی، سکلیټ یی دی پاشلی.
دجوړیدو نه دی داکور، وراچوو موږ اور،
بیزاره یو د ورور، نوم به یې کړو نور.....

## شپاړسمه برخه
### بیا

....دوړاه ښنګ پرښنګ سره نا ست و. دواړه پخپلو چرتونو کې ډوب وو.کرار مې مخ ور ته را واړاوه اوتر خولې مې ورته را ووتل:

اخر به یې ښنګه سي؟

ده همداسې سر کښته اچولی و. هیڅ حرکت یې ونه کړ، لکه چې وا یې نه وریدل.

دا وار مې اواز لوړ کړ:

اوس دا اخر به یې ښنګه سي؟

بیا یې هم مخ راوانه ړاوه. دا وار یې سترګې دوه درې واره ژر ژر ورپولې، شونډې یې سره را ټولې کړې، ولې بیا یې هم څه تر خولې را ونه وتل... ساده خبره هم نه وه، چې دا سې یوې پوښتنې ته بیله فکره جواب را کړي.

له ځانه سره مې وویل، چې دی باید یو څه راته ووایي، ولې هر څه چې مې انتظار وکیښ بیا یې هم جواب را نکړ. حتمن یې غوږونه درانه وه، چې وا یې نه وریدل.

زړه مې طاقت ونه کړ، ومې ویل، چې دی باید پوه یې او زما دزړه دتسلا لپاره باید یوڅه ووایي. اخر دی په ټولو خبرو خبر دی، بیا یو جمهور رئیس دی.
دا واري مې په زوره ور باندې چیغه کړه:
اخر.. به یې...څنګه سي؟
«کرزی» لا هغه سي په چرت کې و. ولې کرار کرار یې سر را پورته کړ، مخ یې را واړاوه. زړه مې خوشحاله سو چې ځه دا واري یې واوریدل. اوس به حتمن به یوڅه راته ووایي، زړه به مې را خوشحاله کړي.
څوشیبې یې همداسې په سترګو کې ځیر ځیر را ته وکتل. شونډې یې په ژبه لندې کړې، کرار یې سر رانژدې کړ او په نیولې ږغ یې راته وویل:
اخر به یې څنګه سي؟
....یو چا پر ووږه ټپ ټپ کړم. سر مې را پورته کړ، سترګې مې ومښلې ومې لیدی، پولیس و. په لاس یې اشاره راته وکړه، چې ولاړ سه. ولاړ سوم. کلې یې را وایستل لاسونه یې را خلاص کړل، ویل: راځه.
که څه هم تراوسه، چا زما احوال نه دی اخیستی، خو زما دلور معلم، چې زما کوچنې لور نازیته وظیفه ور کړې وه چې یوه افغان رسم کړي... او څو واري مکتب ته هم ور غلې وم او زما رسم یې هم په یاد و، زما دعکس په لیدو

په اخبارکې شکي سويده، زما دلور څخه يې پو ښتنه کړېده، چې پلا دي چېرې دی؟ کنه نو زما د ورکيدو څخه هيڅ چاته سوال هم نه و پيدا سوی، چې داڅه سو، نو پوليس ته تليفون کړيدی.

ددی ځايه يې هم رخصت کړم، هم بوره هم بدنامه.

دکورو خواته روان يم...داسې مې فکر کاوه ، چې ډيرې ورځې تيرې سوې دي، چې خپل اولادونه مې نه دي ليدلي، ډير مې زړه غوښتل، چې ژر کور ته ځان ور سوم او مخکې له دينه، چې بيده سي په مړو ستر ګو ووينم. له ځانه سره مې ويل چې خدای خبر هغه خوارکيان به څومره را پسې ديغ سوي يي. دويته مې ويلی هم نه وه... فکر مې کاوه چې رنګونه مې يې هيرسوي دي او پخپل ذهن کې مې بيا وبيا انځورول. ښا يې عادی خبره به وه، هر پلار دپخپل اولاد پسې ديغيږي.

.... د درد وازي زنګ مې کښيکښود همدا چې در وازه خلاصه کړي او ووايې پلاره او دستي په غيږکې ونيسم او پر دواړو باړخو ګانو يې مچ کړم... څو ګړی تيرې سوې خو چا در وازه را خلا صه نکړه، دا وارې مې پر زنګ يوڅه د اوږ دي مودې لپاره ګوته ونيول...بيا هم څه وخت تير سو او دروازه چا راته خلا صه نکړه... شيطانه کوردي وران، په زړه

کي يې شل راز خبري را اچولي، چي چا نوي وژلي، برق نه يې نيولي... ژر به مي توبه وايستل حتمن به يې موزيک لوړ کړی وي، ځکه زما د سنجر او صبرو موزيک ډير خوښ دی، جهانګير او نازنينه به بيده يې، نوځکه به زنګ نه اوري... بله چاره مي نه در لودل بايد انتظار مي ايستلی وای.... يو وخت مي دروازه ټيله کړه، خلاصه وه، غوږونه مي څلور کړه، ږغ يې را تی. دکور دروازه مي يو څه په زوره وتړل ما ويل چي دروازي کړپ واوري نو حتمي به را منډه کړي، چي بابا را غی. ودريدم، خو بيا هم دچادرک نسو، بو ټونه مي ويستل. په زوره مي وټوخل، ... ونسوه، د نا ستي دکوټي دروازه مي خلاصه کړه، د دردوازي په خوله کي په دا سي حال کي چي خوله مي تر غوږو خلاصه وه، ځان مي ټيټ کړ او د را سته لاس دشهادت ګوته مي و پړسيدلي باړخو ته و نيول ترڅوهر يو چي يې را ووزي او پر مخ مي مچ کړي او زه يې په دواړو لاسو له مځکي را پورته کړم.... ولي هيڅ ثوک را ونه وتل او چا اعتنا هم ونکړه، ان چا راته و هم نه کتل. همداسي دتلويزيون په ننداره بوخت وه. زما د سترګو نينکو نو په څه چټکي ددوی په منځ کي په حرکت کي وه يوار به مي يوه او بيا بل ته کتل. دوی لکه چي زه نه ليدلم، له ځايه هم ونه ښوريدل. فکر وکړ چي زما دعاوو او زاريو دخلق الله دستر ګو پاک کړی يم يا

دجا دوګري خولۍ خو مي هم پر سرنه وه چي څوک مي نه ويني. ولي د تبرکو ږغ چي د ژاولو دژو ولو ترک ترک يې له ليرينه اور يدل کيده، زما سوالونه جواب کړل، چي تر اوسه لا دليدويم او تر اوسه لا نه يم دود او باروت سوی، ددي سترګي، چي هم په تلويزيون کي ښخي وي بيله دی، چی مخ را واړوی، په کنايه رانه و پوښتل:

راغلي؟

څو ګړی همدا سي بی معنا ولاړ وم هيڅ څوک مي په کيسه کي نسول، نه چا په غيږ کي ځان را واچاوه. نه چا سلام را وا چوي او نه خوشحاله سوه. په دي خاطر، چي ځان مي له لا سه نه وي ور کړی نوپه شپيلک وهلو مي شروع وکړه. لا شپيلک وهل مي نه و په سور سوي، چي دسنجر اوصبرو په يوه اواز راباندي ږغ کړه: لايزي( چپ، کونه يي که)

.... رسی چي مي دخوب دکوټي د چت څخه را زړولي وه، ښه کش کړه، چي سسته نه وي. همدا، چی ډاډه سوم چي زور مي اختسلای سي، پر چوکی پورته سوم. رسی مي په غاړه کي واچول. بله چاره مي نه درلودل؟مجبوره وم داکارمي بايد کړی وای، نور نو څوک ماته اړ نه وه.... ولي بيا هم په دي خاطر، چي ځان ډاده کړم، داتصميم مي د دوستانو ا و اهل بيت سره مطرح کړ... ويل مي نه ويل

کیږي، ښايي يو څوک به ضرورت راته لري، چي دين داره د دنيا ولاړ نسم...

اول ولاړم دټولنيزو خدمتونو و شعبه ته، چي زموږ مصارف يې راکول، ورته ومي ويل:

ـ محترمو دوستانو، زه غواړم خپل ژوند ته خاتمه ورکړم، څه نظر لرى ؟

په جواب کي يې راته وويل:

نظر مو ډير په زړه پوري دي. محترم فاميل مو هم له ځانه سره بيا ياست؟

ومي ويل: عجالتن نه !

ويې ويل: ښه خير دى. دايو مفت خوره هم چي باريې زموږ د اوږو څخه کم سي غنيمت دى...

را ووتم.

په لار کي ديوه بل هم وطن سره مخامخ سوم ...که څه هم لازمه نه و، چي خپل راز ورته وسپړم، پوهيدم چي خوشحاله کيږي. ولي بيا مي هم په فکرکي را وګرځيدل، کيږي ضرورت راته ولري، آخر وطندار مي دى:

ـ غواړم ځان له منځه يوسم...

دخولي لاستيکونه سره کش سول، ولي ژړيې څهره غمګينه کړه:

ـ ولي؟

او بیله دیچي، جواب ته منتظره سي، ادامه ورکړه:
دا خو ډیر ښه کار دی شاباس، شاباس تر دي ژونده، مرګ ښه دی...
کراریې خوله غوږته را نژدي کړه:
ـ هغه پاسپورت دي... بیله هغه هلته نه پکاریږي، ما ویل که یې راکړي، زه به یې فوتو چنج کړم...
ده خو بیا غو ښته چي بیخي مي نوم ونښان دمځي له مخي ورک کړي...
مشر زویته مي ورغلم، ورته ومي ویل:
ـ زوی جانه غواړم ځان ووژنم...
اول خو پوه نسو، چي ځان وژنه څه ته وایي، کله چي مي ورته تشریح کړه؛ چي داسي رسی په غاړه کي اچوم، سترګي به مي دسر دکاسو څخه را ووزي اوسر به مي یوي خواته کوږ سي او ژبه مي هم ترخولي نیم متر را ووزي...
په خوښی راته وویل:
ـ اورا ! !... ډیر ښه فکر دی کړیدی، نور به نو څوک مزاهم نه وي، چي راته ووایي، چي څه وکړم څه ونکړم....
ـ هو همداسي ده زویه، ددي خبرو به خلاص سم !
او پلاره ته څنګه ښه یې....

وروستی امید مي کوچنی لور نازنینه وه، ومي ويل کيږي چي دا ضرورت راته ولري.. کله چي مي ورته وويل، یو څه په فکر کي ولاړه، وي ویل:

ـ بیا به چاکلیټ څوک را ته راوړي...

زړه مي خوشحاله سو، چي ځه تر اوسه لا څوک سته چي ماته ضرورت لري او نه غواړي، چي د منځه ولاړ سم، مور یي د اشپز خاني څخه پر را ږغ کړه:

ـ بیا یې زه درته راوړم، وارخطا کیږه مه...

لور مي هم راضي سوه، وي ویل:

ـ ښه سمه ده ...

بل داسي څوک نه و پاته سوی، غو ښته مي چوکی چي تر پښومي لاندي وه وغورځوم، چي د تبرکو ږغ مي تر غوږو سو:

ـ څه سولي اوګُرګُري تراوسه لا ژوندی یې؟ که ولاړي دخيره؟!

دځانه سره مي وویل: مخکي له دي چي راسي باید ژر تاسم... که را غله په خدای، چي چوکی خو دستي زما د پښولاندي ایسته کړي...په وارخطا یې مي د دار رسی دغاړي څخه و ایسته....

.... په ما څه سویدي، نن چي دخوبه را کښینستم، ټوله ځان مي پښي سوی و یا ښه تره ده چي ووایم سر سوی و.

یو بل شی راڅخه جوړ سوی و، ګیلیدم لکه یوه مرختیانه، لکه یو توپ، لکه یوه مردکه. سر او بیخ مي نه و معلوم ، که چا مازي ډکه راکړي وای لغړیدم. هر چیري، چي یې ایښي وای معلوم نه وو چي سر مي دي که بیخ، دریدم او دهغه څه مي دپښو استفاده کول. هره خوا چي به مي پورته وه، فکر مي کاوه چي سر مي دی.

همدا چي یوه دبوټ په څوکه ډکه راکړه، په لغړیدو سوم.

ډیر وار خطا وم، چي اوس دکوم دیوال یا دکومي مرداری وخواته ولاړ نسم، ځکه کوم برک ـ مرک مي نه درلود ، که مي درلودلي هم وي، دکاره به لویدلی وي، ځکه داسي کومه برجستګي مرجستګي مي په ځان کي نه معلومیده، چي چیري بنده سوی وای او دلغړیدو مخه یې نیولي وای.

لا یوه دوي کوڅي نوم تللي، چي یوه بله ګردی ما غوندي دپورته کوڅي له خوا په را لغړیدو وه. دخوښی یو هورا مي تر کومه ځایه را ووته. دابله ګردی هم زما وڅنګ ته را ورسیده. دواړه په یو رقم لغړیدو، بیله دملا دقطره یې، چي کوچنی و او د وتر فاصله یې تر بهرني قشره، چي کمه وه. رنګ هغه رنګ او مواد هم یو مواد وه.

په داسي حال کي، چي زړه مي قوت اخستی، و مي لیدل چي دلا ندي کو څو څخه هم څو سري او زرغوني....ګردی په ګیلیدو وي. شکرمي وایستی، چي زموږ تعداد په زیا تیدو وو.

هر څه چي دښار مرکز ته نژدي کیدو زموږ غوندي دنورو ګردیو تعداد هم زیاتیدی. یو وخت متوجه سوم، چي ټوله ښارګردی سوی و لکه موږ لغړیدل. ټوله ښار درنګارنګ ګردیوسره رنګین سوی و. هغو هم ما غوندي برک نه درلود او سر او بیخ یې نه و معلوم.

دلغړیدو څخه سر شار همداسي لغړیدم، بم! دیوه شي سره ومو ښتم، آخ او وای د دواړو خواوو څخه واوریدل سو. یو ځاي مي درز وکړ، پوه نه سوم، چي کوم ځای مي و، ډیر خوږ سوم. یو غور ږغ مي تر غوږو سو:

ـ څه کوي بر خورداره، لکه چي سترګي نه لري؟ چي د بیعقلا نو غوندي دي سر کښته اچولی دی، نه ګوري چي اغزن سیم دي !!! او موږ ټوله ولاړ یو.

مخ مي را وګرځوی، درواغ د ایمان زوال دی، مخ خو مي نه درلود، مقصد ومي لیدل چي یوه ډیره غټه ګردی، ښه پړسیدلي لاس تر ملا ترمخه راته ولاړه ده، ملا خو مي و نه لیده... اول خو ډیر وبیریدم، ومي لیدل چي هغه هم دلاسو نه لنډه ده، خندا راغله، ومي ویل:

ـ بخشنه دي وي  باداره سترګي لرم، نه ګوري چي نوکر مو  ستا سو غوندي، خپل اختيار نه لري، ګردی يم....

اول وار و ، چي ومي ليدل، چي ډيري غټې ګردی هم سته. د دي دونو کلولو په ليدو مي خوله،  نه پو هيږم چي کوم ځاي مي و خلاص پاته و. د اغزن سيم ها خوا هم ځو نوري غټې او ښايسته ګردی ليدل کيدي.

....همدا چي له خوبه راپورته سوم،  سترګي مې پړسيدلي وي اوشونډې مې ريږديدلې. ځرګنديده چي نا آرامه شپه مې تيره کړيده.

په بيړه رانژدي سو اودخوب کوټ يي مخيته راته ونيوي. اوپه مينه يي راته وويل:

ـ سهار موپه خير، هيله منديم چي آرام خوب موکړی وي؟

ما وموسل او سرمې وښوراوه.

کله چي مې په تشناب کي پرځان اوبه واچولي اوږيره مې وخريله،  تربارۍ خويي کش کړم اوپه خندا يي راته وويل:

ـ خدای ځه ښکلی مخ او ويښتان درکړيدي !

اوکله چي له تشنابه راووتم،  په داسي حال کي، چي کرار کرار يي په ورغوي د اوږو منځ رامښي، راته وويل:

ـ نام خدا ځه کلک بدن !

اوهمدا چي دريشي مې واغوستله، ده په داسي حال کي چي رنګ سوي بوټونه يې پښو ته راته ايښودل راته وويل:
ـ هرشي چي واغوندي، ښځګه ښه درسره ايسي، څه دنارينه ښکلی اندام، څه ښکلی مخ او ويښتان!
درضايت نه ډکه موسکامې پرشونډو راخپره سوه، خپلي زره بيني عينکي مې پرسترګو کړي، خپل څوتاره ويښتان مې پورته ږمونځ کړه. اوبيامې د ږمونځ په څوکه څو تاره ځيني راجلا کړه او پرګونجي تندي مې را پريستل.
له کوره چي ووتم، دزينو پر سرمې داخبار د اخستلو لپاره ځان ټيټ کړ، چي په دنيا کي څه تيريږي.
سملاسي يې زما لاس ونيوی، او راته ويې ويل:
ـ ليري يې وغورځوه، هيڅ حاجت نسته، چي ويې وايې. خپل ګران وخت ددي چټياتو په ويلومه ضايع کوه، هره خوا د زورخبري دي، بياهغه څه چي ستا زده دي، په کاغذوکي نسته. ستا علميت اوپوهه په کتابوکي نه ځاييږي.
که څه هم څوعکسونه مې يې ژرژر وکتل، خوبيله ديچي ويې وايم ومې مروړل او ومې غورځول...
همدا چي سړک ته راووتم، راته ويې ويل:ـ مځکه بايد منت داره وي، چي تاغوندي خلک قدم پرا يږدي.
د ديوالونودي ملاماته سي، چي ولي نه درته کږيږي....

ما خندل... همداچي وظيفي ته ورسيدم، راته ويي ويل:
ـ چرت مه وهه، شهزاده غوندي کښېنه. ته له نوروسره توپیرلري، پرېږده چي نورهم ناست وي....
د سلګونو، زرګونو نوروکسانو په منځ کي، چي د سړک دواړو خواوته ناست وو او لاسونه يې اوږده وه، ځای راته جوړکړ... ما شا وخوا وکتل، دنورو په ليدو مې سترګي وبرېښېدي.
کرار مې زنګونونه پرمځکه کښېښوول، اوښی لاس مې دنورو غوندي اوږد کړ...رانژدي سو او په ډېر احتياط، لکه کارپوهه عکاس، په دواړو لاسو يي زما سر ښی خواته کوږکړ او په غوږکي يي راته وويل:
ـ سر چي همداسي يو څه ښی خواته کوږ وي، ښه ايسي ځکه ته له نورو سره توپيرلري، ښه دی چي دخلکو زړه نورهم دړباني وسوځي...
ځان يي ټيټ کړ او دشهادت ګوته يي پرخاورو ولړل او پروچو شونډو يي رامښل:
اوس لاښه سو، په خاورولړلي شونډې نورهم دخلکو پام ځانته راګرځوي....
خپل د پزی دسمال يې هم زما ومخته وغوړاوه...
هوبله چاره يي نه درلوده، بايد همدغسي يي کړي وای، بل څه نه وه ورپاته، همدايو زه وم، دده دلاسه تللي پت

( آبرو ) ... باید د زړه قوت مې ورکړي وای، چې ترڅو د پښو ونه لویږي...کنه نو له لاسه وتي...

....هغه چا چې باید څه را کړي وای، را ورسیدی. ډیر عادي یې لاس وجیب ته کړ او د تورو پیسو یوډک موټ یې له جیبه را ویستی. په ډیر احتیاط سره یې د راسته لاس په دوو ګوتو څو ژړي سکې ځیني جلا کړي. ځان یې ټیټ کړ او پر زاړه ټوکر، چې پر مځکه هوار سوی و وا چولي. څو نورو هم دا کار دده تر مخه کړی و، ځکه چې څو نوري ژړي سکې هم هلته لیدل کیدي. ځان یې بیرته نیغ کړ او روان سو. لا یو دوه ګامه نه و تللی، و دریدی، مخ یې را وګرځاوه ، زما چې سترګی پټې وی اوترسترګولاندی مې دی څاری، پیسې چې یې راته اچولي وي یو توهین و، هیڅ رنغ مې پورته نسو، څه مې ویلی وای،ویلای مې نسو، چې ارومني دا هم داد و ، چې تا وکړ. ده فکر وکړ ،چې ښایې ړوند به یم او یا هم.... سړي خپل شا و خواته وکتل، په همدي ګړی کي چي ده پیسې وا چولي، بیله ما بل څوک هم نه و، چي دی ووینې. همداسي چرتي پرخپل ځای میخ سوی پاته سو... له ځانه سره یې فکر کاوه:

دا څنګه سو دده دا دخیر کار خو هیڅ چا ونه لیدی او نه هم د ړوند سوالګر له خولي څه را ووتل:

چي خدای دي خیر در کړي

او نه هم کوم دوست او دښمن ولیدل او نه هم کوم لاروي سر ورته وښو راوه، چي دده دا انسان دوستي دسترګو په حرکاتو تقدیر کړي، چي دزړه تسلا یې پري سوي وای.

همدا سي نا راضه ولاړ و، فکر یې کا وه چي داغټ کار چي یې تر سره کړ خو هیڅ چا ونه لیدی، دا نو څه ګټه یې وکړه، چي هیڅ څوک له هغه خبر هم نسو. زړه یې و، چي را وګرځي، ځان ټیټ کړي او خپل پیسي د زاړه ټوکره څخه بیرته واخلي او یا هم دا وار بیله دي چي ځان ټیټ کړي، پیسي په لاس کی را کړي او یا هم دلوړي څخه پر زاړه ټوکر وغورځوي ترڅو د پیسو د شرنګ څخه، زه بیده سوالګر را ویښ سم، اوکه ړوند یم د شرنګي په اوریدو دعا ور ته وکړم، چي (خدای دي یو په دنیا او سل په آخرت درکړي ) دغسی انتظار ولاړ و، ښایې دچا په انتظار به و ترڅو یو څوک پر خپل دي د خیر پر کارباندي شاهد وویني او دا کار یې تقدیر کړي.

ځان یې ټیت نه کړ او نه یې هم خپلي پیسي بیرته د مځکي له مخه را واخیستي، نری بي خونده موسکا پر وچو شونډو را خپره سوه. په همدي یې ځان راضي کړ، چي خدای خو په هر حال کي دخپلو بندګانو د اعمالو نا ظر دی او دا به یې حتمي لیدلي وي، چي ده یې پر یوه مسکین بد بخته بنده لوی احسان وکړ.

حتمن به يې خدای اجر، سل په دنيا اوسل په اخرت ورکړي او ښا يې هم دوه سوه فيصده ځکه چي دته به يې واره نه کوله. او په دي خاطر چي دا خبره شرعي کړي يو وار بيا لنډ ستر ګی و اسمان ته واړولي، ترژبی لاندي وويل:

ـ الهي ته کريم يې، ته رحيم يې. تا خو وليدل چي ما ستا په نامه دي بد بخته او دبي ژبي انسان سره مرسته وکړه، ته يې اجرونه را کړي، امين.

دا وار يې کوچني اوبلني ستر ګي هم وځليدي او هغه بي خونده موسکا يې لا پر شونډو خپره وه، چي ولاري ته سم سو.

دی هم خر را ووتی، فکر يې کاوه، چی بي ژبې يم او ړوند يم....

او پای

## دليکوال لنډ ژوندليک

عبدالوا حد نظري د ډ اکټر محمد امين نظري زوی په ۱۳۳۲ ل کال د کب دميا شتي په شپږمه د کندهار په ښار په يوه رو حاني کورنی کي ستر ګي پرا نستلي. پس له لومړ نيوزده کړو دکندهار په احمد شا هي دکا بل د مير ويس نيکه په متو سطه او د رحمن بابا په ليسه کي په ۱۳۵۲ ل کال د کابل پو هنتون د حقوقو او سياسي علومو پو هنځي ته بر يالی سو. په ۱۳۵۳ل کال د يوه تحصيلي بورس څخه په ګټه دلوړو زده کړو په نيت د سينما او تلويزيون د ډايرکټ په برخه کي د بلغاريا هيواد ته ستون سو.

په ۱۳۵۹ کال کی دماستری او په ۱۳۶۱ ل کال کي د دکتورا معادل ديپلوم په اخستلو سره هيواد ته را ستون سو.

د ۱۳۶۱ کال را هيسي د ډايرکټر په صفت لومړی په تلويزيون او بيا په افغان فلم کي په کاربوخت سو.

دکال ۱۳۶۴ ل تر ۱۳۶۸ ل دافغانفلم درئيس په صفت.

د ۱۳۶۲ ل تر۱۳۶۸ ل پوری دهنر مندانو داتحاديی درئيسه هيئت عضويت تر لاسه کړ.

د ۱۳۶۸ ل دهنرمندانو دټولنی دسينما دانجمن د رئيس بحيث اود ۱۳۶۴ څخه وروسته تر اوسه دکابل پو هنتون دهنرونو په پوهنځي که استاد په صفت وظيفه تر سره کوی او دلومړی ځل لپاره يی دسينما تدريس پيل کړ.

د ۱۳۸۵ ل څخه دآريانا تلويزيون درئيس په صفت د ۱۳۸۲ ل دشمشاد تلويزيون د ر ئيس په صفت او د ۱۳۸۷ الی ۱۳۸۹ پوری دملی راډيو ټلويزيون د عمومی رئيس به صفت او د ۱۳۹۰ ل کال څخه

را په دیخوا د مطبوعاتو او فرهنګ دعالی شورا د ریس او د اطلاعاتو او فرهنګ دوزارت د مشاور په توګه دنده تر سره کړیده.

وا حد نظري د هغه علا قي له مخي چي د تمثیل او هنر سره یې درلوده په ۱۳۴۴ ل کال کي د وخت د راډیو د کو چنیانو د پرو ګرام سره همکاري پیل کړه ترڅو ددي پرو ګرام کا کا منجاني سو ، بیا یې دراډیو دډرام او داستان د په برخه کي په کار پیل وکړ او دنورو رنګارنګ رولونو تر څنګ یې لومړني پر له پسي دا ستان د (سکیني او اومرا ) په نا مه د او مرا رول ولوبوی او همد راز لو مړنی (مستړ فلا وړ) چي داکمیډي ننداره یې را پیل کړه.

هنري جوړوني یې د تحصیل په دوران کي دنورو لنډو مستندو او هنري فلمونو تر څنګ تلویزیوني فلمونه لکه ( ستاسو په هیواد کي مګر خر نسته ) او ( دري شپي دیو زرو یو ي شپي ښځه ) د یاد وني وړ دي د سینما په بر خه کي دلنډو مستندو فلمونو د( وطن یا لنځی ) په ۱۹۸۳ کال او ( انقلاب دتکامل په پړاو کي ) ۱۹۸۴ کال کي، لوړ هنري فلمونه یې د( لحظه ها ) په ۱۹۸۴ (ارمان) ۱۹۸۸کال او تلویزیوني فلمونه لکه (کا غوشچي ) ۱۹۸۴، ( دلمر په لور ) ۱۹۸۲( افغانستان بیله شور ویانو ښځه ) مستند ۱۹۹۰ او ( دکونډي زوی ) لومړنی کمیډي سر یال په ۱۹۹۱ کال کي په درو بر خو کي د سینما مینه والو ته وړا ندي کړل او لو مړنی تلویزیوني تیا تر هم د ( رئیس ) او ( انجلي ) په نا مه دده د جوړونو ښځه دي.

په مهاجرت کي یې د( ګمراه) ۲۰۰۲، او ( هجرت ۲۰۰۴ هنري لوړ فلمونه دسینما د مینه والو لپاره د پر دي پر مخ را غلي دي .

وا حد نظري ۱۹۹۳کال را هیسي د خپلي کورنی سره په الما ن کي ژوند کوي.

د ۱۳۶۱ کال را هیسي یې دطنز په لیکلو پیل کړی او همدا راز تیوریکي مقالي او ژباړي د سینما په هکله ، فلمي لنډي سناریو ګا نې

لنډي ننداري ، وکو چنیا نو ته دا ستانونه او طنزونه په داخل او بهرکي چاپ سويدي.

دا وحد نظري دغه طنزي مجموعي تر او سه چاپ سويدي:

(اګر نديدي با ورکن ) ۱۹۹۷ (ګله را سه که يې ګوري ) ۱۹۹۷

(واه واه ګل سيب ) ۱۹۹۷ (کله وار دا با او کله وار... ) ۲۰۰۲

( ديګه چطور هستي ) ۲۰۰۲ ( يک به دنيا صد به آخرت ) **۲۰۰۵** ، ( اخر به يې ثنګه سی ) **۲۰۰۵** ، ( چهل وزير بيعقل ) ۲۰۱۱ (دافغانستان دسينما بشپړ تيايي بهير ) ۲۰۱۱

وا حد نظري لو مړی افغا ني سينما ګر دی چي دوارنا په بين المللي سينما فيستيوال کي د ژوري په صفت بلنه تر لا سه کوي.

وا حد نظري دا فغانستان دکلتور دغوره کارکونکي لقب په ۱۹۸۸ کال کي تر لا سه کړ او ډيري نوري مطبو عا تي اوهنري جا يزي يې او ديپلو مونه دهيواد په دننه او خا رجي فيستوالونو کي تر لا سه کړي دي. او په دي نژدي وختو کي يې په بهر کي دا افغا نستان د ژور نا لستانو د ټولني دده ( اګر نديدي با ور کن ) طنزي ټولګي ته دطنز غوره جا يزه ور کړي ده. او دده دطنزونو ټولګه اګر نديدی باور کن په پنتاګون کی هغه سرتيرو ته چی افغانستان ته را ځی ددرسی کتاب په توګه تدريس کيږی.

پو هندوی وا حد نظري د **۱۹۹۵** کال را هيسي دالمان دډايرکټرانو دټولني غړيتوب لري. او اولين افغان دی چی دهالنډ دهيواد يو پو ستی ټکټ دده په تصوير ښکلی سوی دی.